
بسم الله الرحمن الرحيم

# امام مهدي (ع)
# د سُنيانو له نظره

Download from:aghalibrary.cm

تاليف: سيد فياض حسين رضوي کشميري
ترجمه: انور شاهين خانخېل

# سریزه

## الف) د موضوع اهمیت:

له بده مرغه زمونږ په زمانه کښې بشریت له پراخه یرغل سره مخامخ شوے دے، ظلم واکمن دے او نابرابرۍ او تبعیضونه په هر ځاے کښې خپارۀ شوي دي. مستضعفین د مستکبرینو لخوا استعمارېږي او له دین او مذهب سره جنګ د دین د مخالفو او سېکولرو حکومتونو بنیادي نعره او شعار ګرځېدلے دے.

هر ځاے کښې چې مسلمان وغواړي د خپل حق تپوس وکړي نو د هغه د مظلومیت فریاد د هغۀ په مرۍ کښې غلے کوي. مسلمانان دیني ازادي نه لري، په اسلامي احکامو او شعائرو باندې له پابندۍ څخه منعې کولې شي. نن ټول د هغې ورځې په طمه دي چې دغه ناروا ممنوعیتونه،بندیزونه، تبعیضونه، ظلمونه،تشدد او د جهالت تیرې او تورتمونه ختم شي او نننۍ نړۍ په حقیقي معنو کښې په یوه «مدینۀ فاضله» بدله شي چې بشر پکښې خپلو جائزو غوښتنو ته ورسیږي.

زما اوس هم یاد دي چې په هندوستان کښې په رېل ګاډي کښې ناست وم چې له یو سېکهـ سره (چې په هندوستان له اعتقادي

نظره له هندوانو سره يو شان والے لري) آشنا شوم. هغه د ځان لپاره د يو كار روزګار پېدا كولو په تكل كښې ؤ او د همدې لپاره د انټريو لپاره نوي ډيلي ته روان ؤ. هغۀ په خبرو خبرو كښې ما ته وويل:

«تاسو مسلمانان عقيده لرئ چې يو كس به راځي او ظلمتونه او ناروا تبعيضونه به ختموي. ستاسو دا عقيده سمه ده او زۀ هم دې نتيجې ته رسېدلے يم. ځكه چې هر ځاے ته د كار لپاره تلے يم نو ځواب يې راكړے دے، سره له دې چې په مديريت كښې مې ډاكټريټ كړے دے. له ځان سره مې وويل چې داسې يو كس پكار دے دغه ناروا تبعيضونه ختم كړي، هغه څيزونه چې په دې اړه مې د مسلمانانو د عقائدو په باره كښې اورېدلي وو ذهن ته راغلل نو ځكه مې بيا له تاسو نه پوښتنه وكړه.» هو هر كس د يو داسې موعود په انتظار كښې دے چې دغه ټول مشكلات ختم كړي، له همدې ځايه د موضوع اهميت څرګندېږي. ځكه چې بحث د يو داسې شخصيت په باره كښې دے د هغۀ په ذريعې سره به په ټوله دنيا كښې عدل او انصاف قائميږي.

له بلې خو ځينې خلق دي چې تل د شكونو او شبهاتو په القاء كولو سره خلق ګمراه كوي او زمونږ د نظر وړ بحث كښې يې هم يو لړ شبهات مطرح كړي دي چې ورته ځواب وركول غواړوو.

ب) د بحث تاريخچه:

زمونږ بحث د خدا ے د ګران رسول حضرت محمد مصطفی (ص) دوران ته ګرځي، ځکه چې هغه حضرت ؤ چې د مهدويت مسئله يې په واضحه او څرګندده توګه وړاندې کړه او د حضرت امام مهدي (ع) د راتلو خبر يې ورکړ او وې فرمايل:

«زما له اهلبېتو څخه به يو سړے راڅرګندېږي چې زمکه به له عدل او انصافه ډکوي، هغه ډول چې له ظلم او جور څخه ډکه وي.»

د خدا ے له ګران رسول (ص) نه وروسته د هغه حضرت اهلبېتو او برحقو امامانو عليهم السلام هم تل د مهدي موعود (ع) په مسئله باندې تاکيد کړے دے او هر يو امام په يو شکل سره د هغهٔ ذکر کړے دے او همدارنګ ګڼ شمېر اصحابو (رض) له پېغمبر اکرم (ص) څخه د امام مهدي (ع) په حقله يو لړ احاديث نقل کړي دي چې نومونه يې په متعلقه کتابونو کښې راغلي دي.

بيا د اولې درجې نامتو شيعه عالمانو لکه صدوق، کليني، مفيد، طوسي، مرتضی او رضي رحمت الله عليهم وغيره مسئله په جدي توګه کړې ده. همدارنګ د سنيانو د صحاح سته او د احاديثو نورو کتابونو مولفانو په دې اړه په لسګونو حديثونه په خپلو صحاحو او د حديثونو په نورو کتابونو کښې نقل کړي

دي. په دې لړ کښې زياتره حديثونه د سنيانو يو امام ، احمد بن حنبل په خپل مسند کښې راوړي دي.
طبراني، ابونعيم، عباد بن يعقوب رواجني او د مستدرک خاوند حاکم په دې باره کښې زيات حديثونه راوړي دي، په دا ډول چې له دوي څخه ځينو د امام مهدي (ع) د احاديثو په اړه مستقل کتابونه ليکلي دي.
همدارنګ د سيوطي، ابن جوزي، ابن حجر، خوارزمي، شبلنجي ، متقي هندي او قندوزي په شان لويو سني عالمانو دا مسئله په پراخه توګه بيان کړې ده او حتی دې چارې ته يې مستقل کتابونه بيل کړي دي.
نو په دا ډول د بحث تاريخ خپله د خدا ے د ګران رسول (ص) د هغه حضرت د اهلبيتو (ع)، اصحابو (رض) او تابعينو (رح) زمانې ته ګرځي.

## ج) په امام مهدي (ع) باندې د عقيدې عموميت:

په دې باندې عقيده چې يو مصلح به راځي او ظلمت او تيرې به ختموي يوازې له شيعه، سني يا نورو مسلمانانو سره مخصوصه عقيده نه ده ، بلکه ټولو دينونو که هغه الهي دينونه وي او که غير الهي دغه حقيقت ته اشاره کړې ده.

د تورات په «عهد عتيق» کتاب کښې په  څو ځايونو کښې دا مسئله ذکر شوې ده.
مزامير داوود (د حضرت داود دعاګانې) کتاب، اشعياى نبي کتاب، بوئيل نبي کتاب او زکرياى نبي کتاب وغېره.
همدارنګ په انجيل کتاب (عهد عتيق) کښې دغې مسئلې ته اشاره شوې ده. انجيل متى، لوقا، يوحنا او رسالۀ پولس وغيره.
د زرتشتيانو په سرچينو کښې هم دغه حقيقت ته اشاره شوې ده او د هندوانو په مذهبي کتابونو کښې د مهدي موعود (ع) مقدس وجود او د هغه څرګندېدو ته زياتې اشارې شوې دي. لکه د هندوانو يو معتبر کتاب « اوپنيشادو»، «پاسک کتاب» چې د هندوانو په عقيده مقدس آسماني کتاب دے. او همدارنګ پاتيکل کتاب، وشن جوګ کتاب، ويد کتاب، دادتګ کتاب، ريګ ودا کتاب او شاکمون کتاب[1]
نو ځکه دا ويلې شوو چې په مهدي آخرالزمان (ع) باندې عقيده يوه نړيواله عقيده ده چې تل ورته د نړۍ مختلفو ملتونو او مذاهبو پاملرنه کړې او کوي به.

[1]- د دې تفصيل د سيد اسدالله هاشمي شهيدي کتاب « ظهور امام مهدي از ديدگاه اسلام و مذاهب و ملل جهان»

**د) هغه کتابونه چې د مهدويت په باره کښې ليکل شوي دي:**

د دغې موضوع په اړه زيات کتابونه ليکل شوي دي او د علامه عسکري د وېنا له مخې د هيڅ يو امام په باره کښې د امام مهدي (ع) هومره کتابونه نه دي ليکل شوي.

شيعه علماو او پوهانو د امام مهدي (ع) په باره کښې په تېرو او اوسنيو وختونو کښې زيات کتابونه ليکلي او لا به ليکي.

د سنيانو لخوا هم په دې اړه زيات کتابونه ليکل شوي دي. لکه د ابونعيم اصفهاني «اربعين حديث» کتاب، د عباد بن يعقوب رواجني «اخبار مهدي» کتاب، د سيوطي «علامات مهدي» کتات، «العرف الوردي في اخبار المهدي» کتاب، د ابن حجر عسقلاني «القول المختصر في علامات المهدي المنتظر»، د متقي هندي «البرهان في ما جاء في صاحب الزمان» کتاب، د کُنجي شافعي «البيان في اخبار صاحب الزمان» کتاب، د مرعي بن يوسف مقدسي حنبلي « فرائد فوائدالفکر في الامام المهدي المنتظر» کتاب، د يوسف بن يحيى مقدسي شافعي، «عقائدالدرر في اخبار صاحب الزمان» کتاب او د عبدالله بن محمد الصديق الحسيني «المهدي المنتظر» کتاب.

له دې نه علاوه هغه کتابونه چې په دې وروستيو وختونو کښې په دې اړه سني علماو ليکلي دي.[1]

سيد فياض حسين رضوي کشميري
کشمير هندوستان

[1] - د سيد هادي خسرو شاهي «مصلح جهاني» کتاب ته رجوع وکار ده.

# وړومبی باب

# د امام مهدي (ع) په باره کښې مفسره او مؤوله آيتونه

په شيعه کتابونو کښې د حضرت امام مهدي (ع) په حقله زيات آيتونه تفسير او تاويل شوي دي، په دا ډول چې حجت الاسلام والمسلمين کوراني د «معجم احاديث الامام المهدي» پينځم ټوک دې چارې ته بيل کړے دے.
خو د سنيانو په کتابونو په تېره بيا د هغوي په تفاسيرو کښې د امام مهدي (ع) په باره کښې د قرآن مجيد په تفسيرونو کښې د ګوتو شمېر آيتونه تفسير او تاويل شوي دي. البته همدغو شمېر آيتوتو د امام مهدي (ع) حقانيت ثابت کړے دے او په هغوي باندې حجت تماموي.

وړومبے آيت:

«هُوَ الّذي أرسَلَ رَسولَهُ بِالهُدیٰ وَدینِ الحَقّ لِیُظهِرَهُ عَلَی الدّینِ كُلِّهِ ولَو كَرِهَ المُشرِكونَ»[1]

« هغه هغه څوک دے چې خپل رسول يې په هدايت او حق دين سره ولېږۀ، چې هغه په ټولو دينونو باندې غالب کړي، که څه هم مشرکان ترې کرکه ولري.»

په دې اړه چې په «لِیُظهِرَهُ» کښې ضميرونه څه ته ګرځي، دوه امکانه لري.[2]

الف) د خدا ے ګران رسول (ص) ته ګرځي.

ب) (اسلام) حق دين ته ګرځي.

په څو وجوهاتو دويم امکان صحيح ښکاري.

وړومبۍ وجه) ظهور او د آيت سياق په دې باندې دلالت کوي چې د هاء ضمير حق دين ته ګرځي، ځکه چې په تېر آيت کښې خدا ے پاک فرمائي:

«مشرکين غواړي د خدا ے نور په خپلو خولو سره غلے کړي خو خدا ے له دې نه بغېر څه نه غواړي چې خپل نور کامل کړي که څه هم کافران ترې کرکه لري»[3]

[1] - سورۀ توبه ۳۳ آيت، سورۀ صف ۹ آيت او په لږ فرق سره د سورۀ فتح .

[2] - زادالمسير، ابن جوزي ۳ ټوک ۲۹۰ مخ.

[3]- سورۀ توبه ۲۳ آيت

او هغه نور چې کافران او مشرکان يې غلے کول غواړي له اسلام او حق دين نه بغير بل څه نه دي.

مشهور سني مفسر محمد علي الصابوري هم دغه ټکي ته اشاره کوي او وائي: يُطْفِئُوا نُورَ اللّٰهِ اراد به نورالاسلام[1] غواړي د خدا ے نور يعنې اسلام غلے کړي.

نو ځکه خدا ے پاک د بحث وړ آيت کښې هغوي ته جواب ورکوي چې اسلام نه يوازې نه ختميږي بلکه په ټولو دينونو به غالب کيږي او پېغمبر اکرم (ص) او د هغه حضرت امت ته زيرے او خوشخبري ورکوي چې بالاخره کاميابي او غلبه هغوي لره ده او همدغه غلبه او تسلط د دې سبب کيږي چې مشرکين پرې خفه کيږي.

له دې نه علاوه د خدا ے پاک په نزد مهم دين اسلام د ے چې د خدا ے ګران رسول (ص) يې د تبليغ او ترويج لپاره په رسالت مبعوث شو. حقيقت دا د ے چې د پېغمبر اکرم (ص) مقصد اسلام د ے، نو ځکه د بحث وړآيت کښې پکار دي د اسلام د غلبې خبره وي.

دويمه وجه) اکثرو سني مفسرانو د هاء ضمير حق دين او اسلام ته ګرځولے د ے[1] او مونږ هم د سني اکثريت نظر بيان کړوو.

[1] -صفوة التفاسير ۱ ټوک ۵۳۲ مخ

دريمه وجه) د سني علماو د روايتونو او اقوالو شتون[2] دا ښودنه کوي دغه آيت د امام مهدي (ع) په حق کښې دے، ځکه چې هغه حضرت به په نورو دينونو باندې غلبه مومي.

نو اوس چې د ضمير مرجع معلوم شو، نو د دغې غلبې چې په آيت کښې يې ذکر شوے دے معنا څه ده؟ آيا تسلط د حجت او دليل په ذريعې سره دے يا د کاميابۍ او غلبې په ذريعې سره ؟ نو معلوميږي چې دغه تسلط د غلبې او کاميابۍ په ذريعې سره دے.

ستر سني عالم فخر رازي دغه خبره ذکر کړې ده او وائي:

يوه شئ چې په نورو باندې تسلط يا په حجت او برهان سره، يا په زياتوالي او پراخوالي سره او يا په غلبې او کاميابۍ سره دے او په دې وجه چې الهي زيرے له راتلونکي وخت سره تعلق لري نه اوس وخت سره، او له بلې خوا په حجت او برهان سره د دې دين څرګندوالے په ټولو وختونو کښې معلوم دے، نو ځکه پکار دي تسلط په لا غوره معنا په غلبې سره اسلام وي.[3]

[1] - الجامع الاحکام القرآن، قرطبي ۱۱ ټوک ۴۸ مخ، الکشاف زمخشري ۴ ټوک ۹۹ مخ، احکام القرآن جصاص ۵ ټوک ۳۳۴ مخ، تفسير ابن جزي ۲۵۲ مخ، درالمنثور سيوطي ۴ ټوک ۱۷۵ مخ او داسې نور تفسيرونه.

[2] - تفسير قرطبي ۸ ټوک، ۱۲۱ مخ او ۱۱ ټوک۴۸ مخ، تفسير فخر رازي ۱۲ ټوک ۴۰ مخ، نورالابصار ۲۲۸ مخ، الاخبار في اخبار صاحب الزمان ۲۵ باب ۱۵۲ مخ.

[3] - تفسير کبير فخر رازي ۱۲ ټوک ۴۰ مخ.

البته په نورو دینونو باندې د اسلام غلبه د خدا ے د ګران رسول (ص) په زمانه کښې عملي شوې وه او تر ټولو غوره دلیل یې د نورو دینونو د پیروکارو لخوا مسلمانانو ته د جزیې ادا کول دي. او دا چاره په هغه زمانه کښې د اسلام د شان او قوت ښودنه کوي، خو افسوس چې هغه کسان چې پرون یې مسلمانانو ته جزیه ورکوله ، نن یې د مسلمانانو مقدساتو ته لاس غزولے دے او له هرې خوا یې مونږ محاصره کړي او تر دباو لاندې راوستي یوو. دا په داسې حال کښې دي چې د نورو دینونو پروګرامونه او تبلیغات زیات پراخه او مضبوط شوي دي.

که دا عقیده لروو چې قرآن مجید د نن او راتلونکو ورځو لپاره غوره دے، نو څه رنګ په نورو دینونو باندې د اسلام کامیابي ته له اوسنیو حالاتو سره مطابقت وکولے شوو، په داسې حال کښې چې مسلمانان هرې خوا نه مخ په زیاتېدو دباوونو په محاصره کښې دي. نو مسلمانان د هغه الهي زیري د پوره کېدو په طمه دي چې د اسلام شان او شوکت په دنیا باندې غالب شي.

د ابن جزي په تفسیر کښې داسې راغلي دي:

« او د هغهٔ تسلط، یعنې هغه به د ترټولو اوچت او قوت لرونکي دین په توګه وګرځوي له مشرق نه تر مغربه غلبه پیدا کړي.»[1]

---

[1] - تفسیر ابن جزي ۲۵۲ مخ

او دا هم هغه روايت دے چې ځینو مفسرینو له ابوهریره نه نقل کړے دے[1] (او د سنيانو له نظره معتبر دے.)
په تفسير درالمنثور کښې داسې راغلي دي:
سعيد بن منصور او ابن المنذر او بيهقي په خپل سنن کښې له جابر څخه د «لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّه» په باره کښې روايت راوړے دے چې وې ويل: «دا به پوره نه شي مګر دا چې يوازې اسلام به پیروکار ولري، نه یهودي او نه مسیحي.»[2]
لکه قرطبي وائي:
سدي ويلي دي: «دغه د دين څرګندېدنه، د امام مهدي (ع) د خروج په وخت ده، چې څوک به پاتې نه شي مګر د اسلام پیروکار به شي.»[3]
په همدې اړه مقداد بن اسود وائي:
د خدائے له ګران رسول (ص) نه مې واورېدل چې وې فرمايل: لا يَبقى عَلى ظَهرِ الأرضِ بَيتُ مَدَرٍ و لا وَبَرٍ إلاّ أدخَلَ اللّه عليهِم كَلِمَةَ الإسلامِ بِعِزِّ عزيزٍ و بِذُلِّ ذَليلٍ ، إمّا يُعِزُّهُم اللّه فَيَجعَلُهُم مِن أهلِها فَعزوا بِه، وَ اما يُذِلُّهُم فَيَدِينُونَ لَها «د زمكې په سر به د

---

[1] - تفسير طبري ۱۴ ټوک ۲۱۵ مخ، ۱۶۲۴۵ شمېره، تفسير کبير فخر رازي ۱۲ ټوک ۴۰ مخ، تفسير قرطبي ۸ ټوک ۱۲۱مخ، درالمنثور ۴ ټوک ۱۷۲ مخ.
[2] - درالمنثور ۴ ټوک ۱۷۵ مخ.
[3] - تفسير قرطبي ۸ ټوک ۱۲۱ مخ، تفسير کبير ۱۲ ټوک ۴۰ مخ.

خښتو او ختهو هیڅ یو کور، جونګړه او خېمه پاتې نه شي مګر دا چې خدا ے پاک د اسلام مبین دین ورته داخل کړي، یا به په سرلوړۍ یا ذلت او خوارۍ سره اسلام قبول کړي او خدا ے پاک به هغوي سرلوړي کړي او یا دا چې مجبوراً به اسلام ته د تعظیم سر ټیټ کړي.[1]

اوس چې په دې پوه شوو چې دغه تسلط په نورو دینونو باندې د غلبې او کامیابۍ په شکل کښې او په پراخه توګه دے نو دا پوښتنه رامنځته کیږي چې دغه غلبه به د چا لخوا او په کومه زمانه کښې عملي کیږي؟

دوه امکانات شته[2]؛ د حضرت عیسی (ع) لخوا د هغهٔ د نازلېدو په وخت، د حضرت امام مهدي (ع) لخوا د هغهٔ د څرګندېدو په وخت.

په څو دلائلو سره دویم امکان صحیح دے

وړومبے دلیل: د سني علماو اقوال. لکه قرطبي وائي: سدي ویلي دي: «دغه د دین اظهار د مهدي (ع) د خروج په وخت دے چې څوک به پاتې نه شي مګر دا چې د اسلام پېروکار شي.»[3]

---

[1] - مستدرک حاکم ۴ ټوک ۴۷۲ مخ ۸۳۲۴ حدیث

[2] - زاد المسیر ۳ ټوک ۲۹۰ مخ.

[3] - تفسیر طبري ۱۴ ټوک ۲۱۵ مخ حدیث ۱۶۶۴۵۵، تفسیر کبیر، ۱۶ ټوک ۴۰ مخ، تفسیر قرطبي ۸ ټوک ۱۲۱ مخ، درالمنثور ۴ ټوک ۱۷۶ مخ

سعيد بن جبير د «لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَو كَرِهَ الْمُشرِكونَ» آيت په باره کښې وائي:

«هغه د بي بي فاطمې له اولاد څخه مهدي دے.»[1]

په تفسير قرطبي کښې داسې راغلي دي:

فروى أن جميع ملوك الدنيا كلها أربعة : مؤمنان وكافران ، فالمؤمنان سليمان بن داود وإسكندر (ذي القرنين)، والكافران نمرود و بختنصر ، وسيملكها من هذه الأمة خامس لقوله تعالي : "ليظهره علي الدين كله" [ التوبة : 33 ] وهو المهدي «روايت شوے دے چې د ټولې دنيا باچايان څلور تنه وو، دوه تنه مومنان وو او دوه تنه کافران. هغه دوه تنه مومنان سلېمان بن دواؤد او سکندر وو او دوه کافران نمرود او بختنصر وو. او نزدې ده چې پينځم هم د حضرت محمد (ص) له امت څخه د دې دنيا مالک شي. د خدا ے پاک د دې فرمان په دليل: «لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ» او هغه مهدي (ع) آخرالزمان دے.[2]

هغه په دوام کښې هغو کسانو ته چې وائي مهدي هم هغه عيسی دے محکم جواب ورکوي.

---

[1] - البيان في اخبار صاحب الزمان **۲۵** باب ۱۵۶ مخ.

[2] - تفسير قرطبي ۱۱ ټوک ۴۸ مخ، البته د له پيغمبر اکرم څخه حديث راوي ابن عباس دے، تاريخ ابوالفرج الجزري، عقدالدرر ۱۹ او ۲۰ مخونه البته په عقدالدرر کښې له مهدي له نوم نه بغير ذکر شوے دے.

«په دې اړه چې د خدا ے د ګران رسول (ص) له اولاد څخه امام مهدي (ع) به زمکه له عدل و انصافه ډکوي لکه چې مخکې له ظلم و ستمه ډکه وي په سني احاديثو کتابونو کښې زيات روايتونه موجود دي.»[1]

دويم دليل: که څه هم ل نقلي دليل نه وروسته د عقلي دليل لپاره نور څه ځا ے نه پاتې کيږي خو د لا زيات اطمينان لپاره به زياته کړوو چې دا امکان نه لري چې دغه کاميابي به د حضرت عيسى (ع) لخوا وي ځکه چې مونږ عقيده لروو چې پېغمبراکرم (ص) ترټولو آخري او ترټولو افضل د ے او په ټولو انبياو عليهم السلام باندې اوچت او غالب د ے. آيا دا خبره عاقلانه ده چې حضرت عيسى (ع) دې راشي او د اسلام مبين دين دې کامل او اتمام او کاميابۍ ته ورسوي او هغه دې په ټولو دينونو باندې غالب کړي، په داسې حال کښې چې د اسلام قدرمن پېغمبر (ص) تر ټولو آخري او ترټولو افضل د ے.

اسلام به د خدا ے د ګران رسول (ص) د يو جانشين او د هغه حضرت د يو فرزند حضرت امام مهدي (ع) په ذريعې سره په نورو دينونو باندې غلبه مومي او هيڅ مشکل به هم نه رامنځته کيږي، ځکه چې جانشينان د اسلام ساتونکي او د هغه

[1] - فوائد الفکر له ۲۱ نه تر ۲۴ مخ پورې، عقد الدرر في اخبار صاحب المنتظر له ۳۲ نه تر ۴۱ مخ پورې.

تکمیلوونکي وي. هم هغه اسلام چې پېغمبراکرم (ص) یې لپاره مبعوث شو.

ابن جوزي د حضرت امام مهدي (ع) په امامت کښې د حضرت عیسی (ع) د نمونځ ادا کولو په اړه وائي:

«که حضرت مهدي (ع) په حضرت عیسی پسې نمونځ ادا کړي نو دا په دوو دلیلونو جائزه چاره نه ده. یو دا چې د هغه حضرت په حضرت عیسی پسې نمونځ کول هغه له امامته خارجوي او ماموم او تابع کوي یې. دویم دا چې د خدا ے ګران رسول (ص) فرمائي: لانبي بعدي، او له پېغمبراکرم (ص) نه پس ټول شریعتونه نسخ شوي دي. حال دا چې که حضرت مهدي (ع) په حضرت عیسی پسې نمونځ وکړي نو نوموړے حدیث شکمن کیږي.»[1]

همدغه استدلال دلته هم رامنځته کیږي. نو ځکه په آخري زمانه کښې په نورو دینونو باندې دغه غلبه او کامیابي به د خدا ے د ګران رسول (ص) د فرزند حضرت مهدي (ع) په ذریعې او د حضرت عیسی (ع) په مرستې او ملګرتیا سره عملي کیږي.

دویم آیت:

---

[1] - تذکرة الخواص ۳۶۴ مخ.

لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ [1]
«په دنيا کښې د هغوي ګټه (يوازې) رسوائي ده او په آخرت کښې ستر الهي عذاب.»
دغه آيت هم په سني تفسيرونو کښې د حضرت امام مهدي (ع) په پاڅون او د کفاروو په رسوائۍ تفسير او تاويل شوے دے.
سني امام المفسيرين طبري د سدي له قوله د «لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ.....» أيت په باره کښې داسې وائي:
أما خزيهم فی الدنيا فانهم اذا قام «المهدی» و فتحت القسطنطينيه، قتلهم، فذلک الخزی.، «خو د هغوي رسوائي به د مهدي (ع) د پاڅون په وخت، د قسطنطنيه د فتح کېدو په وخت او کله چې مهدي (ع) هغوي ووژني عملي کيږي.»[2]
او قرطبي هم په خپل تفسير کښې د قتاده او سدي له نقل داسې ليکي:
الخزی لهم فی الدنيا قيام المهدی و فتح عموريه و روميه و قسطنطينيه و غير ذالک من مدتهم علی ما ذکرنا فی کتاب التذکره، «د مهدي (ع) پاڅون په دنيا کښې د هغوي لپاره رسوائي ده. او د عموريه، روم، فسطنطنيه او نورو ښارونو فتح

[1] - سورۀ بقره ۱۱۴ آيت او سورۀ مائده ۳۳ آيت.
[2] - تفسير طبري ۱ ټوک ۲۹۹ او ۱۵۱۸ مخونه.

هم د هغه څه له مخې چې مونږ په التذکره کتاب کښې يې ذکر کړے دے.» [1]

او همدارنګ ابن کثير د سدي، عکرمه او وائل بن داؤد په نقل سره وائي:

« هغوي (په جوماتونو کښې د خدا ے له ذکر څخه د منعې کوونکو او د جوماتونو د ړنګوونکو لپاره) رسوائي د مهدي (ع) په قيام او خروج تفسير کړ.»[2]

شوکاني هم په خپل تفسير کښې ليکي:

«په دنيا کښې د هغوي رسوائي د مهدي (ع) د پاڅون، د قسطنطنيه د فتح او د مهدي (ع) لخوا د هغوي د وژلو په وخت رامنځته کيږي.»[٣]

سيوطي هم په خپل تفسير کښې پاس ورکړې شوې ليکنه نقلوي.[۴]

په دا ډول سترو سني مفسيرينو د بحث وړ آيت د حضرت امام مهدي (ع) په آخرالزمان کښې د هغه حضرت د پاڅون په اړه تفسير کړے دے او د هغو کسانو لپاره يې چې په مهدويت

[١] - تفسير قرطبي ۲ ټوک ۷۹ مخ.
[٢] - تفسير ابن کثير ۱ ټوک، ۱۶۲ مخ.
[٣] - فتح القدير ۱ ټوک ۱۳۲ مخ.
[٤] - درالمنثور ۱ ټوک ۱۰۸ مخ.

باندې اعتراض کوي یا په دې اړه له شک او تردید سره مخامخ شوي دي وضاحت کړے دے.

دریم آیت:
وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُونِ ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ [1]
«هغه د قیامت په ورځ د پوهې سبب دے، هیڅکله پکښې شک مه کوئ او زما پیروي کوئ چې دا نیغه لاره ده.»
کُنجي شافعي په البیان کښې د نوموړي آیت په باره کښې وائي:
«مقاتل بن سلیمان او هغو مفسرینو چې له هغهٔ څخه یې پیروي کړې ده د «وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ...» آیت په تفسیر کښې ویلي دي چې هغه مهدي دے چې په آخري زمانه کښې به خروج کوي او د هغهٔ له خروجه وروسته د قیامت رامنځته کېدل او د هغه نښې نښانې وي.»[2]
همدغه مضمون ابن حجر په الصواعق محرقه کښې نقل کړے دے [3] او همدارنګ په اصعاف الراغبین کښې دغه مضمون په څرګنده توګه لیدل کیږي. [4]

---

[1] - سورهٔ زخرف ۲۱ مخ.
[2] - البیان في الخیار صاحب الزمان ۱۵۲ مخ.
[3] - الصواعق المحرقه ۱۲۲ مخ.
[4] - اصغاف الراغبین چې د نورالابصار په حاشیه کښې چاپ شوے دے، ۱۵۳ مخ.

دغه معنا د بغوي، زمخشري، رازي او قرطبي په شان مفسرينو له اقوالو سره چې آيت يې په آخرالزمان کښې د حضرت عيسی بن مريم د نازلېدو په اړه تفسير کړے دے څه اختلاف نه لري.[1]
ځکه چې له آسمانه د حضرت عيسی (ع) راکوزېدل به د حضرت امام مهدي (ع) له ظهور او پاڅون سره په يو وخت وي.

څلورم آيت:
وَلَوْ تَرَى إِذْ فَزِعُواْ فَلَا فَوْتَ وَأُخِذُواْ مِن مَّكَانٍ قَرِيبٍ[2]
«که وويني چې کله د هغوي غړونه اوچت شي خو نه شي کولې (الهي عذابه وتښتي او هغوي له نزدې ځايه (چې حتی اميد يې نه لري) ونيسي، (د هغوي په بې وسۍ به حېرانه شې.)»
دا آيت د حضرت امام مهدي (ع) د لښکر په لاسو د سفياني فوځ د ماتې او په بېداء نومې سيمه کښې په زمکه کښې د سفياني او د هغه د ملګرو د ننوتلو په اړه تفسير شوے دے.
سيوطي په درالمنثور کښې وائي:
« يخرج رجل يقال له السفياني في عمق دمشق و عامة من يتبعه من کلب فيقتل حتي يبقربطون النساء، و يقتل الصبيان فتجمع

[1] - معالم التنزيل ۴ ټوک ۴۴۴ مخ ش ۲۱ ، الکشاف ۴ ټوک ۲۲ مخ، تفسير فخر رازي ۲۷ ټوک ۲۲۲ مخ، تفسير قرطبي ۱۲ ټوک ۱۰۵ مخ.
[2] - سورۀ سباء ۵۱ آيت

لهم قيس فيقتلها حتي لا يمنع ذنب تلعة و يخرج رجل من اهل بيتي في الحرم فيبلغ السفياني فيبعث اليه جندا من جنده فيهزمهم فيسير اليه السفياني بمن معه حتي اذا جاز ببيداء من الارض خسف بهم فلا ينجو منهم الا المخبر عنهم. په دمشق کښې به يو سړے خروج کوي چې نوم يې سفياني دے، د هغهٔ ټول پېروکار به سپي خويه کسان، يا به له بنی کلب قبيلې څخه وي، هغه به د خلقو په قتل عام لاس پورې کوي ان تردې چې د ښځو خېټې به څيري کوي او ېکښې به ماشومان وژني، بيا به قېس نومې يو کس له هغهٔ سره د جنګ لپاره يوه ډله برابره کړي او د سفياني دومره زيات پېروکار به ووژني.....

بيا به زما له اهلبېتو څخه يو سړے خروج وکړي او خبر به يې سفياني ته ورسيږي. هغه سړے به د جنګ لپاره خپل لښکر د سفياني د لښکر لوري ته ليږي او هغه لښکر ته به ماتې ورکوي او تېښتې ته به يې مجبوروي. بيا به سفياني خپله له خپلو ملګرو سره د هغهٔ لوري ته روان شي خو چې کله د بېداء نومې زمکې ته ورسيږي نو هغوي ټول به زمکه ځان ته راکاږي او يوازې څو لږ کسان به د دغې پېښې د اطلاع ورکولو لپاره نجات بيا مومي.»[1]

[1] -درالمنثور ۵ ټوک ۲۴۱ مخ.

آلوسي د دې په وضاحت سره چې زما له اهلبیتو څخه هغه سړے مهدي دے وائي:

«و قيل فى آخرالزمان حين يظهر المهدى و يبعث الى السفيانى اليه حتى اذا كان ببيداء من الارض خسف به و بمن معه فلا ينجو منهم الا المخبر عنهم، ويل شوي دي چې دغه ماتې او عذاب به په آخري زمانه کښې رامنځته کيږي.(آلوسي ټول اقوال د قيل په صورت کښې راولي) کله چې حضرت مهدي (ع) ظهور کوي او يو لښکر به د سفياني د لښکر لوري ته ليږي او هغوي ته به ماتې ورکوي. بيا به سفياني د هغۀ لوري ته ورځي تر دې چې بيداء نومې سيمې ته به ورسيږي او هغه او ملګري به يې په زمکه کښې غرق شي او له هغو نه به څوک بچ پاتې نه شي مګر يو کس چې د عذاب او زمکه کښې د هغوي د ننوتلو خبر ورکړي.»[1]

د غاية المامول خاوند په دې حقله وائي:

«تر اوسه مې نه دي اورېدلي چې يو لښکر دې په زمکه کښې ننوځي، که داسې شوې وې نو لکه د اصحاب فيل (د هاتهيانو د خاوندانو) د داستان غوندې به دغه واقعه څرګنده او مشهوره کېده.»[2]

[1] -روح المعاني ۲۲ ټوک ۱۵۷ مخ.

[2] - غاية المامول شرح التاج الجامع الاصول ۵ ټوک ۳۴۱ مخ.

نو بس په زمکه کښې د امام مهدي (ع) د دښمنانو ننوتل حتمي خبره ده، که هغه په نزدیو کښې وي او که لرې موده کښې وي او دا هغه وخت دے چې دروغ ویوونکي او هغه کسان چې د حضرت امام مهدي (ع) واقعات پټوي له زیانکارانو څخه به وي.

پینځم آیت:
وَ لَقَدْ كَتَبْنَا فِى الزَّبُورِ مِن بَعْدِ الذِّكْرِ أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِىَ الصَّلِحُون[1]
«او په زبور کښې مو له ذکر(تورات) نه وروسته ولیکل چې غوره او صالح بندګان به مې په زمکه کښې (د حکومت) وارثان شي.»
آلوسي په آیت کښې د الارض کلمې په اړه له ابن عباس څخه داسې نقلوي:
«له زمکې نه مراد دنیا ده چې مومنان به یې وارثان شي او وربانديې به تسلط ولري. دا د کلبي قول هم دے او هغهٔ (کلبي) د خپل قول د تائید لپاره «لیستخلفنم في الارض» (هغوي په زمکه باندې خلیفه ګان ګرځوي) آیت د شاهد په توګه راوړي.
بیا له مسلم، ابوداؤد او ترمذي څخه او هغوي له ثوبان څخه داسې نقلوي:

[1] - سورۂ انبیاء ۲۱ آیت.

إن الله زوى لي الأرض فرأيت مشارقها ومغاربها، وإن أمتي سيبلغ ملكها ما زوى لي منها [و هذا وعد منه تعالى باظهار الدين و اعزاز اهله و استيلائهم على اكثرالمعمورة التي تكثر ترددالمسافرين اليها و، الا فمن الارض يطاهاالمومنون كالارض الشهيرة الدنيا الحديدة و ابالهند الغربي][1]

ثوبان وائي: «د خدا ے ګران رسول (ص) وفرمایل: خدا ے زمکه په یو ځا ے زما لپاره راغونډه کړه او ما یې مشرق او مغرب ولیدۀ او ومې لیدۀ چې زما امت به ډېر زر د هغې مالک جوړ شي.[او دا د اسلام د غلبې او د دغه دین د خاوندانو د قدرمن کېدو او په هغو زیاترو زمکو باندې چې مسافر پرې زیات تګ راتګ لري (ځکه چې داسې نورې زمکې هم شته چې کله کله مسلمان پرې قدم ایږدي، لکه نوې دنیا (امریکه او اروپا او لویدیځ هند) د هغوي د تسلط موندلو په اړه د خدا ے وعده ده.] خو د هغوي باچائي د مسلمانانو نه ده.»[2]

که څه هم آلوسي د مسلمانانو د موعود حکومت په دومره اندازه محدود کړ ے د ے خو داسې ښکاري د خدا ے د ګران رسول (ص) حدیث مبارک په راتلونکو وختونو کښې په ټولې زمکې باندې د مسلمانانو په تسلط دلالت لري.

[1] -روح المعاني ۱۷ ټوک ۱۰۴ مخ.
[2] - د عبارت دا برخه کېدې شي خپله د الوسي لخوا وي.

آلوسي بيا په دوام کښې وائي:
«و إن قلنا بأن جميع ذلک یکون فی حوزة المؤمنین فی ايام المهدی رضی الله تعالی عنه و نزول عیسی(ع) فلاحاجة الی ما ذکر (سابقاً)، که ووایو دا هر څه (یعنې د اسلام او مسلمانانو غلبه) د مهدي رضي الله عنهم (دحکومت) او د عیسی (ع) د نزول په ساحه او دوران کښې عملي کیږي نو بس بیا هغو څیزونو ته چې مخکې مو ذکر کړل ضرورت نشته.»[1]

شیخ منصور علي ناصف په خپل کتاب کښې وائي:
«اشتهر بین العلماء – سلفاً وخلفاً – أنّه فی آخر الزمان لابدّ من ظهور، رجل من أهل البیت مسمّی المهدي یستولی علی الممالک الإسلامیّة، ویتّبعه المسلمون، و یعدل بینهم، ویؤیّد الدین، د ننني او تېر ټولو علماو او پوهانو ترمېنځ مشهوره ده چې په یقیني توګه به په آخره زمانه کښې د پېغمبراکرم (ص) له اهلبېتو څخه یو سړے راڅرګندیږي چې په ټولو اسلامي هېوادونو به مسلط کیږي او ټول مسلمانان به له هغهٔ څخه پېروي کوي او د هغوي تر مېنځ به عدل او انصاف جاري کوي او دین به مضبوطوي.»[2]

---

۱ - روح المعاني ۱۷ټوک۱۰۴ مخ
۲ -التاج الجامع للاصول ۵ ټوک ۳۴۱ مخ (په لمنلیک کښې)

په دا ډول د مسلمانانو دغه غلبه،عزت او عظمت که څه هم د خدای د ګران رسول (ص) په زمانه کښې عملي شوی ؤ خو په اوسنۍ زمانه کښې به د حضرت امام مهدي (ع) په ظهور سره عملي کیږي.

# دويم باب
# د پېغمبراکرم (ص) احاديث او د علماؤ اقوال

جابر بن سمره د خدا ے له ګران رسول (ص) څخه نقلوي چې وې فرمايل:
«يکون من بعدی اثنا عشر خليفة کلّهم من قريش، له ما نه وروسته به دولس تنه خليفه ګان وي چې هغوي ټول له قرېشو څخه دي.»[1]
دغه حديث په مختلفو طريقو البته په بيله بيلو تعبيرونو سره نقل شوے دے. په دا ډول چې په متواتر والي کښې يې څه شک باقي نه پاتې کيږي.
نو پکار دي په دې ځانونه پوه کړوو چې له دغو دولسو تنو نه مراد کوم کسان دي؟

[1] - صحيح بخاري ۹ ټوک ۸۱ مخ باب استفلاف، صحيح ترمذي ۴ ټوک کتاب لفتن باب ماجاء فی الخفاء ۵۰۱ مخ، صحيح مسلم ۲ ټوک کتاب الاماره وړومبے باب ۱۲۱ او ۱۲۲ مخونه، سنن ابوداؤد ۲ ټوک کتاب المهدي ۴۲۱ مخ، مستدرک حاکم ۳ ټوک کتاب المعرفة الصحابه، ۶۱۷ مخ او مسند احمد بن حنبل ۵ ټوک له ۸۶ نه تر ۱۰۸ پوري مخونه. (زياتره حديثونه يې نقل کړي دي)

مراد ترې د بني اميه ؤ خليفه ګان نه شي کېدې ځکه چې هغوي ثوارلس تنه وو ، نه دولس او د هغوي نومونه د مسعودي د مروج الذهب کتاب له مخې په دا ډول دي:

معاويه بن ابوسفيان، يزيد بن معاويه، معاويه بن يزيد ، مروان بن حکم، عبدالملک بن مروان، وليد بن عبدالملک، سليمان بن عبدالملک، عمر بن عبدالعزيز، يزيد بن عبدالملک،هشام بن عبدالملک، وليد بن يزيد بن عبدالملک، يزيد بن وليد، ابراهيم بن وليد او مروان محمد الحمار.[١]

مراد يې يقيناً د بني عباسو خلفاء هم نه دي ځکه چې د هغوي شمېر ۳۷ تنه جوړېږي او له دوي نه بغېر هغه کسان چې خلافت يې کړے دے شمېر يې دولسو ته نه رسيږي او هغوي په دا ډول دي:

ثلور خلفاء ورپسې امام حسن (ع) او بيا عبدالله بن زبېر.

نو پکار دي دغه دولس تنه معلوم کړوو. ځکه چې د خدا ے ګران رسول (ص) هسې فضول خبره نه ده کړې او د معمې بپانول يې هم نه غوښتل.

[١] - مروج الذهب مسعودي ۳ ټوک له ۱۱ نه تر ۲۵۹ پورې مخونو کښې.

شیعه مسلمانان عقیده لري چې د خدا ے د ګران رسول (ص) مراد دولس امامان (یعنې امام علي او د هغهٔ یولس فرزندان علیهم السلام) دي.

سلیمان قندوزي حنفي له ځینو محققینو څخه داسې نقلوي:

«احادیث په دې خبره دلالت کوي چې له پېغمبراکرم (ص) نه پس به دولس خلفاء وي چې په مختلفو طریقو سره نقل شوي او د شهرت حد ته رسېدلي دي او د دې خبرې امکان نشته چې د پېغمبراکرم (ص) حدیث له اصحابو څخه خلیفه ګانو باندې حمل کړوو، ځکه چې هغوي له دولسو تنو نه کم وو. او همدارنګ امکان نه لري چې ترې اموي خلفاء مراد واخلو ځکه چې هغوي له دولسو تنو زیات وو او ډېر ظلمونه یې هم کړي دي، البته عمر بن عبدالعزیز ترې متثنی د ے....

او همدارنګ ممکنه نه ده چې عباسي خلیفه ګان ترې مراد واخېستې شي ځکه چې هغوي هم له دولسو نه زیات وو او د خدا ے پاک دا فرمان چې فرمائي: ((قُلْ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَى)) او د کساء حدیث خیال یې و نه ساتلو. نو پکار دي له حدیث نه مراد د خدا ے د ګران رسول (ص) له عترت او اهل بېتو څخه دولس امامان واخېستل شي، ځکه چې هغوي د خدا ے په نزد د علم، جلالت، بزرګۍ تقوا، پرهېزګارۍ، حسب نسب او کرم له نظره په خپلو معاصرینو باندې برتري لري او د

هغوي علم هم د هغوي د پلار نيكونو په ذريعې سره د خدا ے ګران رسول (ص) ته رسيږي او دغه علم يې له پېغمبراكرم (ص) څخه په لدنيه وراثت كښې ترلاسه كړے د ے.»

قندوزي حنفي له دې وروسته وائي چې د ثقلېنو حديث او نور حديثونه په دې معنا دلالت كوي.[1]

مونږ خپله د خدا ے له ګران رسول (ص) څخه يو شمېر احاديث لروو چې په دغه حديث كښې د دولسو خلفاء تفسير كوي.

شيخ الاسلام محمد بن ابراهيم حموئي شافعي له عبدالله بن عباس څخه نقلوي چې د خدا ے ګران رسول (ص) وفرمايل:

«له ما نه پس زما خلفاء او اوصياء او د خدا ے په مخلوقاتو باندې حجتونه دولس تنه دي. له هغوي څخه وړومبے زما ورور او آخري يې زما فرزند د ے. ترې پوښتنه وشوه يا رسول الله (ص)! ستاسو ورور څوک د ے؟ وې فرمايل: علي بن ابي طالب. پوښتنه ترې وشوه او ستاسو فرزند څوک د ے؟ وې فرمايل: مهدي او هغه هم هغه څوک د ے چې زمكه به له عدل او انصافه ډكوي هم هغه شان چې مخكې له ظلم او جور څخه ډكه وي.»[2]

---

[1] - ينابيع المودة ۷۷ باب ۴۴۲ مخ.

[2] - فرائد السمطين ۲ ټوک ۳۱۲ مخ ۵۶۲ حديث.

دا حديث قندوزي حنفي په ينابيع المودة كتاب كښې ذكر كړے دے.[1]

علي بن شهاب همداني شافعي په مودة القربى كتاب كښې او شيخ الاسلام حموئي شافعي په فرائدالسمطين كتاب كښې له عبدالله بن عباس څخه نقلوي چې د خدا ے ګران رسول (ص) وفرمايل:

«زۀ د انبياو مشر يم او علي بن ابي طالب د اوصياو مشر دے او له ما نه پس اوصيا دولس تنه دي چې وړومبے يې علي بن ابي طالب دے او آخري يې مهدي قائم دے.[2]

او قندوزي حنفي همدارنګ ل شيخ كبير صلاح الدين صفدي څخه چې په شرح دائره كښې يې راوړے دے نقلوي:

«مهدي موعود له دولسو امامانو څخه دولسم امام دے چې وړومبے يې زمونږ سرور علي (ع) او آخري يې حضرت مهدي (رض) دے.»[3]

مشهور مورخ او محدث خوارزمي حنفي (۵۶۸ ميلادي) له سليم بن قيس او هغه يې له سلمان فارسي نقلوي چې:

---

[1] - ينابيع المودة ۹۴ باب ۴۸۷ مخ د غاية المرام په نقل سره چې له فرائدالسمطين څخه يې نقل كړے دے.

[2] - د ينابيع المودة ۵۶ باب (مودة عاشره) ۲۵۸ مخ او فرائدالسمطين ۲ ټوک ۳۱۳ مخ په نقل سره.

[3] - د ينابيع المودة ۷۷ باب ۴۷۱ مخ په نقل سره.

«د خدے د ګران رسول (ص) کور ته ورغلم نو ګورم چې امام حسين (ع) د هغه حضرت په زنګانهٔ ناست دے او هغه حضرت د امام حسين (ع) سترګې ښکلولې او خوله يې ورته بوي[1]وله او فرمايل يې: ته بزرګ او د بزرګ زوے يې او د بزرګانو پلار يې، تهٔ امام او د امام زوے يې او د امامانو پلار يې، تهٔ حجت او د حجت زوے يې او د نههٔ حجتونو پلار يې چې ټول ستا له صلب (نسل) څخه دي او د هغوي نهم د هغوي قائم دے.»

او نور داسې احاديث چې د ينابيع الموده په ۷۷ او ۷۸ بابونو کښې راغلي دي ټول په دې دلالت کوي چې په حديث کښې له دولسو خلفاو نه مراد دولس امامان دي چې وړومبے يې امام علي بن ابي طالب (ع) او آخر يې امام مهدي قائم (ع) دے.

ستر سني عالمان هم په دې حقيقت اعتراف کوي.

محمد بن طولون په الائمة الاثنا عشر کتاب کښې د «الحجت المهدي» عنوان لاندې (له دې وروسته چې له هغوي څخه يولس تنه وشماري) وائي:

«و ثانی عشر هم ابنه محمد بن الحسن، يعنې د هغوي دولسم د هغه (امام عسکري) فرزند محمد بن حسن (ع) دے.»[2]

---

[1] - مقتل حسېن (ع) ۱ ټوک اوم باب، د امام حسېن (ع) د فضائلو په باره کښې ۱۴۲ مخ.

[2] - مخطوط ۱۱۷ مخ د فرائد فوائد الفکر في الامام المهدي المنتظر کتاب د محقق د مقدمې په نقل سره.

شيخ محمد بن احمد سفاريني حنبلي هم له دې وروسته چې د امام مهدي (ع) نسب امام حسين او امام علي عليهم السلام ته رسوي نو وائي:

«و محمد بن الحسن العسكري هذا ثاني عشر الائمه الاثنى عشر يعنې د امام حسن عسكري (ع) زوے امام مهدي (ع) له دولسو امامانو څخه دولسم تن دے.[۱]»

شيخ عبدالله بن محمد مطيري شافعي له دې وروسته چې د يولسو امامانو نومونه اخلي د دولسم په باره کښې وائي:

«اسمه محمد القائم المهدي و قد ورد النص عليه في الاحاديث من جده رسول الله (ص) و من جده على بن ابى طالب كرم الله وجهه و هوا صاحب السيف المنتظر وله غيبتان، يعنې د هغه نوم محمد قائم مهدي دے او بې له شکه د هغه په اړه په هغو احاديثو کښې د هغه له نيکه پېغمبر اکرم (ص) اود هغه له نيکه حضرت علي بن ابي طالب كرم الله وجهه څخه مونږ ته رارسېدلي دي نص راغلے دے. هغه د تورې خاوند او منتظر دے او دوه غېبتونه (غېبېدنې) لري.»[2]

---

[۱] - لوائح الانوار البهية و سواطع لاسرار الاثرية لشرح الدرة المضيئة في عقد الفرقة المرضية ۲ ټوک او ۷۱ مخ.

[۲] - الرياض الزاهره في فضل آل البيت لنبي و عترته الطاهرة ، آخري باب د فرائد د مقدمې په نقل سره.

په دا ډول دې نتیجې ته رسیږو چې د اثنا عشر خلیفه حدیث له دولسو امامانو نه بغېر په بل چا نه اطلاق کیږي. د هغوي وړومبنے امیر المومنین امام علي (ع) او آخر یې مهدي آخرالزمان دے.[1]

[1] - ستر پښتون مشر او د توري او قلم خاوند خوشحال بابا د دولسو واړو امامانو نومونه د احادیثو په حوالې سره په ترتیب سره د شعر په ژبه بیان کړي دي، لکه وائي:
د امــت دولـــس امــــام دي
په حدیث کښې نام په نـام دي
یو علي(ع)دویـم حســن (ع)دے
بل حسېن (ع)پــاکـیزه تـن دے
چهـارم زیــن العــابـدیـن دے
بــل بــاقـر (ع) ستنه د دین دے
بــل جعــفـر(ع) وریسي هم دے
بــل امـام مـوسی (ع) کاظم دے
بـل امـــام عــلي رضـــا(ع) دے
مـحـمـد تـقـي (ع)بل بیا دے
بـــل امـــام عـلـي نـقي(ع)دے
بــل حـسن عــسکـري(ع)دے
بـل امـام، امام مـهـدي(ع) دے
چې د درست جهـان هـادي دے
د بـي بـي زهـــرا (ع) اولاد دے
پشت په پشت دا هسې یاد دے
پــاک سـنـــي هـغــه ادم دے
چې د آل(ع) په عشق محکم دے

## مهدي د پېغمبراکرم (ص) له اهلبېتو او عترت څخه دے:

ابوداؤد په خپل سنن کښې له حضرت علي (ع) او هغه له پېغمبراکرم (ص) څخه نقلوي:

«لولم يبق من الدنيا الا يوم لبعث الله رجلاً من اهل بيتي، که د نيا له عمر څخه له يوې ورځې نه بغېر څه نه وي پاتې نو بې له شکه خدا ے پاک به زما له اهلبېتو څخه يو سړے راپاڅوي.[1]

ترمذي په خپل صحيح کښې له ابوهرېره څخه نقلوي چې وې ويل د خدا ے ګران رسول (ص) وفرمايل:

«لولم يبق من الدنيا الا يوم لطول الله ذلک اليوم حتى يلى رجل من اهل بيتي، يعني که د دنيا له عمر څخه فقط يوه ورځ باقي پاتې وي خدا ے به هغه ورځ دومره اوږده کړي چې زما له اهلبېتو څخه يو سړے راشي.»[2]

او په خروج المهدي باب کښې د حضرت علي (ع) له قوله ليکي چې د خدا ے ګران رسول (ص) وفرمايل:

«المهدي منا اهل البيت، يصلحه الله في ليلة، يعني مهدي زمونږ له اهلبېتو څخه دے او خدا ے پاک په يوه شپه کښې د هغه امر برابروي.»[3]

---

[1] -سنن ابوداؤد ۲ ټوک، ۲۰۷ مخ.

[2] - الجامع الترمذي **۴** ټوک، **۵۰۵** مخ، **۲۲۳۱** حديث.

[3] - سنن ابن ماجه، خروج المهدي باب ۲ ټوک ۲۶۹ مخ ۴۰۸۵ حديث.

حاکم په مستدرک کښې د ابوسعید خدري له قوله راوړي دي چې پیغمبراکرم (ص) وفرمایل:
«مهدي له مونږ اهلبیتو څخه دے»[1]
حاکم بیا زیاتوي چې دغه حدیث د مسلم په شرط صحیح دے ، خو بخاري او مسلم نه دے نقل کړے.
په عقدالدرر کتاب کښې له ابوسعید خدري څخه روایت شوے دے چې پیغمبراکرم (ص) وفرمایل:
«لا تَقُومُ السّاعَةُ حَتّی تَمْتَلِئَ الأَرْضُ ظُلْمًا وَعُدْوَانًا ، ثُمّ يَخْرُجُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ بَيْتِي" ، أَوْ قَالَ: " مِنْ عِتْرَتِي فَيَمْلَؤُهَا قِسْطًا وَعَدْلا كَمَا مُلِئَتْ ظُلْمًا وَعُدْوَانًا يعني قیامت به رانشي تردې چې زمکه له ظلم او دښمنیو ډکه شي، هغه وخت به زما له عترت یا اهلبیتو څخه یو سړے قیام وکړي او هغه به له عدل او انصافه ډکه کړي، هم هغه ډول چې له ظلم او دښمنۍ ډکه شوې وي.»[٢]
په مسند احمد بن حنبل کښې هم د ابوسعید خدري له قوله راغلي دي چې د خدا ے ګران رسول (ص) وفرمایل:
«یَمْلَأُ الْأَرْضَ ظلما و جوراً ثم یخرج رجل من عترتی یملك سبعا أو تسعا فیملأ الارض قسطاً و عدلاً یعني زمکه به له ظلم او جوره ډکه شي نو هغه وخت به زما له عترت څخه یو سړے پاڅون

[١] - مستدرک حاکم ۴ ټوک ۵۵۷ مخ.
[٢] - عقدالدرر ۳۲ مخ ۱ باب ۳ حدیث.

وکړي، اوۀ یا نهه کاله به په زمکه کښې حکومت وکړي او ټوله دنیا به له عدل او انصافه ډکه کړي.»[1]

ابوداؤد په خپل سنن کښې له بي بي ام سلمې (رض) څخه په نقل سره لیکي، وامې وربېدل چې د خدای ګران رسول (ص) وفرمایل:

«المهدي من عترتي مهدي زما له عترت څخه دی.»[2]

ابن حجر مکي له احمد بن حنبل او ماوردي څخه نقل کړي دي چې رسول الله (ص) وفرمایل:

«ابشروا بالمهدي،رجل من قریش من عترتي. یعنې تاسو ته د مهدي زېرې دی، هغه سړی دی له قرېشو څخه او زما له عترت څخه.»[۳]

او همدارنګ له ابونعیم څخه نقلوي چې پېغمبراکرم (ص) وفرمایل:

«لیبعثن الله رجلاً من عترتي....یملا الارض عدلا، یعنې بې له شکه خدای به زما له عترت څخه یو سړی راڅرګند کړي چې زمکه به له عدل او انصافه ډکوي.»[۴]

[۱] - مسند احمد بن حنبل ۳ ټوک ۲۸ مخ.

[۲] - سنن ابو داؤد ۲ ټوک ۲۰۸ مخ.

[۳] - الصواعق المحرقه ۲ ټوک۴۷۹ مخ.

[۴] - الصواعق المحرقه ۲ ټوک۱۲۲ مخ.

د مهدي (ع) نوم به د پېغمبراکرم (ص) د نوم په شان وي: په سنن ترمذي، سنن ابوداؤد او په نورو ډېرو سرچينو کښې راغلي دي چې د خداے ګران رسول (ص) وفرمايل:
«لا تذهب الدنيا حتى يملک العرب رجل من اهل بيتي. يواطيء اسمه اسمي، ورځې به تېرې نه شي او دنيا به خاتمې ته ونه رسي، ان تردې چې زما له اهلبېتو څخه يو سړے د عربو مالک شي، د هغه نوم به زما نوم وي.»[1]
په مسند احمد بن حنبل کښې له عاصم څخه، هغه له زر څخه او هغۀ له عبدالله بن مسعود څخه روايت نقل کړے دے چې رسول الله (ص) وفرمايل:
«لا تنقضى الايام ولا يذهب الدهر حتى يملک العرب رجل من اهل بيتي اسمه يواطي اسمي.»[2]

مهدي (ع) د پېغمبراکرم (ص) له اولاد څخه دے: په عقدالدرر او تذکرة الخواص کتابونو کښې د عبدالله بن عمر له قوله راغلي دي چې د خداے ګران رسول (ص) وفرمايل:

[1] -سنن ترمذي ۹ ټوک ۷۴ مخ، سنن ابوداؤد ۴ ټوک ۱۰۲ او ۱۰۷ مخ، عقدالدرر ۲۷ مخ ۲ باب.
[2] - مسند احمد بن حنبل ۱ ټوک ۷۶ مخ، تفسير سيوطي ۶ ټوک ۵۸ مخ.

«يخرج في آخرالزمان رجل من ولدی اسمه کاسمی و کنيته ککنيتی يملالارض عدلاً کما ملئت جورا فذلک المهدی. يعنې په آخره زمانه کښې به زما له اولاد څخه يو سړے خروج وکړي، د هغۀ نوم به زما د نوم په شان او د هغۀ کنيت به زما د کنيت په شان وي. هغه به زمکه له عدل او انصافه ډکه کړي، هم هغه ډول چې مخکې له ظلم و ستمه ډک وي او هغه هم هغه مهدي (ع) دے.»[1]

په يو بل روايت کښې د جابر بن عبدالله له قوله راغلي دي چې د خدا ے ګران رسول (ص) فرمايل:

«المهدی من ولدی،اسمه اسمی و کنيته کنيتي، اشبه الناس بی خُلقاً و خَلقاً، يعنې مهدي (ع) زما له اولاد څخه دے،د هغه نوم زما نوم او د هغه کنيت زما کنيت دے او د صورت او سيرت له نظره په ټولو خلقو کښې زيات زما په شان دے.»[2]

په يو مفصل حديث کښې چې جلال الدين سيوطي په الحاوي للفتاوي کتاب کښې له حذيفه څخه نقل کړے دے راغلې دي: عمران بن حصين پاڅېد او عرض يې وکړ، يا رسول الله (ص)! مونږ به مهدي (ع) څنګه پېژنوو؟

---

[1]- عقدالدرر ۳۲ مخ باب ۲، تذکرة الخواص ۳۲۳ مخ.

[2] -فرائد السمطين ۲ ټوک ۳۳۵ مخ.

قال صلی الله علیه و آله وسلم: هو رجل من ولدی کانه من رجال بنی اسرائیل، علیه بعائتان قطوانیتان، کان وجهه الکواکب الدری. فی خده الایمن خال اسود. ابن اربعن سنة.... فیبایع له بین الرکن والمقام، ثمه یخرج متوجهاً الی الشام، و جبریل علی مقدمته و میکائل علی ساقته، فیفرح به اهل السماء و اهل الارض، والطیر والوحوش والحیتان فی البحر. یعني د خدای ګران رسول (ص) وفرمایل: مهدي (ع) زما له اولاد څخه یو سړی دی. هغه بني اسرائیلو د سړیو په شان دی(لوړ قامت لرونکی) مخ به یې د ځلانده ستوري په شان او د مخ ښي طرف ته به یې تور خال وي. څلوېښت کلن به وي. مسلمانان به د (له خانه کعبې سره نزدې) رکن او مقام ترمېنځ له هغهٔ سره بیعت وکړي. بیا به په داسې حال کښې چې جبرائیل (ع) به یې مخې ته او میکائیل (ع) به ورپسې روان وي، د شام زمکې ته متوجه شي. د آسمان او زمکې مخلوقات ، مارغان، ځناور او د سمندر کبان به له هغهٔ څخه خوشحاله وي.»[۱]

امام مهدي (ع) د حضرت علي (ع) له اولاد څخه دی: په ینابیع المودة کتاب کښې له ابن عباس څخه روایت شوی دی چې د خدای ګران رسول (ص) وفرمایل:

[۱] - الحاوي للفتاوي ۲ ټوک، آثار الواردة في المهدي (ع) باب ۸۲ مخ، عقدالدرر ۱۱۹ او ۱۲۰ مخونه.

« ان عليا وصيى و من ولده القائم المنتظر المدى الذى يملاء الارض قسطا و عدلا كما مائت جورا وظلما والذى بعثنى بالحق بشيرا و نذيرا ان الثابتين على القول بامامته فى زمان غيبة لا غز من الكبريت الاحمر. يعني علي زما وصي دے او د هغه له اولاد څخه قائم المنتظر مهدي (ع) دے، مهدي (ع) هغه کس دے چې زمکه به له عدل او انصافه ډکوي، هم هغه ډول چې مخکې له ظلم و جور څخه ډکه شوې وي. په هغه خدا ے قسم چې په حق سره يې زهٔ زيرے ورکونکے او ويرونکے مبعوث کړم، هغه کسان چې د هغه د غيبت په زمانه کښې د هغهٔ په امامت ثابت قدمه پاتې شي له سرهٔ کبريته به کېميا تر وي.»[1]

همدارنګ په ينابيع المودة کتاب کښې له حضرت علي (ع) نه روايت دے چې رسول اکرم (ص) وفرمايل:

« يا على انت وصيي حربک حربى و سلمک سلمى و انت الامام ابو الائمه الاحدى عشر الذين هم المطهرون المعصومون و منهم المهدى الذى يملا الارض قسطا وعدلا فويل لمبغضيهم. يعني اے علي! ته زما وصي يې، له تا سره جنګ له ما سره جنګ دے، له تا سره روغه جوړه له ما سره روغه جوړه ده، ته امام او د يولسو امامانو پلار يې چې له هرې پليدۍ څخه پاک او پاکيزه

[1] -ينابيع المودة ۳ ټوک ۸۷ باب ۱۰۹ مخ او په بل چاپ کښې ۴۴۸ مخ.

او له هرې خطا او غلطۍ محفوظ دي، له هغوي څخه مهدي (ع) دے چې زمکه به له عدل او انصافه ډکوي. نو افسوس دې وي د هغۀ په دښمنانو.»[1]

امام مهدي (ع) د بي بي فاطمه زهرا (ع) له اولاد څخه دے: په سنن ابوداؤد کښې د بي بي ام سلمې (رض) له قوله راغلي دي چې وې ويل، وامې وربدل چې د خدا ے ګران رسول (ص) وفرمايل:

«المهدي من عترتي، من ولد فاطمه (ع) يعنې مهدي زما له عترت څخه او د بي بي فاطمې (ع) له اولاد څخه دے.»[2]

په ينابيع المودة کتاب کښې د ابو ايوب انصاري (رض) له قوله راغلي دي:

کله چې د خدا ے ګران رسول (ص) بيمار شو نو بي بي فاطمه (ع) يې ليدو ته راغله، هغې چې کله پېغمبراکرم (ص) په دې حال کښې وليدۀ نو وې ژړل. رسول الله (ص) ورته وفرمايل:

«په هغه خدا ے مې قسم چې زما ژوند يې په اختيار کښې دے، چې د دې امت مهدي له مونږ څخه دے او ستا له نسله څخه به وي.» [3]

---

[1] - ينابيع المودة ۱ ټوک ۱۲ باب ۲۵۳ مخ.
[2] - سنن ابوداؤد ۴ ټوک ۸۷ مخ او د حديثونو نورې معتبرې سرچينې.
[3] - ينابيع المودة ۳ ټوک ۷۳ باب ۲۲۹ مخ او په بل چاپ کښې ۴۶۳ مخ.

په کنزالعمال کښې راغلي دي چې حضرت علي (ع) وفرمايل:
«المهدي رجل منا، من ولد فاطمه (ع) »[1]
ابن ابي الحديد معتزلي د نهج البلاغه په شرحه کښې د ۱۶ خطبې ترڅنګه ليکي:
«اکثر محدثين عقيده لري چې مهدي موعود (ع) د بي بي فاطمې (ع) له نسل څخه دے.»[2]
او د ۹۲ خطبې ترڅنګه ليکي:
«اماميه عقيده لري چې هغه (حضرت مهدي ع) د هغوي دولسم امام دے او د نرجس نومې يوې کنيزې زوے دے. خو مونږ معتزله عقيده لروو چې هغه د بي بي فاطمه زهرا (ع) له نسله دے د تاريخ په راتلونکو وختونو (آخرالزمان) کښې به له يوې کنيزې زېږل کيږي او اوس موجود نه دے»[3]
له دې نه علاوه په سني کتابونو کښې نقل شوي احاديث د شيعه ؤ عقيده تائيد او ثابتوي، ځکه چې په دغو احاديثو کښې راغلي دي چې امام مهدي (ع) دولسم امام، د امام حسين (ع) نهم فرزند او د امام رضا (ع) څلورم فرزند ا د امام حسن (ع) بلا فاصله فرزند دے.

---

[1] -کنزالعمال ۱۴ ټوک ۵۹۱ مخ.
[2] - شرح نهج البلاغه ابن ابی الحدید ۱ ټوک ۲۸۱ مخ د ۱۲ خطبې ترڅنګه.
[3] - شرح نهج البلاغه ابن ابی الحدید ۷ ټوک ۵۹ مخ د ۹۲ خطبې ترڅنګه.

د سنيانو په زياترو سني سرچينو کښې هم راغلي دي چې حضرت امام مهدي (ع) د امام حسن عسکري (ع) فرزند دے، د ۲۵۵ کال د شعبان يا شوقدر د مياشتې په نيمائۍ کښې په سامرا ښار کښې له نرجس نومې مېرمن څخه دنيا ته راغلے دے.[1] نو ځکه په دې کښې هيڅ شک نشته چې امام مهدي (ع) پېدا شوے دے او همدا اوس موجود، ژوندے او له سترګو غېب دے او د خدائے په اذن سره به يوه ورځ راڅرګند پړي او دنيا به له عدل او انصافه ډکوي.

امام مهدي (ع) د امام حسېن (ع) له اولاد څخه دے: په فرائد السمطين کتاب کښې له علي بن علي هلالي څخه او هغه له خپل پلار څخه په يو اوږد حديث کښې روايت کړے دے چې: د خدائے د ګران رسول (ص) د ځنکدن په وخت د هغه حضرت خدمت ته حاضر شوم، بي بي فاطمه (ع) يې سر ته ناسته وه او په اوچت غږ يې ژړا کوله، دغه وخت د خدائے ګران رسول (ص) ورته سترګې وغړولې او وې فرمايل:

«څه څيز ته په ژړا کړې؟»

[1] -د لا زياتو معلوماتو لپاره المهدي الموعود المنتظر کتاب ۱ ټوک ۱۸۴ مخ ۱۲ باب، الامام المهدي کتاب ۲۷۹ مخ او دانشمندان عامه و مهدي موعود کتاب ۵ برخې ته مراجعه وکړئ.

بي بي زهرا (ع) ورته عرض وکړ: زۀ ویرېږم چې له تا نه وروسته به تباه او برباد شم. د خدے ګران رسول (ص) د لور د تسلیٔ لپاره د اهلبېتو علیهم السلام فضائل بیان کړل او وې فرمایل:

«د دې امت دوه سبط له مونږ څخه دي او هغه ستا دوه زامن حسن او حسین علیهم السلام دي چې د جنت د ځوانانو سرداران دي. په هغه خدائے مې دې قسم وي چې زۀ يې په حق سره مبعوث کړم چې د دې امت مهدي به د دغو دواړو (حسن او حسین علیهم السلام) له نسله وي.»[1]

په ذخائرالعقبی کتاب کښې د ابو ایوب انصاري له قوله راغلي دي چې د خدائے ګران رسول (ص) وفرمایل:

«يولد منهما [الحسن والحسين عليهم السلام] مهدي هذه الامه؛ یعنې د دې امت مهدي به له دغو دوو کسانو (حسن او حسین علیهم السلام) څخه دنیا ته راځي»[2]

[1] -دغه مبارک حدیث سني او شیعه علماو په مختصر توګه او تفصیل سره هم نقل کړے دے. د لا زیاتو سرچینو د ترلاسه کولو لپاره دغو کتابونو ته مراجعه کولې شئ: عقدالدرر ۲۷۵ مخ، ذخائرالعقبی ۱۳۶ مخ، مجمع الزوائد ۹ ټوک ۱۲۵ مخ، فرائدالسمطین ۲ ټوک ۸۴ مخ، ینابیع المودة ۳ ټوک ۹۰ مخ او په بل چاپ کښې ۷۳ باب ۴۳۴ مخ.
[2] -ذخائرالعقبی ۱۳۶ مخ.

په ينابيع المودة کتاب کښې د جواهر العقدين کتاب په نقل سره راغلي دي:

«د خدا ے د ګران رسول (ص) د دعا برکات له حضرت علي (رض) سره د بی بی فاطمې (رض) د وادهٔ په وخت د حسن او حسين عليهم السلام په نسل کښې ظاهر شول، ځينې د دغو دوو بزرګوارو له نسل څخه راغلل او لاړل او ځينې به له هغو څخه راځي او د راتلونکو ترمېنځ که له حضرت مهدي (ع) نه بغېر څوک نه وي نو همدغه د پېغمبر (ص) د دعا د برکت لپاره کفايت کوي.»[1]

د دې خبرې علت چې حضرت مهدي (ع) د حسنېنو عليهم السلام له اولاد څخه ګڼل کيږي دا د ے چې د امام باقر (ع) مور بي بي فاطمه (ع) يعنې د امام زين العابدين (ع) مېرمن د امام حسن مجتبی (ع) لور ده. له دې امله امام محمد باقر (ع) او ورپسې امامان حسني او حسېني دي او امام مهدي (ع) هم د امام حسن مجتبی (ع) د لور لخوا نمسے او د امام حسين (ع) د زو ے لخوا نمسے د ے.

امام مهدي (ع) د امام حسين (ع) له اولاد څخه د ے:

[1] - ينابيع المودة ۳ ټوک، ۲۲۱ مخ، ۷۳ باب ۲ حديث.

په عقدالدرر کتاب کښې له حذیفه بن یمان څخه روایت شوے دے:

«یوه ورځ د خدا ے ګران رسول (ص) مونږ ته خطبه راکړه او هغه څه چې تر قیامته پورې راتلونکي وو هغه یې مونږ ته بیان کړل، له دې وروسته یې وفرمایل:

«که د دنیا عمر له یوې ورځې نه زیات باقي پاتې نه شي خدا ے به هغه ورځ اوږده کړي تر دې چې زما له اولاد څخه به هغه سړے راولیږي چې نوم به یې زما نوم وي. سلمان پاڅید او وې ویل: یا رسول الله (ص) ستاسو له کوم بچي څخه به دنیا ته راځي؟

وې فرمایل: زما له دې بچي څخه او خپل لاس یې په امام حسین (ع) کېښود.»[1]

ابوالقاسم اسماعیل بن عباد له حضرت علي (ع) سره متصل سند سره روایت نقل کړے دے چې حضرت علي (ع) د امام مهدي (ع) خبره وکړه او وې فرمایل:

«مهدي د حسین له اولاد څخه دے»

[1] -عقدالدرر ۴۲ مخ ۱ باب، ذخائرالعقبی ۱۳۲ مخ، فرائدالسمطین ۲ ټوک ۳۲۵ مخ، غایة المرام ۲۹۹ مخ.

بيا يې د هغهٔ اوصاف بيان کړل او وې فرمايل:

«هغه هغه کس دے چې تندے يې روڼ او ځلانده، پوزه يې اوچته او نرۍ او مناسب اندامونه يې دي او د غاښونو ترمېنځ به فاصله لري.»[۱]

ابن ابي الحديد د دغه حديث له نقلولو وروسته ليکي: دغه حديث عبدالله بن قتيبه په غريب الحديث کتاب کښې راوړے دے.

امام مهدي (ع) د امام حسين (ع) نهم اولاد دے:

سلمان فارسي وائي: د پېغمبراکرم (ص) خدمت ته حاضر شوم. نو ومې کتل چې حسين (ع) د هغه حضرت په غېږ کښې ناست دے او هغه حضرت يې سترګې ښکلوي او شونډې يې روي او فرمائي:

«تهٔ آقا يې تهٔ د آقا زوے يې، ته د آقا ورور يې، ته امام يې، ته د امام زوے يې، د امام ورور يې،ته حجت يې، ته د حجت زوے

[۱] - شرح نهج البلاغهه ابن ابي الحديد ۱ ټوک ۲۸۱ مخ.

يې ، ته د حجت ورور يې، ته د نهو حجتونو پلار يې چې نهم د هغوي قائم دے.»[1]

په ينابيع المودة كتاب كښې له امام حسين (ع) څخه روايت نقل شوے دے چې وې فرمايل:

«د خپل نيكۀ رسول الله (ص) په خدمت كښې حاضر شوم، هغه حضرت زۀ په خپله غېږه كښې كښېنولم او وې فرمايل: اے حسېنه! خدا ے پاک پاک ستا له نسل څخه نهۀ امامان ګرځولي دي چې نهم به قائم وي او د خدا ے په نزد د هغوي ټولو مقام او منزلت يو شان دے.»[2]

په دې اړه هم زيات احاديث راغلي دي چې پكښې راغلي دي چې امام مهدي (ع) د امام زين العابدين، امام باقر، امام جعفر صادق، امام كاظم، امام رضا ، امام محمد تقي او امام علي نقي عليهم السلام له اولاد څخه دے. چې د بحث د اوږدېدو په خاطر ترې تېرېږو. د دې خبرې په خاطر چې آيا امام مهدي (ع) د امام حسن (ع) له اولاد څخه دے يا د امام حسين (ع)، تر امام حسين (ع) مو حديثونه ذكر كړ چې دغه شک ختم شي.

---

[1] - ينابيع المودة ٣ ټوک ٩۴ مخ، ٣٩۴ مخ، مقتل خوارزمي ١ټوک ٧ برخه ١۴۶مخ.
[2] - ينابيع المودة **٣** ټوک **٩۴** باب **٣٩۵** مخ **۴۴** حديث، په بل چاپ كښې **۴٩٢** مخ.

امام مهدي (ع) د امام حسن عسکري (ع) فرزند دے:

موفق بن احمد خوارزمي حنفي چې سنيانو هغه صدرالائمه بللے دے په مقتل الحسين کتاب کښې د خدا ے د ګران رسول (ص) له اوښ ساتونکي ابي سلمی څخه نقلوي چې وائي له رسول الله (ص) څخه مې واورېدل چې وې فرمايل:

«په هغه شپه چې د آسمانونو سېل ته بوتللے شوم خدا ے پاک راته وفرمايل: پېغمبر په هغه څه چې د خدا ے لخوا ورته ولېږل شول ايمان راوړۀ. ما ووېل او مومنانو هم ايمان راوړۀ. خدا ے پاک وفرمايل: رښتيا دې ووېل ا ے محمده! څوک دې د امت ترمېنځ خپل جانشين پرېښود؟

ومې ويل: په هغوي کښې ترټولو غوره کس. خطاب وشو: علي بن ابي طالب دې پرېښود؟

ومې ويل: هو زما ربه!

وې فرمايل: ا ے محمده! ما په زمکه نظر واچوۀ او د زمکې له اوسېدونکو څخه مې تۀ غوره کړې او له خپلو نومونو څخه مې يو نوم ستا لپاره غوره کړ. زۀ په يو ځا ے کښې نه يادېږم مګر دا چې تۀ راسره هم يادېږې، زۀ محمود يم او تۀ محمد. بيا مې

زمکې ته نظر وکړ او علي مې غوره کړ او له خپلو نومونو څخه مې يو نوم هغهٔ له غوره کړ، زهٔ اعلی يم او هغه علي دے.

اے محمده!ما تهٔ، علي، فاطمه، حسن، حسين او د حسين له اولاد څخه امامان له خپل نور څخه پېدا کړئ او ستاسو ولايت مې د آسمانونو او زمکو اوسېدونکو ته وړاندې کړ، هر چا چې ومنهٔ زما په نزد مومن دے او هر چا چې ونهٔ منهٔ زما په نزد کافر دے.

اے محمده! که زما يو بنده دومره زيات عبادت وکړي چې له منځه لاړ شي او يا يې بدن د اوچ مشک غوندې شي، په داسې حال کښې چې ستاسو د ولايت منکر وي او ما ته رجوع وکړي نو زهٔ يې نه بخښم مګر دا چې ستاسو د ولايت اقرار وکړي!

اے محمده! غواړې چې هغوي ووينې! ومې ويل: هو زما ربه!

وې فرمايل: د عرش ښي طرف ته پام وکړه.

کله چې مې د عرش ښي طرف ته سترګې وغړولې نو علي، فاطمه، حسن، حسين، علي بن حسين، محمد بن علي، جعفر بن محمد ، موسی بن جعفر، علي بن موسی، محمد بن علي، علي بن محمد ، حسن بن علي او مهدي عليهم السلام مو وليدل چې د

نور يوه هاله ترې چاپېره وه او هغوي ولاړ دي نمونځ ادا کوي او د هغوي ترمېنځ مهدي (ع) په شان د ځلانده ستوري ؤ.

خدا ے پاک وفرمايل: اے محمده! دوي زما حجتونه دي او مهدي، ستا د عترت (اهلبېتو) انتقام اخېستونکے د ے. زما دې په خپل عزت او جلال قسم وي هغه حجت د ے چې ولايت يې زما په اولياو فرض د ے او هغه د ے چې زما له دښمنانو به انتقام اخلي.»[1]

نو اے لوستونکيه! بې شکه چې امام مهدي (ع) د امام حسن عسکري (ع) بلافصل فرزند د ے او د اسلام قدرمن پېغمبر (ص) هم په يو مبارک حديث کښې چې شېخ الاسلام حمويني شافعي او يو شمېر اماميه علماو نقل کړے د ے د هغه حضرت نسب شريف په واضحه او روښانه توګه بيان کړےد ے.

## حديثونه او د هغو صحيح والے

[1] ـ مقتل الحسين ، خوارزمي ۱ ټوک ۹۵ مخ، فرائدالسمطين ۲ ټوک ۳۱۹ مخ، ۵۱۷ حديث.

له يو شمېر سني علماو څخه چې د هغوي په کتابونو کښې راغلي دي واضحه بيانات د دغو حديثونو په صحيح والي کښې راغلي د نمونې په توګه ترې څو ستاسو په خدمت کښې وړاندې کوو:

۱- ترمذي (وفات ۲۹۷هـ) د وړومبني حديث په باره کښې وائي: «دغه حديث احسن او صحيح دے.»

د دويم حديث په باره کښې وائي: «دغه حديث احسن او صحيح دے.» او د دريم حديث په حقله وائي: «احسن دے.»[1]

۲- حافظ ابو جعفر عقيلي (وفات ۳۲۲هـ) د امام مهدي (ع) په باره کښې يې وړومبے حديث راوړے دے او هغه يې ضعيف ګڼلے دے او بيا وائي:

«د مهدي په باره کښې بې له دې نه ډېر ښه او په نورو الفاظو سره احاديث موجود دي.»[2]

---

[1] - سنن ترمذي۴ټوک ۴۳۸ مخ ۲۲۳۰ او ۲۲۳۱ حديثونه او ۴ ټوک۴۳۹ مخ ۲۲۳۲ حديث.

[2] - الصغفاء الكبير، عقيلي ۳ ټوک ۲۵۳ مخ ۱۲۵۷ رقم، د علي بن نفبل حراني د ژوند د حال ترڅنګه.

**۳-حاکم** نیشابوري (وفات **۴۰۵** ھ) د وړومبي حدیث په باره کښې وائي:

«دا حدیث د شېخېنو (بخاري او مسلم) په شرط سره صحیح دے خو نقل کړے يې نه دے.»

د دویم حدیث په باره کښې وائي:

«دا حدیث د مسلم په شرط سره صحیح دے خو مسلم او بخاري نه دے نقل کړے.»

د دریم او څلورم حدیث په باره کښې یې خاموشي اختیار کړې ده او د پینځم حدیث په اړه وائي:

«د دغه حدیث اسناد صحیح دي خو بخاري او مسلم نه دے نقل کړے.»

د شپږم حدیث په باره کښې هم وائي:

«دغه حدیث د مسلم په شرط سره صحیح دے خو بخاري او مسلم نه دے نقل کړے.»[1]

---

[1] - مستدرک حاکم ۴ ټوک ۲۰۰ او ۲۰۱ مخونه.

او د اوم حديث په باره کښې يې خپل نظر نه دے ورکړے.

**۴**-بېهقي (وفات **۴۵۸** هـ) وائي:

«د مهدي د خروج کولو په اړه حديثونه ترټولو صحيح اسناد لري.»[۱]

**۵**- بغوي (وفات **۵۱۰** يا **۵۱۲** هـ) د خپل مصابيح السنه کتاب په الصحاح باب[۲] کښې يو حديث[۳] او په الحسان[۴] باب کښې پينځهٔ حديثونه[۵] نقل کړي دي.

**۶**- ابن اثير (وفات **۶۰۲** هـ) د النهايه کتاب د هدا مادې ترڅنګه ليکي:

«له دې مادې څخه د ےد سنة الخلفاء الراشدين المهديين حديث.

مهدي هغه کس دے چې خدا ے پاک هغه د حق لوري ته هدايت کړے دے او د داسې کسانو د نوم په توګه استعمال شوے دے

[۱] -د بېهقي کتاب الاعتقاد والهدايه الى سبيل الرشاد ۱۲۷ مخ.
[۲] -صحيح حديثونه.
[۳] -مصابيح السنه ۴۸۸ مخ ۴۱۹۹ حديث.
[۴] - احسن يا ښه حديثونه.
[۵] - مصابيح السنه ۴۹۲ او ۴۹۳ مخونه ۴۲۱۰، ۴۲۱۳ او ۴۲۱۵ حديثونه.

نو ځکه له مشهورو او رائجو نومونو څخه ګرځېدلې دی او په همدې نوم سره هغه مهدي بللې شوی دی چې د خدای ګران رسول (ص) يې په آخره زمانه کښې د راتلو زېری ورکړی دی.»[١]

دا بيان د هغه کس دی چې د امام مهدي (ع) په باره کښې حديثونه صحيح بلکه متواتر بولي.

۷- قرطبي مالکي (وفات ۲۷۱ هـ) د امام مهدي (ع) په حقله د احاديثو په متواتر والي باندې عقيده لري او مهم ټکی دا دی چې هغه امام مهدي (ع) په اړه د ابن ماجه د حديث ترڅنګه ليکي: «سندونه يې صحيح دي.»[٢] او وضاحت کوي چې دا حديث چې فرمائي: مهدي زما عترت او د فاطمې له اولاد څخه دی[٣] له محمد بن خالد الجندي څخه دی او ډېر صحيح دی.»[۴]

۸- ابن تيميه (وفات ۷۲۸ هـ) په منهاج السنة کتاب کښې وائي:

---

[١] - د ابن اثير کتاب نهاية في غريب الحديث ولاثر ۵ ټوک ۲۵۴ مخ.
[٢] - د قرطبي کتاب التذکره ۷۰۴ مخ ماجاء في المهدي باب.
[٣] - المهدي من عترتي من ولد فاطمه
[۴] -کتاب التذکره ۷۰۱ مخ.

«د مهدي د خروج کولو په اړه هغه حديثونه چې علامه حلّي پرې احتجاج کوي صحيح دي.»[1]

۹- حافظ ذهبي (وفات ۷۴۸ هـ) د امام مهدي (ع) په باره کښې په هغو ټولو حديثونو چې حاکم په مستدرک کښې صحيح بللي دي خاموشي اختيار کړې ده او له دې نه علاوه يې د دوو حديثونو صحيح والے تائيد کړے دے،[2] په داسې حال کښې چې د فضائلو او داسې نور ځينې هغه حديثونه يې چې حاکم صحيح بللي دي رد کړي دي او دا خبره ښودنه کوي چې د مهدويت په باره کښې د حديثونو په شمول د هغو نورو روايتونو په باره کښې چې حاکم صحيح ګڼلي دي د هغهٔ خاموشي د حاکم نيشابوري د نظر تائيدول دي.

۱۰- کُنجي شافعي (وفات ۶۵۸ هـ) د حضرت امام مهدي (ع) په باره کښې د ترمذي حديث نقل کړے چې ترمذي هغه صحيح بللے دے. کُنجي هم پکښې زياتوي چې «دا حديث صحيح دے.» او بل حديث يې هم داسې ګڼلے دے.[3]

---

[1] - د ابن تيميه کتاب منهاج السنة ۴ ټوک ۲۱۱ مخ.

[2] -د ذهبي تلخيص المستدرک کتاب ۴ ټوک ۵۵۳ او ۵۵۸ مخونه چې د مستدرک حاکم کتاب په لمن ليک کښې چاپ شوي دي.

[3] -البيان في اخبار صاحب الزمان، کُنجي شافعي ۴۷۱ مخ.

او د دې حديث په باره کښې چې فرمائي: ډېر روښانه تند ے لري[١] وائي: «دا حديث ثابت، احسن او صحيح د ے.»[2] د هغه حديث په اړه چې فرمائي: مهدي حق او د فاطمې بي بي (ع) له اولاد څخه د ے.[٣] وائي: «دا يو ښۀ او صحيح حديث د ے.»[۴]

حافظ ابن قيم (وفات ۷۵۱ هـ ) د امام مهدي (ع) په باره کښې د ځينو احاديثو په نقلولو سره ځينې احسن او ځينې هم صحيح بولي.[۵] او په کلي توګه هغه د دغو حديثونو په متواتر والي عقيده لري.(وبنابه يې په راتلونکو ليکنو کښې راشي.)

۱۲- ابن کثير (وفات ۷۷۴ هـ) د امام مهدي (ع) په باره کښې حديث نقل کړ ے او د هغۀ د سند په اړه وائي: «او دا مضبوط او صحيح اسناد لري.»[٦] بيا په دې لړ کښې له ابن ماجه څخه د يو روايت په نقلولو سره وائي: «دا يو احسن حديث د ے او په څو طريقو سره له پېغمبراکرم (ص) څخه روايت شو ے د ے.»[٧]

---

[١] - المهدي مني اجلي الجبهة.
[٢] - البيان في اخبار صاحب الزمان ۵۰۰ مخ.
[٣] - المهدي حق و هو من ولد فاطمة.
[٤] - البيان في اخبار صاحب الزمان ۴۸۲ مخ.
[٥] -المنارالمنيف ابن قيم ۱۳۰ او ۱۳۵ مخونه، ۳۲۲، ۳۲۷، ۳۲۹ او ۳۳۱ رقم.
[٦] - النهاية في الفتن و الملاح، ابن کثير ۱ ټوک ۵۵ مخ.
[٧] - النهاية في الفتن و الملاح، ابن کثير ۱ ټوک ۵۶ مخ.

**۱۳-** تفتازاني (وفات **۷۹۳** هـ) په آخرالزمان کښې د حضرت مهدي (ع) د پاڅون په باره کښې وائي:

«په دې باب يو لړ صحيح حديثونه راغلي دي.»[1]

**۱۴-** نورالدين هېثمي (وفات **۸۰۷** هـ) د امام مهدي (ع) په باره کښې يو شمېر حديثونه راوړي دي او د هغو په صحيح والي او د هغو د راويانو په موثق والي يې اعتراف کړے دے. دا جملې د امام مهدي (ع) په اړه د ځينو حديثونوتر څنګه د هغۀ ځينې نظر څرګندونې دي:

«ترمذي او نورو د هغو خلاصې روايت کړې دي او احمد په ګڼ شمېر سندونو سره او ابويعلي په ډېرې خلاصې سره نقل کړي دي او راويان يې ثقه دي.[2] طبراني هغه په الاوسط کتاب کښې نقل کړي او راويان يې صحيح دي.[3]

او راويان يې ثقه دي.[4]

بزار نقل کړي دي او رجال يې صحيح دي.[1]

---

[1] - شرح المقاصد تفتازاني **۵** ټوک **۳۱۲** مخ.
[2] -مجمع الزوائد هېثمي **۷** ټوک **۳۱۳** او **۳۱۴** مخونه.
[3] - مجمع الزوائد هېثمي ۷ ټوک **۱۱۵** مخ.
[4] - مجمع الزوائد هېثمي ۷ ټوک **۱۱۲** مخ.

طبراني په الاوسط کتاب کښې روايت کړي دي او راويان يې ثقه دي.»[2]

۱۵- سيوطي (وفات ۹۱۱ هـ) د حضرت مهدي (ع) په حقله ځينې احاديث په صح[3] رمز سره يعنې صحيح او ځينې نور يې په ح[4] رمز سره يعنې حسن ګڼلي دي.

۱۶- شوکاني (وفات ۱۲۵۰ هـ) قنوجي په الاذاعة کتاب کښې له هغهٔ څخه نقل کړي دي چې د حضرت مهدي (ع) په باره کښې ځينې احاديث صحيح بلکه متواتر دي.

۱۷- ناصر الدين الباني (معاصر) په حول المهدي نومې يوه مقاله کښې ليکي:

«البته د مهدي (ع) په مسئله کښې پکار دي پوه شوو چې صحيح حديثونه نقل شوي دي چې ګڼ شمېر اسناد يې صحيح دي.»

---

[1] - مجمع الزوائد هېثمي ۷ ټوک ۱۱۷ مخ.
[2] - مجمع الزوائد هېثمي ۷ ټوک ۱۱۷ مخ.
[3] - الجامع الصغير سيوطي ۲ ټوک ۲۷۲ مخ ۹۲۴۱، ۹۲۴۴ او ۹۲۴۵ رقم.
[4] - الجامع الصغير سيوطي ۲ ټوک ۴۳۸ مخ۷۴۸۹ حديث او ۲۷۲ مخ ۹۲۴۳ حديث.

هغه له هغو کسانو څخه دے چې د دغو حديثونو په متواتر والي يې هم تاکيد کړے دے.[۱]

د اختصار د خيال ساتنې له مخې په همدغه شمېر بسنه کوو. که څه هم ځينو څېړونکو د دغو عالمانو او محققانو شمېر له شپېتو نه زياتو ته رسولے دے.[۲]

## حديثونه او د هغو تواتر

د درايه د علم پوهانو او د حديث پېژندنې ماهرانو وضاحت کړے دے چې په سني کتابونو کښې د حضرت مهدي (ع) په اړه نقل شوي حديثونه متواتر دي.

د هغو زيات شمېر والي ته په پام سره او اختصار د خيال ساتنې لپاره يوازې د څو کسانو نومونه اخلوو:

---

۱ - حول المهدي، الباني ۶۴۴ مخ د دمشق چاپ په التمدن الاسلامي مجله د ۱۳۷۱ هجري قمري کال په ۲۲ ګڼه کښې يوه مقاله خپره شوې ده.
۲ - دفاع عن الکافي سيد ثامر العميدي ۱ ټوک ۳۴۳ او ۴۰۵ مخونه.

۱- د حنبليانو ستر او د خپلې زمانې مشهور عالم بربهاري (وفات ۳۲۹ هـ) شيخ حمود تويجري د خپل كتاب الاحتجاج بالاثر على من انكر المهدي المنتظر په ۲۸ مخ كښې ليكي:

«بربهاري په خپل شرح السنه كتاب كښې د عيسى بن مريم (ع) په نزول باندې د ايمان ترعنوان لاندې ليكي: هغه به راكوزيږي او د قائم آل محمد (ص) په امامت كښې به نمونځ ادا كوي. دا پته خبره نه ده چې ايمان د اعتقاد په معنا د ے. نو ځكه د خبر واحد په بنياد اعتقاد نه شي ثابتېدې.

۲- محمد بن حسين آبري شافعي (وفات ۳۶۳) مناقب الشافعي نومې خپل كتاب كښې وائي:

«له حضرت محمد مصطفى صلى الله عليه [و آله] وسلم څخه راغليو احاديثو كښې په متواتره توګه او ډېر زياتو راويانو څخه نقل شوي دي چې مهدي (ع) به راځي، هغه د پېغمبر اكرم صلى الله عليه [و آله ] وسلم له كورنۍ څخه د ے. اوۀ كاله به حكومت كوي، زمكه به له عدل څخه ډكوي، له عيسى (ع) سره به خروج كوي او د دجال په وژلو كښې به له هغه سره مرسته كوي.، د خبر وركونكو او راويانو د كثرت په وجه تواتر ته رسېدلے د ے.

دغه خبر قرطبي مالکي د التذکره کتاب په ۷۰۱ مخ کښې او المزي د تهذيب الکمال کتاب د ۲۵ ټوک په ۱۴۲ مخ، د حديث شمېر ۵۱۸۱ کښې د محمد بن خالد جندي د ژوند په حالاتو کښې او ابن قيم د المنار المنيف کتاب په ۱۴۲ مخ ، په حديث ۳۲۷ کښې او له دې نه علاوه يې له آبري نه هم نقل کړے دے.

۳- قرطبي مالکي (وفات ۷۷۱ هـ) هغه د آبري تېره وېنا نقل کړې او د هغه په کتاب کښې د ذکر شويو حديثونو په صحيح ګڼلو سره د هغه وېنا تائيده کړې ده. قرطبي په خپل دغه قضاوت کښې د امام حافظ حاکم نيشابوري په دغه وېنا استناد کړے دے او ليکي:

«د خدا ے له ګران رسول (ص) څخه صحيح او واضحه حديثونه نقل شوي دي چې د نبي اکرم صلی الله عليه و آله وسلم له اهلبېتو څخه د بي بي فاطمه (ع) له اولاد څخه د مهدي (ع) په نامه د يو کس په قيام باندې دلالت لري.»[1]

همدارنګ قرطبي د سورۀ توبه د ۳۳ آيت په نفسير کښې ليکلي دي:

[1] - التذکره، ۱ ټوک ، ۷۰۱ مخ.

«په دې باب چې مهدي (ع) د خدا ے د رسول (ص) له اهلبېتو څخه د ے صحيح احاديث د تواتر حد ته رسېدلي دي.»[1]

۴- حافظ جمال الدين المزي (وفات ۷۴۲ هـ) هغهٔ د المهدی (ع) د احاديثو په متواتر والي کښې د آبري په مخکښې وېنا استدلال کړ ے د ے او هيڅ اشکال او اعتراض يې پرې نه د ے کړ ے، بلکه هغه يې مسلم ګڼلي دي.[۲]

۵- ابن قيم (وفات ۷۵۱ هـ) هغهٔ هم د آبري وېنا په دې شکل تائيد کړې ده چې له امام مهدي (ع) سره اړوند احاديث يې په څلورو برخو وېشلي دي: صحيح احاديث، حسن احاديث، غريب احاديث او موضوع احاديث،[۳] او ويلي يې دي چې وړومبۍ او دويمه برخه احاديث د کثرت او خپرېدو په وجه متواتر دي.

۶- ابن حجر عسقلاني (وفات ۸۵۲ هـ) هغه له نورو څخه په تواتر سره د قول په نقلولو سره[۴] يې د اسې تائيدوي:

---

[۱] - تفسير القرطبی ۸ ټوک ۱۲۱ او ۱۲۲ مخونه.
[۲] - تهذيب الکمال ۲۵ ټوک ۱۴۲مخ ۵۱۸۱ حديث .
[۳] - المنار المنيف ، ابن قيم ۱۳۵ مخ.
[۴] -تهذيب التهذيب ،عسقلانی ۹ ټوک ۱۲۵ مخ ۲۰۱ حديث

«په آخره زمانه کښې او د قيامت په نزديو کښې له دې امت څخه په يو کس پسې د عيسی (ع) نمونځ ادا کول دا قول صحيح ثابتوي چې زمکه به هيڅکله د خدا ے له حجت نه خالي نه شي.[1]

۷- شمس الدين سخاوي (وفات ۹۰۲ هـ) څو عالمانو ويلي دي چې سخاوي له هغو کسانو څخه دے چې په تواتر سره يې د مهدي (ع) په باره کښې حديثونه بيان کړي دي. لکه ابوالفيض غماري وائي چې شيخ محمد عربي فاسی په المقاصد کتاب کښې او محقق ابوزيد عبدالرحن بن عبدالقادر فاسي په مبهج المقاصد کتاب کښې د دې مطلب نسبت سخاوي ته ورکړے دے.[2]

همدارنګ ابو عبدالله محمد بن جعفر کتاني (وفات ۱۳۴۵ هـ) په «نظم المتناثر من الحديث المتواتر» کتاب کښې دغه عقيده د سخاوي له نظره نقل کړې ده.

۸- سيوطي (وفات ۹۱۱ هـ) د غماري شافعي د ليکنې له مخې او د «الفوائد المتاثره في الاحاديث المتواتره و الازهار

---

[1] - فتح الباری بشرح البخاری ،عسقلانی ۲ ټوک ۳۸۵ مخ.
[2] - المهدي المنتظر، ابوالفيض غماري ۹ مخ.

المتناثره» په شمول خپلو کتابونو کښې د حضرت مهدي (ع) په اړه د احاديثو تواتر بيان کړے دے.[1]

۹- ابن حجر هيثمي (وفات **۹۷۴** هـ) د حضرت امام مهدي (ع) د ظهور په حقله د مسلمانانو له عقيدې څخه زياته دفاع کړې ده او په دې اړه يې د احاديثو تواتر بيان کړے دے.[2]

۱۰- متقي هندي (وفات **۹۷۵** هـ) د کنز العمال کتاب مولف په خپل «البرهان فی علامات مهدی آخرالزمان» کتاب کښې په دليل او برهان سره د زمانې په امام (ع) باندې له عقيدې څخه دفاع کړې ده.

د دغه کتاب يوه ډېره مهمه برخه هغه څلور فتوې دي چې د اصلي څلورو سني فرقو له علماو څخه د حضرت امام مهدي (ع) د ظهور د منکرينو په رد باندې يې نقل کړي دي چې په دا ډول دي: ابن حجر هيثمي شافعي، شيخ احمد ابی السرور بن صبا حنفي، شيخ محمد بن خطابي مالکي او شيخ يحيی بن محمد حنبلي. متقي وائي:

[1] - ابرازالوهم المکنون، ابوالفيض **۴۳۲** مخ.
[2] - الصواعق المحرقه له ۱۲۲ نه تر ۱۲۷ پورې مخونه ۱ فصل ۱۱ باب.

«دغه ځلور تنه د مکې علماء او د مسلمانانو ځلورو مذهبونو فقیهان دي، او هر څوک چې د دوي فتوو ته مراجعه وکړي نو یقین پیدا کوي چې هغوي ټول د حضرت مهدي (ع) په اړه د احادیثو په تواتر باندې متفق دي او د دې عقیدې منکران د سزا وړ بولي او واضحه کړې یې ده چې د هغه وهل، تادیبول او سپکاوے یې کول واجب دي ان تردې چې حق ته راوګرځي او که راونه ګرځېد نو پکار دي وینه یې توې کړې شي.[1]

۱۱- محمد رسول برزنجي شافعي (وفات ۱۱۰۳ هـ) له حضرت امام مهدي (ع) سره د اړوندو احادیثو تواتر بیان کړے دے او وائي:

«په آخره زمانه کښې د مهدي (ع) د شتون او د هغه د پاڅون او دا چې د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه (وآله) وسلم له اهلبېتو او د بي بي فاطمه رضی الله عنها له اولاد څخه دے احادیث د معنوي تواتر حد ته رسېدلي دي او انکار ترې معنا نه لري.»[2]

[1] - البرهان علی علامات مهدي آخرالزمان له ۱۷۸ نه تر ۱۸۳ مخونه.
[2] - الاشاعه الاشراط الساعه ، برزنجي، ۸۷ مخ.

۱۲- شيخ محمد بن قاسم بن محمد جسوس (وفات ۱۱۸۲ هـ)؛ کتاني په نظم المتناثر کتاب کښې د مهدويت د احاديثو په تواتر باندې د هغه تاکيد نقل کړے دے.[۱]

۱۳- ابوالعلاء عراقي فاسي (وفات ۱۱۸۳ هـ)؛ هغهٔ د امام مهدي (ع) په باره کښې يو کتاب ليکلے دے او په «نظم المتناثر من الحديث المتواتر» کتاب کښې د دغو حديثونو په تواتر باندې د هغه تاکيد نقل شوے دے.[۲]

۱۴- شيخ سفاريني حنبلي ( وفات ۱۱۸۸هـ) قنوجي نقلوي چې هغه په خپل لوائح کتاب کښې له حضرت مهدي (ع) سره د اړوندو احاديثو د تواتر قائل دے.[۳]

۱۵- شيخ محمد بن علي صبان (وفات ۱۲۰۶ هـ)؛ هغه د حضرت مهدي (ع) په حقله د احاديثو تواتر له ابن حجر څخه د هغه په الصواعق المحرقه کتاب کښې او له نورو څخه نقل کړے او په هغو سره يې احتجاج کړے او هغه يې منلي دي.[۴]

[۱] - نظم المتناثر من الحديث المتواتر ۲۲۲ مخ ۲۸۹ حديث.
[۲] - نظم المتناثر من الحديث المتواتر ۲۲۲ مخ، ۲۸۹ حديث.
[۳] - الاذاعه قنوجي ۱۴۲ مخ.
[۴] - اصعاف الراغبين ۱۴۵، ۱۴۷ او ۱۵۲ مخونه.

۱۶- شوكاني (وفات ۱۲۵۰ هـ)؛ د هغه مشهور كتاب «التوضيح فى تواتر ما جاء في المتظر والدجال و المسيح» نوميږي، يعني له حضرت امام مهدي (ع) سره د اړوندو حديثونو د تواتر په اړه د هغه د منلو لپاره كافي دے.

۱۷- مؤمن بن حسن بن مؤمن شبلنجي (وفات ۱۲۹۱ هـ) هغهٔ د حضرت مهدي (ع) د احاديثو تواتر بيان كړے دے، په دې باندې په تاكيد سره چې هغه حضرت به له اهلبيتو (ع) څخه وي.[۱]

۱۸- احمد زيني دهلان (د شافعيانو مفتي، وفات ۱۲۰۴ هـ)؛ هغه د حضرت امام مهدي (ع) احاديث زيات شمېر كښې بيان كړي او وائي:

«د هغو د راويانو كثرت چې يو بل تقويتوي په دا ډول دي چې قطعيت بيانونكي دي.»[۲]

۱۹- ابو عبدالله محمد بن جعفر كتاني مالكي (وفات ۱۳۴۵ هـ)؛ د مهدي (ع) د احاديثو د تواتر په اړه د ځينو اقوالو له نقلولو وروسته وائي:

---

۱ - نورالابصار، شبلنجي ۱۸۷ او ۱۸۹ مخونه.

۲ - الفتوحات الاسلاميه ۲ ټوک ۲۱۱ مخ.

«نتيجه دا چې د مهدي منتظر (ع) په اړه راغلي حديثونه متواتر دي.[۱]

البته نور کسان هم شته چې په دې مختصر ليکنه کښې د هغوي ټولو وېناوې نه شي بيانېدې او يو شمېر محققانو له دريمې هجري پېړۍ نه تر ننه پورې د دغو حديثونو د راويانو څېړنه او تحقيق کړے دے.[۲]

دلته به ښه دا وي چې د استاد بديع الزمان سعيد (د څلورمې هجري پېړۍ د وړومبيو وختونو يو ستر سني عالم) وېنا ته اشاره وکړو.هغه وائي:

«په ټوله دنيا کښې هيڅ يوه هره اړخيزه، شريفه او بزرګواره ډله چې د اهلبېت (ع) منزلت ته ورسي نشته. هيڅ يوه قبيله نه شي کولې ځان د اهلبېتو (ع) د قبيلې محکم يووالي او يو ژبوالي ته ورسوي. د اهلبېتو (ع) د کورنۍ په شان هيڅ يوه نوراني ټولګه او جماعت نه پېدا کيږي.هو، بې له شکه اهلبېتو (ع) د قرآن د حقيقت له روح څخه خوړلي او د هغه له سرچينې څخه يې څښلي دي او د ايمان په نور او د اسلام په شرف سره يې رڼا موندلې ده.

۱ - نظم المتناثر من الحديث المتواتر له ۲۲۵ نه تر ۲۲۸ پورې مخونه، حديث ۲۸۹.
۲ - دفاع عن الكافي، ثامر العميدي ۱ ټوک، له ۳۴۳ نه تر ۴۰۵ پورې مخونه.

نو ځکه يې کمالاتو ته عروج وکړ، په سلګونو بې مثاله او ځانګړي اتلان يې دنيا ته راوړل او د امت د رهبرۍ لپاره يې په زرګونو مشران او نمونې وړاندې کړې او بې له شکه د خپل ډېر لوړ او ډېر لوړ قوماندان مهدي (ع) لپاره بشپړه عدالت او د هغه حقانيت د محمدي (ص) شريعت د احياء لپاره او د قرآن او احمدي سنتو حقيقت او د هغو تطبيق او اجراء به په دنيا کښې ښکاره او ښکاره کړي.او دغه چاره په آخر کښې عقلمندي ده، علاوه له دې نه چې ډېره ضروري او لازمي ده بلکه د اجتماعي ژوند او ټولو دينونو مقتضاء د ے.»[۱]

## حديثونه او د هغود جعلي والي قائل کسان

په اصلي سني سرچينو کښې د حضرت امام مهدي (ع) په باره کښې د دومره زياتو حديثونو باوجود بيا هم ځينې ناخبره کسانو د هغه حضرت په باره کښې حديثونو باندې نيوکه کړې ده او حتی د دې خبرې قائل شوي دي چې دغه حديثونه جعلي دي.

[۱] - اشراط الساعه (از کليات رسائل النور-الشعاع الخامس) ليک بديع الزمان سعيد نورسي، ترجمه احسان قاسم الصالحي، وړومبے چاپ، چاپ خانه الحوادث- بغداد ۱۴۱۲ هجري قمري ۳۷ او ۳۸ مخونه.

سيد هادي خسرو شاهي «مصلح جهاني و مهدي موعود از ديدگاه اهل سنت» نومې کتاب کښې د امام مهدي (ع) د احاديثود جعلي والي د قائلينو په باره کښې په تفصيل سره بحث کړے دے.[1]

هغه ځينې کسان چې د امام مهدي (ع) به باره کښې د حديثونو د جعلي والي قائل دي دغه کسان دي:

1- ابن خلدون په خپله مقدمه کښې ( له ۳۱۱ نه تر ۳۲۲ مخونه) (البته د حضرت امام مهدي (ع) په باره کښې د زياتو احاديثو له منلو نه وروسته.)

2- شيخ عبدالله بن محمود په خپله « لا مهدي ينتظرو بعدالرسول خيرالبشر» رساله کښې.[2]

3- ابوالاعلى مودودي په خپله «البينات عن المهدي» رساله کښې.[3]

4- احمد امين د «ضحى الاسلام» کتاب د ۳ ټوک له ۲۳۶ نه تر ۲۴۳ پورې مخونو کښې.

---

[1] - له مصلح جهاني کتاب څخه په نقل سره ۲۹۱ او ۲۹۲ مخونه.

[2] - له مصلح جهاني کتاب څخه په نقل سره ۲۹۱ او ۲۹۲ مخونه.

[3] - له مصلح جهاني کتاب څخه په نقل سره ۲۹۱ او ۲۹۲ مخونه.

5 - رشيد رضا د خپل المنار تفسير د ۹ ټوک له ۴۸۲ نه تر ۵۰۳ مخونو کښې.

د دغو کسانو دليل په مهمه توګه دوه څيزونه دي:

الف) په صحيحينو (صحيح بخاري او صحيح مسلم) کښې د امام مهدي (ع) د احاديثو نيشتوالے؛

ب) د امام مهدي (ع) د احاديثو ضعيف ګڼل.

د هغوي د وړومبني دليل په اړه بايد وويل شي چې په بخاري او مسلم کښې د يو حديث نيشتوالے د هغه په ضعيف والي او جعلي والي دليل نه شي کېدې. ځکه چې:

1-سني حديث پېژاندو هيڅکله د صحيح او غېرصحيح حديث د پېژندلو يوازېنے معيار په صحيحينو کښې د هغه شتون او نيشتوالے نه بولي، که څه هم د هغوي په نزد په صحيحين کښې د حديث شتون د هغه په صحيح والي باندې دلالت کوي.

2 - زيات حديثونه شته چې په صحيحينو کښې نه موندل کيږي خو د ټول سنيان يې مني، لکه د عشره مبشره او منکر نکير حديثونه.

3-د مستدرک حاکم کتاب شتون په دې خبرې باندې دليل دے چې ټول صحيح احاديث په صحيحينو کښې نه دي راغونډ شوي، ځکه چې په دغه کتاب کښې داسې حديثونه راوړلې شوي دي چې د شېخېنو شرائط لري.

4- خپله مسلم او بخاري اعتراف کوي چې ټول صحيح احاديث يې نه دي راغونډ کړي ، که څه هم ويلي يې دي چې هغه څه چې په صحيحينو کښې مو راوړي دي صحيح دي.
حافظ بن حجر په هدى السارى في مقدمه فتح الباري کتاب کښې وائي:
اسماعيلي د بخاري په نقل سره د هغه له قوله ليکلي دي؛ په دې کتاب کښې مې له صحيح (حديث) نه بغېر څه نه دي راوړي او هغه څه چې له صحيح حديثو مې پرېښودلي دي له هغو احاديثو څخه چې مې نقل کړي دي زيات دي.[1]
همدارنګ حافظ له ابواحمدبن عدى او هغه له حسن بن حسين بزار او هغه له ابراهيم بن معقل النسفي څخه نقلوي چې وائي، له بخاري نه مې ورېدل چې وې ويل:
ما أدخلت في كتاب الجامع إلا ما صح وتركت من الصحيح حتى لايطول...... ما په خپل جامع کتاب کښې له صحيح احاديثو نه بغېر څه نه دي راوړي او زياتره صحيح احاديث مې پرېښودل چې کتاب اوږد نه شي.[2]
نووي د صحيح مسلم د شرحې په سريزه کښې دې ته له اشارې وروسته چې ځينو بخاري او مسلم د هغوي د شرطونو مطابق د

[1] - هدى السارى فى مقدمه فتح البارى ۷ مخ
[2] - هدى السارى فى مقدمه فتح البارى ۷ مخ

حديثونو په درجولو لازمي کړي دي خو دغو دواړو ونه کړې شول هغه په صحيحينو کښې راوړي، وائي:

«په حقيقت کښې دا لازموالے منطقي نه دے، ځکه چې دغه دواړه د ټولواحاديثو په ضبطولو پابند نه وو، بلکه خپله وضاحت کوي چې وې نه کړې شول ټول احاديث ضبط کړي او اراده يې دا وه چې د احاديثو خلاصه راغونډه کړي، درست هم هغه شان چې يو فقيه وغواړی د مسائلو يوه برخه راغونډه کړی نه دا چې ټول مسائل په يو ځاے راغونډ کړي.»

**5-** په صحيح مسلم کښې د حضرت امام مهدي (ع) په باره کښې د واضحه حديث شتون (خو افسوس اوس پکښې نه موندل کيږي) څلور نامتو سني عالمانو د امام مهدي (ع) به باره کښې دا حديث چې: المهدي حق و هو من ولد فاطمه په خپلو کتابونو کښې له صحيح مسلم څخه نقل کړے دے. دغه څلور تنه عالمان په دا ډول دي:

- ابن حجر هېثمي (م ۹۷۴ هـ ق) د الصواعق المحرقه کتاب په يولسم باب، وړومبۍ برخه او ۱۲۳ مخ کښې.

- متقي هندي حنفي (م ۹۷۵ هـ ق) د کنزالعمال کتاب ۱۴ ټوک ۲۲۴ مخ، ۳۸۶۶۲ حديث کښې.

- شيخ محمد علي صبان (م ۱۲۰۲ هـ ق) د اصعاف الراغبين کتاب په **۱۴۵** مخ کښې.

- شيخ حسن عدوی حمزاوي مالکي (م **۱۳۰۳** هـ ق) د مشارق الانوار کتاب په ۱۱۲ مخ کښې.

**6-** په صحيحينو کښې د هغو احاديثو شتون چې له حضرت امام مهدي (ع) نه بغېر په بل چا نه اطلاق کيږي لکه:

د خدا ے ګران رسول (ص) وفرمايل: څه ډول به يئ چې د مريم زو ے په تاسو نازل شي په داسې حال کښې چې ستاسو امام به له تاسو څخه وي.[1]

مسلم په خپلو اسنادو سره له جابر بن عبدالله څخه راوړي دي چې وې ويل:

وامې ورېدل د خدا ے ګران رسول (ص) وفرمايل: زما د امت يوه ډله به د قيامت تر ورځې پورې په ډاګه د حق په بنياد مبارزه کوي. بيا يې وفرمايل: عيسى بن مريم به نازليږي. د ډلې قوماندان به ووائي، راشه مونږ ته نمونځ راکړه، عيسى به ووائي، نه، بې له شکه له تاسو څخه ځينې د دې امت د قدر وړتوب له کبله تاسو په نورو باندې امير يئ[2]

[1] - صحيح بخاري ۴ ټوک، ۲۰۵ مخ ما ذکر عن بنی اسرائيل باب.
[2] - صحيح مسلم ۱ ټوک ۱۳۷ مخ، ۲۴۷ حديث ، د عيسى بن مريم نزول باب.

د صحيح او مسند وغيره په شمول د سنيانو د حديثونو نورو کتابونو ته مراجعه وکړوو نو نو ډېر داسې روايتونه مومو چې په واضحه توګه بيانوي چې د ډلې هغه قوماندان له حضرت امام مهدي (ع) نه بغېر بل څوک نه دے. د نمونې په توګه د ابن ابي شيبه په حديث کښې ابن سيرين ويلي دي:

مهدي له دې امت څخه هغه کس دے چې د عيسي بن مريم امامت به کوي.[1]

يا د ابونعيم په حديث کښې ابي عمرو داني په خپل سنن کښې د حذيفه په نقل سره وائي:

د خدائے ګران رسول (ص) وفرمايل: مهدي به نظر واچوي په داسې حال کښې چې عيسی بن مريم به نازل شي، ته به وائې چې اوبۀ يې له وېښتو څاڅي، نو مهدي به ورته ووائي: رامخکې شه او خلقو ته نمونځ ورکړه، عيسی به ځواب ورکړي چې نمونځ يوازې ستاسولپاره قائم شوے دے. نو (عيسی به) زما له فرزندانو څخه د يو کس په امامت کښې نمونځ ادا کړي.[2]

په فتح الباري بشرح صحيح البخاري کتاب کښې په تواتر سره د حضرت مهدي (ع) په اړه د حديثونو شرح ليکلې شوې ده. لکه د تېر شوي حديث په شرح کښې وائي:

---

[1] - المصنف ابن ابی شيبه ۱۸ ټوک ۲۷۹ مخ ۱۹۵ حديث.

[2] - الحاوي للفتاوی ۲ ټوک ۸۱ مخ.

«د دې امت د يو سړي په امامت کښې د حضرت عيسی (ع) نمونځ ادا کول دې ته په پام سره چې په آخري زمانه کښې او د قيامت په نزديو وختونو کښې دي د هغو وېناو د صحت او سموالي ښودنه کوي چې وائي بې له شکه چې د خدا ے زمکه به بې حجته خالي پاتې نه شي.»[1]

همدا رنګ په «ارشاد الساري بشرح البخاري» کتاب کښې يې د حضرت امام مهدي په اړه حديث تفسير او تشريح کړے دے چې حضرت عيسی (ع) به په نمانځه کښې د حضرت امام مهدي (ع) اقتداء کوي.[2]

په فيض الباري کتاب کښې د بخاري د حديث په تفسير کښې زيات تاکيد موجود دے. په دغه کتاب کښې له ابن ماجه قزويني څخه يو حديث راوړلے شوے دے او بيا ليکي:

«په حديثونو کښې د (الامام) مصداق هم هغه (الامام المهدي) دے.»

بيا زياتوي:

«نو له دې وروسته به په کوم حديث ايمان راوړي» [3]

---

[1] - فتح الباري بشرح صحيح البخاري ۶ ټوک له ۳۸۳ نه تر ۳۸۵ پورې مخونه.

[2] - ارشاد الساري بشرح صحيح البخاري ۵ ټوک ۴۱۹ مخ او همدا رنګ د عمدة القاري بشرح صحيح البخاري ۱۶ ټوک ۳۹ او ۴۰ مخونه.

[3] - فيض الباري على صحيح البخاري ۴ ټوک له ۴۴ نه تر ۴۷ پورې مخونه.

همدارنګ د بيداء په زمکه کښې د لښکر د ننوتلو حديث دے.
مسلم په خپل صيحيح کښې په خپل استناد سره له عبدالله بن قبطيه څخه راوړي دي چې وې ويل:
«حارث بن ابي ربيعه او عبدالله بن صفوان له ما سره ام المومنين بي بي ام سلمې (رض) ته ورغلو. هغو دواړو ترې د هغه لښکر په باره کښې چې په زمکه کښې به ننوځي پوښتنه وکړه. (دا د عبدالله بن زبير په وخت کښې وو) بي بي ام سلمې وويل: د خداے ګران رسول (ص) وفرمايل:
«پناه غوښتونکې به هغه وخت د خداے کور ته پناه يوسي. هغه وخت به يوه ډله ورپسې ولېږلې شي، کله چې هغوي بيداء سيمې ته ورسي نو زمکه به يې ځان ته راکاږي.» [۱]
مونږ د آيتونو په برخه کښې د «ولو تر از فزعوا.....» آيت په باره کښې بحث وکړ چې دغه آيت د امام مهدي (ع) په باره کښې تفسير شوے دے. ومووېل چې د بيداء په نامه يوه سيمه کښې به د هغه حضرت د دښمنانو په زمکه کښې ننوتل عملي شي.
د ويلو ده چې حديث پېژاندي د امام مهدي (ع) د حديثونو صحيح والے او تواتر والے بيانوي، د مهدوي احاديثو د جعلي والي له قائيلينو څخه هيڅ يو حديث پېژاندے نه دے چې يې

۱ - صحيح مسلم به شرح النووي ۱۸ ټوک له ۴ نه تر ۷ پورې مخونه.

ضعيف والي ته توجه وشي. همدغه مطلب احمد شاکر چې يو ښه محقق دے د ابن خلدون د تضعيف په اړه ذکر کړے او وائي: «ابن خلدون داسې برخې ته داخل شوے دے چې په اړه يې هيڅ معلومات نه لري او کوشش يې کړے دے چې داسې يو کار په غاړه واخلي چې يې اهليت نه لري. هغه په هغه برخه کښې چې د خپل کتاب په سريزه کښې راوړې ده د حېرانونکو تناقض وينو او څرګندو اشتباهاتو مرتکب شوے دے. ځکه چې د محدثينو په خبره نه دے پوه شوے او که د هغوي له ويناو خبر شوے وې او څېړنه يې کړې وې نو داسې خبرې به يې نه کولې.» [1]

## ناسم احاديث او د هغو څېړنه

1 - لا مهدي الا عيسى حديث: دا حديث ابن ماجه له يونس بن عبدالاعلى، هغه له شافعي، هغه له محمد بن خالد جندي، هغه له ابان بن صالح ، هغه له حسن بصري، هغه له انس بن مالک او هغه له پېغمبراکرم (ص) څخه نقل کړے دے چې فرمائي:

«کار به وده ونه کړي بې د هغه د شدت او سختۍ څخه او په دنيا کښې بې له پستۍ تګ نه کوي او خلق بې له بخيلۍ څه ته

[1] - د صلح جهاني کتاب په نقل سره د مسند احمد بن حنبل د احاديثو په اخراج کښې.

مخه نه کوي، او قيامت بې د بدو او شر غوښتونکو خلقو څخه نه رامنځته کيږي او له عيسی بن مريم نه بغېر څوک مهدي نشته.»[1]

د دې حديث په بطلان او رد کښې همدا بس دي چې له مخکښنيو ټولو صحيح او متواترو حديثونو سره مخالف دے. ځکه چې که ټاکل شوې وي په هر روايت استدلال وشي نو په داسې صورت کښې به د رجال علم او د درايت الحديث فن يو بېهوده او لغو علم وي. د دغه علم ځنګته کول د دروغو ويونکو د ټولو جعلي او وضع شويو حديثونو د منلو، د ناپېژندل شويو او مجهول الهويه کسانو د مشهور بللو په معنا دي او په دا ډول به د اسلام په مبين دين کښې هيڅ متواتر حديث باقي پاتې نه شي. ځکه چې امانتدار او د اعتماد وړ کسان له غرضي او ناپاکو کسانو سره د طعنو هدف ګرځي او نېکان او بدان به په خپلو کښې سره ګډوډ شي.

کوم عقلمن مسلمان د محمد بن خالد الجندي وښا چې دروغجنو راويانو په قطار کښې شامل دے ومني او تصديق به يې کړي. په داسې حال کښې چې د يمن له پائېتخت صنعاء څخه

---

[1] -سنن ابن ماجه ۲ ټوک ۱۳۴۰ مخ ۴۰۳۹ حديث. البته ابن ماجه خپله هغه کس دے چې «مهدي حق او د بي بي فاطمې فرزند دے» حديث يې راوړے دے، ۲ ټوک ۱۳۶۸ مخ ۴۰۸۶ حديث

د دوه ورځو په فاصلې سره يې د پېغمبراکرم (ص) له خولې مبارکې جوړ کړے په دې اړه چې د څلورو جومات لوري ته کوچ او سفر کول غوره کار دے: مسجدالحرام، مسجد مدينه، مسجدالاقصی او د جند سيمې جومات.[١]

په دا ډول يې خلق د جند فوځي سيمې زيارت کولو ته د مجبورولو او هڅولو کوشش کړے دے. هغه د خپل مقصد حاصلولو لپاره وړومبې د مسلمانانو د درې مقدسو جوماتونو ذکر راوړے دے چې خپل مقصد ته لاره برابره کړي.
ډېره د حېرانۍ او تعجب خبره ده چې څه ډول يوه جمله چې جندي په حديث کښې زياته کړې ده يعنې ولا مهدي الا عيسی بن مريم، د ابن ماجه په شان شخصيت له نظره پټه پاتې شوې ده.
په داسې حال کښې چې نورو معتبرو راويانو هم دغه حديث د زياتې کړې شوې جملې نه بغېر نقل کړے دے. لکه په خپلو سندونو سره له ابو امامه څخه د طبراني او حاکم روايت چې په دقيقه توګه په همدغو الفاظو سره خو بې له دغې اضافي جملې دے او حاکم دغه روايت صحيح بللے دے او په باره کښې يې

[١] - تهذيب التهذيب ٩ ټوک ١٢٥ مخ ٢٠٢ حديث.

وائي: «دغه حديث صحيح سندونه لري خو دغو دواړو هغه نه دے نقل کړے.»[1]

البته حاکم د ابن ماجه حديث په هم هغې اضافي جملې سره په خپل مستدرک کښې نقل کړے او وائي چې د حېرانتيا او تعجب په وجه يې راوړے دے.

ابن قيم هم په المنارالمنيف کښې له اضافي جملې سره دغه حديث راوړے دے او په باره کښې يې د سني عالمانو وېناوې بيان کړې دي چې وائي يوازې محمد بن خالد جندي د داسې يو حديث راوي دے. هغه د محمد بن خالد په باره کښې د آبري شافعي (وفات ۳۶۳ هـ) وېنا نقلوي:

« دغه محمد بن خالد د منقولو او حديث د علم د عالمانو په نزد مشهور او پېژندل شوے کس نه دے.»

بيا د بېهقي د نظر څرګندونه داسې بيانوي:

«محمد بن خالد د دغه حديث په نقلولو کښې يوازې دے او حاکم ابو عبدالله يې په باره کښې ويلي دي چې هغه مجهول او نا پېژندل شوے کس دے او د هغه د حديث په سندونو کښې اختلاف دے. له هغه او هغه له ابان بن ابي عياش او هغه له حسن څخه او هغه له پېغمبراکرم (ص) څخه مرسلاً نقل کړے

[1] - مستدرک حاکم ۴ ټوک ۴۴۰ مخ معجم کبير طبراني ۸ ټوک ۲۲۷ مخ.

دے. نو بس حديث د محمد بن خالد نقل ته بيا ګرځي چې ناشناخته دے او هغه له ابان بن ابی عياش څخه نقلوي چې څنګته کړے شوے دے او بيا له حسن څخه او هغه له پيغمبراکرم (ص) څخه چې دلته حديث پرې شوے دے. نو ځکه مهدي له خروج سره متعلق د احاديثو اسناد زيات صحيح دي.»[1]

ابن حجر هم د محمد بن خالد په باره کښې د ابو عمرو او ابوالفتح ازدي غندنې نقل کړې دي.[2] هغه داسې وائي:

«نسائي وضاحت کړے دے چې هغه منکر او غلط کس دے او نورو حافظانو تاکيد کړے دے چې مخکيني حديثونه (يعنې هغه حديثونه چې په واضحه توګه امام مهدي (ع) د بي بي فاطمې اولاد بولي) سندونه يې ډېر صحيح دي.[3]

ذهبي وائي:

«ازدي ويلي دي دغه حديث صحيح نه دے او ابو عبدالله حاکم ويلي چې ناپېژندل شوے او مجهول دے، او زۀ وايم چې ولا

---

١ - المنارالمنيف ١٢٩ مخ ٣٢۴ حديث و ١٣٠ مخ ٣٢۵ حديث.

٢ - تهذيب التهذيب ٩ ټوک ١٢۵ مخ٢٠٢ حديث.

٣ - الصواعق المحرکه ١۶۴ مخ.

مهدي الا عيسى بن مريم حديث غلط دے چې ابن ماجه نقل کړے دے.»[1]

قرطبي وائي:
«او د هغه دا وېنا چې ولا مهدي الا عيسى بن مريم په دې باب د احاديثو خلاف دے.»
هغه د هغو کسانو چې محمد بن خالد يې غندلے دے او د هغه د حديث عېب جوئي يې کړې ده وائي:
«د خدا ے د ګران رسول (ص) له اهلبېتو او د بي بي فاطمې له اولاد څخه د مهدي (ع) په خروج باندې په نص کښې له هغه حضرته نقل شوي حديثونه له دغه حديث نه ډېر صحيح او ثابت دي، نوپکار دي د هغو په بنياد قضاوت وشي، نه په دغه يو روايت.»[2]
همدارنګ ابونعيم په حلية الاولياء کتاب کښې دغه حديث غريب بللے او وائي:
«دغه مو د شافعي له حديث نه بغېر نه دے ليکلے»[3]

[1] - ميزان الاعتدال ۳ ټوک ۵۳۵ مخ ۷۴۷۹ حديث.
[2] - التذکره ۲ ټوک ۷۰۱ مخ.
[3] - حلية الاولياء ۹ ټوک ۶۱ مخ.

او ابن تیمیه وائي:

«هغه حديث چې پکښې لا مهدي الا عيسى بن مريم جمله راغلې ده د ابن ماجه لخوا نقل شوے دے چې يو ضعيف حديث دے. ابن ماجه هغه له يونس او هغه له شافعي څخه او هغه له يو ناپېژندل شوي بوډا يمني څخه نقل کړے دے چې په دغو اسنادو سره دليل او حجت نه شي برپا کېدې او دغه يمني سړے د هغه په اسنادو کښې نشته او تکيه يې په يونس بن عبدالاعلى ده چې ترې روايت کوي چې وې ويل، له شافعي څخه ما ته حديث روايت شوے دے او په الخلعيات وغېره کښې وائي چې: يونس له شافعي نه ما ته حديث نقل کړ او نه وائي چې شافعي راته حديث نقل کړ. او دا د حديث د اسنادو پټول د هغه په سپکاوي او وړوکي ګڼلو باندې دليل دے. او داسې کسان هم شته چې وائي، هغه شافعي نه دے نقل کړے.»[1]

البته زياتو نيوکو، رټنو او تضعيفونو چې د محمد بن خالد جندي په اړه راغلي دي د شافعي ځينې پېروکار يې په فکر کښې اچولي دي چې د دغه حديث نسبت له هغه څخه لرې کړي او د هغه شاګرد په دروغ ويلو تورن کړي چې وائي: چې دغه حديث شافعي له محمدبن خالد جندي څخه نقل کړے دے او

[1] - منهاج السنه ابن تيميه ۴ ټوک ۱۰۱ او ۱۰۲ مخونه.

ادعا يې کړې ده چې شافعي يې په خوب کښې ليدلے دے چې ويل يې: يونس بن عبدالاعلى په ما پورې دروغ تړلي دي او دغه حديث زما نه دے.[1]

همدارنګ ابوالفيض غماري ولا مهدي الا عيسى بن مريم حديث غلط او سست بللے او د دغه مطلب لپاره يې اته ډېر صحيح او متين دلائل راوړي دي.[2]

۲- يواطی اسمه اسمی و اسم ابيه اسم ابي حديث: دا حديث ابوداؤد په خپل سنن کښې له زائده او هغه له عبدالله بن عمر څخه نقل کړے دے چې وې ويل پېغمبراکرم (ص) فرمايلي دي: لاتذهب الدنيا حتى يبعث الله رجلاً من أهل بيتي، يواطئ اسمه اسمي، واسم أبيه اسم أبي يملؤها قسطا وعدلا كما ملئت ظلما وجورا يعنې دنيا به ختمه نه شي او د دنيا عمر به تېر نه شي تردې چې خدا ے به زما له اهلبېتو څخه يو سړے راپاڅوي چې نوم به يې زما له نوم سره يو شان وي او د پلار نوم به يې زما د

---

[1] - الفتن والملاحم (ابن کثير) ۳۲ مخ.
[2] - ابراز الوهم المکنون ۵۳۸ مخ.

پلار له نوم سره يو شان وي، هغه به دنيا له عدل او انصافه ډکه کړي هم هغه ډول چې له ظلم او ستمه ډکه وه.[۱]
په دغه حديث کښې د حضرت مهدي (ع) د پلاو نوم عبدالله معرفي شوے دے، ځکه چې د پېغمبر اکرم (ص) د پلار نوم عبدالله دے. حال دا چې مونږ يقين لروو چې د امام مهدي (ع) د پلار نوم امام حسن عسکري (ع) دے. نو ځکه د دغه حديث په اړه له شک سره مخامخ کيږو. خو له تحقيق او څېړنې وروسته پوهيږوو چې اسم ابيه اسم ابی برخه د حديث جز نه دے او کېدې شي د راوي لخوا پکې زيات شوي وي. ځکه چې د دغه حديث يوازېنے راوي زائده بن ابي الرقاد دے چې د رجال د علم عالمانو او حديث پېژاندو ضعيف او مجهول بللے دے.
ذهبي په ميزان الاعتدال کښې هغه ضعيف ګنلے او ويلي يې دي:
«بخاري هغه منکر حديث بولي او نسائي د هغه په باره کښې وائي: لا ادري ما هو يعني زۀ هغه نه پېژنم او ابن سلام هم هغه ضعيف بللے دے.[۲]

[۱] - سنن ابو داود ۴ ټوک ۱۰۶ مخ، ۴۵۸۲ حديث او نور کتابونه چې له ابوداود څخه يې راوړي دی.
[۲] - ميزان الاعتدال ۲ ټوک ۶۵ مخ.

ابن حجر د ابوحاتم له قوله نقل کړي دي چې ويلي يې دي:
«ابی الرقاد مرفوع منکر حديثونه له انس بن مالکه راوړي او همدارنګ يې د ابوداؤد له قوله نقلوي چې ويلي يې دي: لا اعرف خبره يعني خبر يې نه پېژنم. په داسې حال کښې ابوداؤد د بحث وړ حديث له هغه نه نقل کړے دے او دا خبره د دې ښودنه کوي چې د ابوداؤد لپاره د حديثونو راغونډول مهم وو نه د هغو څېړنه.»
بيا يې د ابن حيان قول راوړي چې ويلي يې دي:
ابي الرفاد منکر احاديث له نامتو او مشهورو کسانو نقلوي.[1] او دا چاره دا خبره ثابتوي چې هغه به په چالاکۍ سره په احاديثو کښې لاسوهنه کوله نو همداوجه ده چې اسم ابيه اسم ابي برخه يې پکښې زياته کړې ده.
د رجال د خاوندانو عالمانو د اقوالو له نقلولو وروسته بايد ووايوو چې وړومبې خو ابی الرقاد حديث په مرفوع شکل له عبدالله بن عمر نه نقل کړے دے، دويمه هغه ضعيف، مجهول او منکر دے، او په حديثونو کښې به يې په چالاکۍ سره لاسوهنه کوله چې په نتيجه کښې د هغه نقل او روايت ارزښت نه لري ، ځکه چې په حديث کښې يې د لاسوهنې امکان زيات دے.

[1] - تهذيب التهذيب ۳ ټوک ۲۷۲ او ۲۷۳ مخونه.

له دې نه علاوه نوموړے حديث د اسم ابيه اسم ابي له اضافې نه بغېر حديثونو سره چې په ګڼ شمېر طريقو سره له زر بن جبيش څخه د مسند احمد بن حنبل او سنن ابوداؤد په شان زياتو كتابونو كښې راغلي دي[1] مخالف دے، نو ځكه د ابي الرقاد په حديث باندې اعتنا نه شي كېدې.

كُنجي شافعي د هغه په باره كښې وائي: وهو يزيد في الحديث، يعنې هغه هاغه كس دے چې په حديثونو كښې به يې اضافه كوله.[2]

خو يو شمېر شيعه بزرګانو په حديث كښې د دغه زياتوالي په اړه د دې قائل دي چې په نوموړي حديث كښې تصحيف شوے دے. يعنې د ابني په ځاے ابي ليكل شوے دے.

له دې نه په تېرېدو سره چې تصحيف به خپله د راوي لخوا شوے وي او كه په ليكلو كښې اشتباه شوے ده.

نو په دې بنياد كه حديث اسم ابيه اسم ابنی وي نو معنا يې داسې كيږي: د مهدي د پلار نوم به زما د فرزند نوم وي. يعنې زما د فرزند نوم حسن دے او د امام مهدي (ع) د پلار نوم به هم

[1] - مراجعه وكړئ فرائد فوائد المفكر في الامام المهدي المنتظر ليكوال مرعي بن يوسف مقدسي حنبلي د شيخ سامي غريري په تحقيق سره له ۲۹ نه تر ۷۱ بورې مخونه.
[2] - البيان ۸۷ مخ.

حسن وي. نو په دا ډول په حديث کښې د زيات والي شک ختمېدې شي.
ځينو هم ويلي دي چې امام حسن عسکري (ع) دوه يا درې نومونه لري چې يو پکښې عبدالله هم دے.
۳- د امام مهدي (ع) د عباس له فرزندانو څخه حديث: په دې باره کښې چې امام مهدي (ع) د پېغمبراکرم (ص)، امام علي، بي بي زهرا، حسن او حسين او امام حسن عسکری عليهم السلام اولاد دے زيات حديثونه موجود دي چې صحيح والے او تواتر يې د سني عالمانو په نزد ثابت شوے دے[1] چې مونږ په دې اړه چې امام مهدي (ع) د حضرت عباس له اولاد څخه دے بې نيازه کوي. البته د زيات وثوق او اطمينان لپاره يو شمېر هغه احاديث[2] چې د مخالفينو او عناد لرونکو د بحثونو په سر کښې ګرځېدلي دي څېړوو.

وړومبے حديث د خدا ے له ګران رسول (ص) څخه نقل شوے دے چې وې فرمايل:

---

[1] - په دې اړه د سني علماؤ اقوال به چې امام مهدي (ع) د امام حسن عسکري (ع) فرزند دے په دريم باب کښې وګورئ.
[2] - په دې وجه چې په کتابونو کښې د حديث په نامه ذکر شوي دي نو مونږ هم يې په اړه د حديث اصطلاح استعمالوو.

المهدى من ولدالعباس [عمی] مهدي زما د ترۀ عباس له اولاد څخه دے.[1]

سيوطي په الجامع الصغير کښې دغه حديث نقل کړے او وائي: دا حديث ضعيف دے.[2]

مناوي شافعي په فيض القدير کښې يې په حقله وائي:

دارقطني دغه حديث د آحاد حديث په توګه راوړے دے او ابن جوزي وائي: د هغه په رجالو کښې محمد بن وليد مقري دے چې ابن عدي يې په باره کښې ويلي دي: هغه په حديث کښې کمے زياتے راولي او پکښې غلا کوي او سندونه يې ګډوډوي. او ابن ابي معشر يې په باره کښې وائي: هغه دروغجن دے. سمهودي ويلي دي: مخکيني او وروستي روايتونه يې صحيح دي خو په دې حديث کښې محمد بن وليد يو پست جعل کونکے دے.[3]

سيوطي په الحاوى للفتاوي کښې، ابن حجر په الصواعق، صبان په الاسعاف کښې او ابوالفيض په ابرازالوهم المكنون

---

[1] - ذخائرالعقبى ٢٠٢ مخ. کنزالعمال ١۴ ټوک ٢٢۴ مخ ٣٨٦٢٣ حديث.
[2] - الجامع الصغير ٢ ټوک ٢٧٢ مخ ٩٢۴٢ حديث.
[3] - فيض القدير ۶ ټوک ٢٧٨ مخ ٩٢۴٢ حديث.

كښې هغه ضعيف بللے او د هغه په مجهول والي كښې يې ډېر څه ويلي دي.[1]

دويم حديث) روايت شوے دے چې پېغمبراكرم (ص) خپل ترۀ حضرت عباس ته وفرمايل:

يا عمّ النبي ان الله ابنه ابتدا بى الاسلام و يسختمه بغلام من ولدک و هوالذي يتقدم لعيسى بن مريم، يعنې اے د پېغمبر ترۀ خدا ے پاک اسلام په اسلام سره شروع کړ او ستا له فرزندانو څخه په يو ځوان سره به يې خاتمې ته ورسوي او هغه هغه کس دے چې له عيسى بن مريم څخه به مخکې کيږي.[2]

د نوموړي روايت په اسنادو کښې چې خطيب په خپل تاريخ کښې نقل کړے يو محمد بن مخلد شتون لري.

ذهبي ابن مخلد ضعيف بللے او په هغه باندې د خطيب په اعتماد يې حېرانتيا ځرګنده کړې او وائي:

[1] - الحاوى للفتاوى ۲ ټوک ۸۵ مخ، الصواعق المحرقه ۱۶۶ مخ، اصاف الراغبين ۱۵۱ مخ، ابرازالوهم المکنون ۵۶۳ مخ.
[2] - تاريخ بغداد ، ۴ ټوک ۳۴۰ مخ او ۴ ټوک ۹۳ مخ.

هغه يې له محمد مخلدعطار څخه روايت کړے دے چې همدغه د هغه آفت او د حېرانتيا سبب دے چې خطيب په خپل تاريخ کښې راوړے دے خو ضعيف يې نه دے ګڼلے، داسې ښکاري چې د هغه د عزت د خيال ساتلو لپاره يې خاموشي اختيار کړې ده.[1]

دريم حديث) له پېغمبراکرم (ص) څخه د ابوالفضل حديث چې وې فرمايل:

يا عباس اذا كانت سنة خمس و ثلاثين و مائة فهى لک و لولدک مهم السفاح و منهم المنصور و منهم المهدي.[2]

ذهبي د دغه حديث په باره کښې وائي:

په اسنادو کښې يې له سعيد بن خېثم څخه احمد بن راشد هالي شتون لري چې ل خېثم او حنظله څخه په نقل سره يې يو باطل روايت راوړے دے.

او د احمد بن راشد په باره کښې وائي:

هغه دے چې د ناپوهۍ په وجه يې حديث جعل کړے دے.[1]

[1] - ميزان الاعتدال ۱ ټوک ۷۹ مخ.
[2] - تاريخ بغداد ۱ ټوک ۸۵ مخ تاريخ دمشق، ۲۶ ټوک ۳۵۲ مخ.

د دې په شان يو بل حديث په سيوطي کښې په للئالی المضنوعة في لاحاديث الموضوعة کښې له ابن عباس څخه نقل کړے او وائي:

حديث جعلي او غېر اصلي دے.[٢]

ابن کثير هم هغه البداية والنهاية کښې له ضحاک او هغه له ابن عباسه نقل کړے او وائي چې:

دغه اسناد ضعيف دي ځکه چې ضحان له ابن عباس څخه څه نه دي اوريدلي نو ځکه حديث منقطع دے.[٣]

حاکم هم په نورو سندونو سره حديث راوړے دے چې د هغوي ترمېنځ اسماعيل بن ابراهيم مهاجر دے. ابوالفيض غماري شافعي له ذهبي نه نقلوي چې د اسماعيل د نقل په ضعيف والي باندې اتفاق لري ، که څه هم پلار يې داسې نه دے.[۴]

نو په دا ډول دا خبره معلوميږي چې بني عباس په خپله ګټه حديثونه جعل کړي دي.

---

[١] - ميزان الاعتدال ١ ټوک ٩٧ مخ.
[٢] - الثالي المضوعه ١ ټوک ۴٣۴ او ۴٣۵ مخونه.
[٣] - البداية والنهاية ۶ ټوک ٢۴۶ مخ.
[٤] - ابراز الوهم المکنون **۵۴٣** مخ.

## د سُني علماو اقوال

سني بزرګان او عالمان په دې خبره اعتراف کوي چې امام مهدي (ع) د امام حسن عسکري (ع) زوے دے او د هغه د ولایت وضاحت یې کړے دے.

قرماني، ابوالعباس احمد بن یوسف دمشقي (وفات ۱۰۱۹ هـ) وائي:

د کتاب یولسم باب د امام حسن عسکري د فرزند خلف صالح امام ابي القاسم م ح م د حال په بیان کښې دے چې د پلار د وفات په وخت یې عمر پینځه کاله ؤ، خو خدائے پاک هغه ته حکمت (او امامت) عطا کړ لکه چې حضرت یحیی ته ورکړے شو. هغه متوسطه قامت، ښکلي وېښتهٔ، ښکلې پوزه او پراخه تندي لرونکے دے.[۱]

نو معلومیږي چې مسئله دومره واضحه، حتمي او یقیني ده چې دغه مورخ حتی د هغه حضرت د قیافې او شمائلو مبارکو ذکر هم کړے دے او د هغه ولادت یې له حتمي چارو څخه بللے دے او

۱ - اخبارالدول و آثارالاول ۱۱۷ مخ.

هغه بزرګوار يې د الخلف الصالح لامام په جملې سره ياد کړے دے.

حافظ ابو عبدالله محمد بن يوسف کُنجي شافعي (وفات ۶۵۸ هـ) د نورو په شان د امام مهدي (ع) رحلت او د امام مهدي (ع) ولادت يې بيان کړے دے او هغه يې امام منتظَر نومولے دے. د هغه عين کلام داسې دے:

اما حسن عسکري – صلوات الله عليه- په ۲۶۰ هجري کال کښې د ربيع الاول په ۸ نېټه د جُمعې په ورځ په سامرا کښې له دنيا رخصت شو او په هغه کور کښې چې پلار يې دفن شوے ؤ دفن کړے شو. زوے يې له ځانه وروسته پرېښود او هغه دے امام المنتظر.

کفايت الطالب کتاب مو دلته ختم کړ او د امام المنتظر حالات به په يو خاص کتاب کښې وليکوو.[1]

بايد ووېل شي چې دغه عالم «کفايت الطالب فى المناقب» کتاب د حضرت عسکري صلوات الله عليه په حالاتو کښې ختم کړے دے او بيا يې د حضرت مهدي (ع) حالات «البيان فى

[1] - کفايت الطالب في المناقبو فرع فى ذکر الائمه ۳۱۲ مخ.

اخبار صاحب الزمان» نومې کتاب کښې ليکي دي. حاج خليفه په کشف الظنون کتاب[1] کښې وائي: البيان فى اخبار صاحب الزمان للشيخ ابى عبدالله محمد بن يوسف الکنجي المتوفي سنه ۶۵۸. نو ځکه له هغه سره د دغه کتاب په نسبت کښې هيڅ شک نشته.

البته د ډېرې زېرتيا ځاے دے چې دغه مشهور حافظ په وضاحت سره وائي: وهوالامام المنتظر.

خدايه! د دغو علماو په نزد مضمون څومره واضحه او څرګند ؤ چې بې له څه شک او ترديده وائي، و هوالامام المنتظر. سبحان الله! خو افسوس چې د امويانو او عباسيانو خلافتونه د دغو حقائقو د ترويج د لارې خنډ وګرځېدل.

مسعودي، ابي الحس علي بن الحسين (وفات ۳۴۶ هـ) د حضرت امام حسن عسکري (ع) رحلت د ۲۶۰ هجري کال له پېښنو څخه ګڼلے او د امام مهدي (ع) د ولادت وضاحت يې کړے دے. د هغه عين کلمات په دا ډول دي:

[1] - کشف الظنون ۱ ټوک باب الباء ۲۶۳ مخ.

په ۲۲۰ هجري کال کښې ابومحمد حسن عسکري ... له دنيا لاړ، د هغه عمر ۲۹ کاله ؤ او هغه د اماميه شيعه ؤ په نزد د مهدي منتظر او دولسم امام پلار دے.[۱]

بايد وويل شي چې شيعه مسعودي شيعه بولي او سنيان يې په سني عقيده بولي. حاج خليفه په کشف الظنون کتاب کښې د هغه د کتاب په حقله خبرې کړې دي. په هر حال د هغه خبرې د سني او شيعه مسلمانانو دواړو لپاره معتبرې دي. دغه معتبر مورخ هم د زمانې د امام – صلوات لله عليه – ولادت مسلم او قطعي بولي.

ابن حجر هېثمي مکي شافعي ( وفات ۹۷۴ هـ ) په صواعق محرقه کښې د امامانو حالات نقل کړي دي او چې کله امام حسن عسکري (ع) ته رسيږي نو داسې ليکي:

امام حسن عسکري (ع) په سامرا کښې وفات شو او له خپل پلار او ترهٔ سره نزدې دفن کړے شو، د رحلت په وخت يې عمر ۲۸ کاله ؤ. د يو قول له مخې زهر ورته ورکړے شول او هغه له ځانه وروسته له ابوالقاسم محمد حجت نه بغير بل فرزند پرې نښود. د

[۱] - مروج الذهب ۲ ټوک ۴۴۱ مخ (د معتمد عباسي د احوالو ترځنګه)

خپل پلار د رحلت په وخت یې عمر پينځه کاله ؤ خو خدا ے په هم هغه کم عمر کښې هغه ته د امامت حکمت عطا کړے ؤ.[۱]

دلته ضروري ده څو ټکو ته اشاره وکړوو؛

وړومبے) لکه چې په وړومبۍ برخه کښې تېر شول چې ابن حجر مکي له هغو کسانو څخه دے چې په تواتر سره یې «یکون بعدي اثنا عشر خلیفه کلهم من قریش» حدیث باندې اقرار کړے دے، خو د هغو دولسو کسانو په ټاکلو کښې څه ځا ے ته نه د ے رسېدلے او نه یې دي کړې شوي د هغو مصداق بیان کړي سره له دې چې د حضرت امام علي (ع) او د هغه د یولسو فرزندانو حالات یې په تفصیل سره بیان کړي دي.

دویم) په ظاهره په عندابیه و عمه عبارت کښې به د عمه په ځا ے عمته وي، ځکه چې په سامرا کښې څلور کسان څنګ په څنګ ښخ شوي دي. امام علي نقي ، امام حسن عسکري ، د امام مهدي مور بي بي نرجس خاتون او د امام محمد تقي لور او د امام حسن عسکري چاچي بي بي حکیمه سلام الله علیهم اجمعین. او هلته کښې د هغه حضرت د ترۀ په نامه څوک کس موجود نه د ے.

---

۱ - الصواعق المحرقه ۱۱ باب ۳ فصل ۲۰۲ مخ.

دريم) دا چې د امام مهدي (ع) په باره کښې ويل شوي دي: لکن اتاء الله فيهاالحکمه. ابن حجر د امام مهدي (ع) په امامت اقرار کړے دے. لکه څنګه چې د حضرت يحيی (ع) په باره کښې راغلي دي « وَآتَيْنَاهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا.»[1] او حضرت عيسی (ع) په زانګو کښې فرمايلي دي: «إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ آتَانِيَ الْكِتَابَ وَجَعَلَنِي نَبِيًّا»[۲]

په هر حال هغه د حضرت امام مهدي (ع) له ولادت څخه په تېرېدو د هغه امامت ته هم اشاره کړې ده او کېدې شي په ذهن کښې يې ځيني څيزونه لرل چې د هغه وخت حالاتو ورته د ويلو اجازه نه ده ورکړې. والله اعلم.

ابن صباغ نورالدين علي بن محمد بن صباغ مالکي (وفات **۸۵۵** هـ) د حضرت امام حسن عسکري (ع) په باره کښې وائي:

د حسن عسکري د امامت موده دوه کاله وه.... او هغه له ځانه وروسته خپل فرزند حجت قائم باقي پرېښود چې د هغه د برحقه حکومت لپاره انتظار کيږي. پلار يې د هغه ولادت پټ ساتلے ؤ او دغه واقعه يې په پرده کښې ساتلې وه او دا د وخت د باچا

[۱] - سورهٔ مريم ۱۲ آيت.
[۲] - سورهٔ مريم ۳۰ آيت.

لخوا د سختئ او ویرې په وجه وه چې شیعه به یې لټول او نیول به یې.

ابن صباغ د هغه حضرت نسب، ولادت او د مور بي بي په اړه داسې ویلي دي: ابوالقاسم محمد حجت د حسن خالص زوے په سامرا کښې د **۲۵۵** هجري کال د شعبان د میاشتې په نیمائئ کښې دنیا ته راغے . البته نسب یې: هغه ابوالقاسم م ح م د حجت بن حسن خالص بن علی هادي بن محمد جواد بن علی الرضا بن موسی الکاظم بن جعفر صادق بن محمد باقر بن علي زین العابدین بن حسین بن علي بن ابیطالب دے. مور یې د نرجس په نامه یوه کنیزه ده، ډېره غوره کنیزه. نوم یې له دې نه علاوه هم اخېستل شوےدے. کنیت یې ابوالقاسم، لقبونه یې حجت، مهدي، خلف صالح، قائم، منتظَر، صاحب الزمان او ترټولو مشهور یې هم هغه مهدي دے.[1]

په دا ډول ابن صباغ هم د هغه حضرت ولادت ته اشاره کړې ده او د هغه امامت او دولسم امام والے یې بیان کړے دے.

عزالدین ابن اثیر (وفات ۲۳۰ هـ) د ۲۶۰ هجري کال د پېښو په بیان کښې لیکي:

[1] - الفصول المهمة في معرفة الائمة

د ۲۷۰ کال له پېښنو څخه دا وو چې پکښې ابو محمد عسکري (امام حسن عسکري) وفات شو. او هغه د شيعه ؤ په عقيده له دولسو امامانو څخه يو امام دے چې ولادت يې په ۲۳۲ کال کښې ؤ او هغه د محمد پلار دے چې شيعه ؤ هغه منتظَر ونوموۀ.[1]

دغه مشهور مورخ د حضرت امام مهدي (ع) ولادت بيانوي او هغه او پلار يې د شيعه ؤ په عقيده له دولسو امامانو څخه ګڼي او هغه حضرت منتظَر نوموي او د دواړو نسبت شيعه ؤ ته ورکوي. خو د تېرې برخې روايتونه ښودنه کوي چې د سنيانو عقيده هم په حقيقت کښې داسې ده، ګڼې د هغو ټولو احاديثو لپاره چې د دولسو امامانو په نومونو سره بيانوي او يا دا حديث چې اولهم علي و آخرهم المهدي او داسې نورو لپاره بل څه احتمال پېدا کېدې شي؟

عمادالدين ابوالفداء اسماعيل بن نورالدين شافعي (وفات ۷۳۲ هـ) وائي:

علي هادي (لسم امام) په ۲۵۴ هجري کال کښې په سامرا کښې وفات شو. هغه د حسن عسکري پلار دے او حسن عسکري له

[1] - تاريخ کامل ۵ ټوک ۳۷۳ مخ.

دولسو امامانو څخه يولسم امام دے او هغه حسن بن علی زکي بن محمد جواد بن علي الرضا بن موسى الكاظم بن جعفر الصادق بن محمد الباقر بن علي زين العابدين بن حسين بن علي بن ابي طالب دے چې ذکر يې تېر شو. رضي الله عنهم اجمعين.

د حسن عسکري ولادت په ۲۳۰ کال کښې ؤ او د ۲۶۰ کال په ربيع الاول کښې په سامرا کښې له دنيا سترګې پټې کړې او د خپل پلار علي زکی د قبر تر څنګه خاورو ته وسپارل شو.

بيا مخکې ليکي:

نومورے حسن عسکري د محمد منتظَر د سرداب خاوند پلار او د اماميه په عقيده هغه دولسم امام دے. هغه قائم، مهدي او حجت نوميږي چې په **۲۵۵** هجري کال کښې زېږېدلے دے.[۱]

دغه مشهور مورخ هم د امام مهدي (ع) ولادت منلے او هغه يې د شيعه ؤ په نزد دولسم امام ګڼلے دے. تېرو دلائلو ثابته کړه چې د سنيانو په عقيده هم داسې ده خو د بني اميه ؤ او بنی عباسو او له هغوي نه مخکې تيارۀ دورانونو اجازه ورنکړه چې هغه څه چې په کتابونو کښې ليکل شوي دي په ژبه جاري کړې شي.

---

[۱] - المختصر فی اخبارالبشر مشهور په تاريخ ابوالفداء ۲ ټوک خلع مستعين عباسي باب **۴۵** مخ.

همدغه مورخ د خپل تاریخ د ۲ ټوک په ۴۹ مخ کښې د معتمد عباسي د حالاتو او د ۲۷۰ هجري کال د پېښو په بیانولو سره د امام حسن عسکري (ع) د رحلت په بیان کښې د امام مهدي موعود (ع) د ولادت ذکر کوي او وائي:

په هم هغه کال کښې حسن بن علي بن علي بن موسی بن جعفر بن محمد بن علي بن حسین بن علي بن ابي طالب رضی الله عنهم په عسکري مشهور وفات شو او هغه د امامیه مذهب په عقیده له دولسو امامانو څخه یو امام دے او د هغوي په عقیده هغه د محمد پلار دے چې د سامرا له سرداب څخه یې د ظهور انتظار لري او د هغه ولادت د هغه ځه له مخې چې په ۲۵۴ کال کښې یې ذکر وشو ۲۳۲ کال دے.

دلته وینو چې هغه د دولسو امامانو نومونه اخلي او د حضرت عسکري (ع) د رحلت له نقلولو وروسته وائي: هغه د محمد منتظر پلار دے.

ابوالفرج بن جوزي د امامت په باره کښې له شیعه عقیدې څخه په انکار سره د امام مهدي (ع) (د امام حسن عسکري (ع) د زوے) په ولادت تاکید کوي او وائي:

امامیه وائي چې امامت په موسی بن جعفر کښې د ے بیا یې په زو ے علي کښې بیا محمد بن علي بیا حسن بن علي عسکري او له هغه وروسته د هغه په فرزند محمد کښې د ے چې دولسم امام د ے او شیعه ګمان کوي چې هغه نه د ے وفات شو ے او په آخره زمانه کښې به ظهور کوي او زمکه به له عدل او انصاف څخه ډکوي.[1]

دغه کس چې مشهور حنبلي عالم د ے سره له دې چې د اهلبېتو امامانو علیهم السلام امامت نه مني خو له کلامه یې واضحه ده چې حسن عسکر (ع) د م ح م د په نامه زو ے لرلے د ے. ابن جوزي په **۵۹۷** کال کښې په بغداد کښې وفات شو ے د ے.

ابوالفوز، سویدي محمد امین بغدادي (وفات ۸۲۱ ) د امام مهدي (ع) په باره کښې وائي:

و کان عمره عند وفاة ابیه خمس سنین و کان مربوع القامة حسن الوجه والشعر، اقنی الانف، صبیح الجبهه یعني د هغه د پلار د وفات په وخت د هغه عمر پینځه کاله ؤ، هغه متوسط قد،

[1] - تلبیس ابلیس، ذکر تلبیسه علی الرافضه بابا **۹۷** مخ.

ښکلې مخ، ښکلي وېښتۀ، ښکلې پوزه او پراخ تندے لرونکے ؤ.[1]

له دې ځایه معلومیږي چې د هغه حضرت قیافه ټولو عامو خاصو ته څرګنده او معلومه وه.

کُنجي شافعي (وفات **۶۵۸** هـ) په «البیان في اخبار صاحب الزمان» کتاب کښې نه یوازې د امام مهدي (ع) ولادت قبول کړے دے بلکه د «الباب الخامس والعشرون فی الدلالة علی کون المهدي (ع) حیاً باقیاً مذغیبته الی الآن» په عنوان سره یو باب یې راوړے او د غیبت له وخت نه تر اوسه پورې یې د هغه حضرت حیات او ژوندے والے ثابت کړے دے. هغه د دغه باب په شروع کښې وائي:

د حضرت مهدي په بقا کښې څه شک نشته د عیسی او الیاس او د خدا ے له اولیاو څخه د خضر (علیهم السلام) د ژوندي پاتې کېدو په دلیل. او د دجال او ابلیس ملعون چې د خدا ے پاک دښمنان دي د ژوندي او باقي پاتې کېدو په دلیل. او د دوي باقي پاتې کېدل د قرآن او سنت له لارې ثابت شوي دي او ټول وربانديې عقیده لري. په داسې حال کښې چې د امام مهدي (ع) له

[1] - سائک الذهب ۷۸ مخ.

بقاء څخه انکار کوي. او زۀ به اوس د هر يو بقاء ثرګنده او ثابته کړم ، په دا ډول چې بيا به له هيڅ عاقل څخه د امام مهدي (ع) له بقاء نه انکار وانوريدې شي.[1]

محمد صبان نقلوي چې:

قطب شعراني ويلي دي چې مهدي د حسن عسکري فرزند دے، په ۲۵۵ هـ کال کښې د شعبان (شوقدر) د مياشتې په نيمائۍ کښې پيدا شوے او ژوندے دے چې د ظهور په وخت کښې به له عيسى بن مريم سره يوځاے کيږي.[2]

نو په دې بنياد محمد صبان له شعراني څخه د دغه کلام په نقلولو سره د هغه حضرت په ولادت باندې له اعتقاد لرونکو څخه ګڼل کيږي.

ابن ابي الثلج بغدادي (وفات ۳۲۵ هـ) د هغه حضرت د ولادت او د هغه د پلار بزرګوار په باره کښې وائي:

خلف صالح (امام مهدي عليه السلام) په ۲۵۸ هـ کال کښې وزيږيد. او بيا يې چې پلار ابومحمد له دنيا سترګې پټې کړې نو

[1] - البيان ۱۰۲ مخ.
[2] - اصعاف الراغبين، حاشيه نورالابصار ۱۴۱ مخ د يواقيت و جواهر شعراني په نقل سره.

مهدي (ع)د دوو کالو او څلورو میاشتو ؤ.دا خبره د مشهور تاریخ له خاوند محمد بن جریر طبري څخه اخېستل شوې ده.[۱]

په ابن عقبه مشهور جمال الدین احمد بن علي الحسیني (وفات ۸۲۸ هـ) ویلي دي:

د علي هادي (ع) لقب عسکري دے، ځکه چې په سامرا کښې یې په هغه سیمه کښې چې عسکر نومېږي ژوند کوۀ. د هغۀ له نسل څخه دوه تنه دي، یو امام ابومحمد الحسن العسکري چې په زهد او علم کښې یې لوړ مقام لرۀ او هغه د امام محمد مهدي ـ صلوات الله علیه- چې د امامیه په نزد دولسم امام دے پلار دے. هغه هم هغه د هغوي په نزد قائم منتظَر دے او له نرجس نومې یوې کنیزې څخه زېږېدلے دے.[۲]

خواجه پارسا (وفات ۸۲۲ هـ) چې د حنفي مذهب له بزرګانو څخه دے د حضرت امام مهدي (ع) د ولادت، پلار ، مور او د بلا فصل فرزندي والي په باره کښې وضاحت کوي او د حضرت امام حسن عسکري (ع) رحلت او د هغه حضرت د دفن ځاے یې ټاکلے دے. او بیا د امام مهدي (ع) په یوازېني زوے والي تاکید کوي

[۱] - تاریخ الائمه ۱۵ مخ.
[۲] - عمدة الطالب في انساب آل ابي طالب فصل عقب موسی بن جعفر (ع) ۲۲۸ مخ.

او هم هغه القاب بيانوي چې شيعه ؤ له اهلبيتو امامانو عليهم السلام څخه نقل کړي دي او د هغه د قدرمنې مور بي بي نوم هم اخلي او د ولادت نېټه هم ټاکي.[1]

حافظ قندوزي حنفي په ينابيع المودة کتاب کښې د «الباب التاسع والسبعون فى ذكر ولادة القائم المهدي عليه السلام و زايجة ولادته...» ترعنوان لاندې باب د حضرت امام مهدي (ع)له ولادت سره مختص کړے دے او په هغه باب کښې يې د هغه حضرت ولادت د شيخ طوسي له غيبت کتاب، د ابن حجرله صواعق محرکه او د خواجه پارسا له فصل الخطاب څخه او په نورو بابونو کښې له شعراني او داسې نورو څخه په ارسال مسلم توګه نقل کړي دي.

شمس الدين ابوالمظفر سبط ابن جوزي حنفي (وفات ۶۵۴ هـ) د حضرت امام مهدي (ع) په اړه داسې ويلي دي:

هغه محمد بن حسن بن علي بن محمد بن علي بن موسى الرضا بن جعفر بن محمد بن علي بن الحسين بن علي بن ابي طالب او کنيت يې ابو عبدالله او ابوالقاسم دے، او هغه خلف حجت، صاحب الزمان، قائم منتظر او د امامانو آخر دے.

---

[1] - فصل ا لخطاب د ينابيع المودة په نقل سره ۷۹ باب ۴۵۱ مخ.

عبدالعزیز بن محمود بن بزاز د ابن عمر په نقل سره مونږ ته وویل چې د خدای ګران رسول (ص) وفرمایل: په آخره زمانه کښې به زما له اولاد څخه یو سړی چې نوم به یې زما د نوم په شان او کنیت به یې زما د کنیت په شان وي خروج کوي او زمکه به له عدل او انصافه ډکوي هم هغه ډول چې له ظلم او ستمه ډکه وي او هغه مهدي دی.[۱]

دغه عالم چې په ابتداء کښې حنبلي ؤ او بیا یې حنفي مذهب اختیار کړ بې له څه شک او تردیده دولس امامان نقل کړي دي او په وضاحت سره څرګندوي چې له یخرج.... حدیث څخه د خدای ګران رسول (ص) مراد هم هغه د حسن عسکري (ع) بلافصل فرزند دی او وائي حجت، صاحب الزمان او قائم منتظر هغه دی.

بیا د امامیه قول چې د زمانې امام ژوندی دی په مقبوله توګه نقلوي او استدلالونو ته یې اشاره کوي او د ابوالفضل یحیی بن سلامه قصیدې په نقلولو سره چې د اهلبیتو امامانو علیهم السلام په مدح کښې یې ویلې ده خپله وینا خاتمې ته رسوي.

سید مومن شبلنجي شافعي مصري لیکي:

۱ - تذکرة الخواص دولسم باب ذکر الحجة المهدي باب ۳۲۵ مخ.

د ابو محمد حسن بن علي رحلت د جُمعې په ورځ د ۲۶۰ هـ کال د ربيع الاول يا وړومبۍ خور په اتمه نېټه ؤ، هغه په فرزندانو کښې يوازې يو زوی محمد باقي پرېښود.[۱]

عبدالوهاب شعراني شافعي مصري (وفات **۹۷۳** هـ ) د امام مهدي (ع) په اړه وائي:

هغه د امام حسن عسکري (ع) له اولاد څخه او ولادت يې د **۲۵۵** هـ کال د شعبان يا شوقدر د مياشتې نيمائي نېټه ده. هغه به باقي پاتې کيږي چې عيسی بن مريم (ع) اجتماع وکړي او عمر شريف يې زمونږ تر زمانې پورې چې اوس **۹۵۸** کال دی **۲۰۲** کاله دی.[۲]

ابن خلکان، ابوالعباس شمس الدين برمکي اربلي شافعي د هغه حضرت د ولادت، عمر، مور او پلار په باره کښې وائي:

ابوالقاسم محمد بن حسن عسکري بن علي هادي بن محمد جواد عليهم السلام د شيعه عقيدې مطابق له دولسو امامانو څخه دولسم امام دی او په حجت مشهور دی. هغه هم هغه کس دی چې شيعه عقيده لري چې منتظَر، قائم او مهدي دی.....

[۱] - نورالابصار الباب الثاني د حضرت عسکري (ع) حالات باب ۱۶۱ مخ.

[۲] - اليواقيت والجواهر ۲ ټوک، المحث الخامس والستون.

ولادت يې د جمعې ورځ د **۲۵۵** کال د شعبان (شوقدر) د میاشتې نیمائي نېټه ده. کله چې يې پلار وفات شو چې ذکر يې تېر شو عمر يې پینځه کاله ؤ. د مور نوم يې خمط او ځینو نرجس ویلې دے...

ابن ازرق په تاریخ میافارقین کښې ویلي دي چې نوموړے حجت د **۲۵۸** کال د ربیع الاول وړومبۍ خور) د میاشتې په نهمه نېټه زېږېدلے دے.[1]

دغه بیانات ښودنه کوي چې د هغه حضرت په ولادت او د امام حسن عسکري (ع) د بلافصل زوے والي کښې هیڅ شک او شبهه نشته، ګنې داسې به يې بې دریغه نه نقلول.

قاضي بهلول بهجت د امام حسن عسکري (ع) په باره کښې وائي:

امام حسن عسکري په ۲۶۰ هـ کال کښې له دنیا رحلت وکړ او په سامرا کښې له خپل بزرګوار پلار سره نزدے ښخ کړے شو. د هغه یوازېنے اولاد د زمانې ولي حضرت محمد ؤ.[2]

هغه وائي:

[1] - وفیات الاعیان ۱ ټوک ۳۱۲ مخ المیم باب تحت رقم **۵۳۴** چاپ مصر.
[2] - تاریخ آل محمد (تشریح و محاکمه) **۲۶۹** او ۲۷۰ مخونه.

امام القائم المهدي صاحب العصر والزمان په **۲۵۵** هجري قمري کال کښې د شعبان (شوقدر) په **۱۵** نېټه وزېږېد. مور يې ام ولد او نوم يې نرجس خاتون ؤ او هغه د پينځو کالو ؤ چې پلار يې له دنيا لاړ...

امام تر اوسه پورې ژوندے دے او کله چې خدائے وغوښتل نو ظهور به وکړي او زمکه به له عدل او انصافه مالامال کړي.[۱]

دا خبره د پام وړ ده چې دغه مشهور او ستر عالم لکه چې له کلماتو يې معلومه ده د شيعه ؤ په شان د زمانې په امام (امام مهدي ع) باندې مکمل اعتقاد لري.

محقق او مورخ شهيد قاضي محمد مشهور په بهلول بهجت آفندي (وفات **۱۳۵۰**) د «تاريخ آل محمد» کتاب په **۱۹۷** مخ کښې ليکي:

له دې امله چې «من مات ولم يعرف امام زمانه فقد مات ميتة الجاهلية» حديث د عام او خاص علماؤ متفق عليه دے نو په دې بنياد له اهل اسلام څخه هيڅوک داسې نه پېدا کيږي چې د صاحب عصر والزمان په وجود باندې اقرار ونه لري. مونږ عقيده

[۱] - تاريخ آل محمد (تشريح و محاکمه) ۲۷۰ مخ دولسم امام باب

لروو چې امام مهدي صاحب العصر والزمان په سامرا ښار کښې پیدا شوے او د نبوت وراثت او د امامت وصایت هغه حضرت ته رسیږي. الهي حکمت د قیامت تر ورځې د امامت د سلسلې د حفاظت او دوام تقاضا کوي. د خدا ے له ګران رسول (ص) نه پس د امامانو شمېر محصور او معلوم دے چې دولس تنه دي، ځکه چې له رسول اکرم (ص) څخه په معتبر سند سره په صحیح بخار او صحیح مسلم کښې روایت نقل شوے دے چې له ما نه وروسته خلفاء دولس تنه دي او هغوي ټول له بني هاشمو څخه دي.

ابن الوردي زین الدین عمرو بن مظفر الشافعي (وفات ۷۴۹ هـ) په خپل مشهور تاریخ کښې په نورالابصار[1] د شبلنجي په نقل سره وائي:

ولد محمد بن الحسن الخالص سنة خمس و خمسین و ماتین. محمد د حسن خالص زوے په ۲۵۵ کال کښې زیږېدلے دے.

دغه مشهور مورخ همدارنګ د حضرت امام مهدي (ع) ولادت د دین له مسلماتو څخه ګڼلے دے.

---

[1] - نورالابصار فصل ذکر مناقب محمد بن الحسن خالص ۷ ټوک ۱۲۸ مخ.

نورالدين علي بن سلطان محمد هروي حنفي د شيعه عقيدې په باره کښې وائي:

شيعه ؤ د خپل ايمان کمال، د اسلام ستنه او د احکامو ارکان په دې بنياد ګرځولي دي چې محمد بن حسن عسکري هم هغه ژوندے، قائم او مهدي موعود دے چې د مقام محمود خاوند او د حوض کوثر خاوند د خدا ے ګران رسول (ص) يې خبر ورکړے دے.[1]

شبراوي، عبدالله بن محمد بن عامر شبراوي مصري شافعي (وفات ۱۱۷۲ هـ) د نورو مورخينو او محدثينو په شان د امام حسن عسکري (ع) رحلت او د امام مهدي (ع) ولادت داسې بيانوي:

دولسم امام ابوالقاسم م ح م د حجت دے. ويل کيږي مهدي منتظَر هغه دے. امام م ح م د حجت د امام حسن خالص زوے د ۲۵۵ کال د شعبان (شوقدر) د مياشتې د نيمائۍ په شپه کښې د پلار له وفات نه پينځه کاله مخکې دنيا ته راغے. پلار يې د هغه ولادت د وخت د مشکلاتو او د خلفاو له ويرې پټ ساتلے ؤ. امام م ح م د حجت چې لقب يې مهدي او قائم، منتظَر، خلف صالح،

[1] - مرقاة المفاتيح في شرح المشکواة المصابيح ۵ ټوک ۱۸۴ مخ.

صاحب الزمان يې هم مشهور لقبونه دي هم هغه مهدي دے. نو ځکه شيعه معتقد شوي دي چې هغه هم هغه کس دے چې صحيح احاديث وائي په آخره زمانه کښې به ظهور کوي او هغه په «سرداب» کښې موجود دے.[1]

دلته د دريو ټکو ذکر لازمي دے.

ورومبے) د سرداب سپيځلتيا يوازې د عبادت د ځاے په وجه ده او عسکرينو عليهم السلام به دغلته عبادت کوۀ او د زمانې امام (ع) نه په سرداب کښې غيب شوے او نه هلته کښې دے او نه به له هغه ځاے څخه ظهور کوي او دا هسې يوه غلطه خبره مشهوره شوې ده.

دويم) دا چې ويل کيږي شيعه د هغه مهدي موعود والي باندې معتقد شوي دي، وويل شول چې سنيان هم هغه مهدي موعود بولي.

دريم) د شبراوي او نورو په کلامونو کښې تېر شول چې امام حسن عسکري (ع) د خپل زوے ولادت د خلفاو له ويرې پټ ساتلے ؤ، پوښتنه دا ده چې ولې يې پټ ساتلے ؤ؟ ولې د هغه

---

[1] - الاتحاف يحب الاشراف ۵ باب ۱۷۹ مخ.

ولادت پټ ساتي او ولې له خلفاو ويرېدلے دے؟ څه وجه نشته مګر دا چې معلومه شوې وه چې مهدي موعود (ع) د امام حسن عسکري (ع) زوے دے، ګنې د پټ ساتلو لپاره بله څه وجه نشته.

ابن عماد، عبدلحی بن احمد دمشقي حنبلي (وفات ۱۰۸۹ هـ) د ۲۶۰ هجري کال په پېښو کښې ليکي:

په دغه کال حسن بن علي بن جواد بن علي الرضا بن موسی کاظم، بن جعفر صادق علوي حسيني وفات شو. هغه له هغو دولسو کسانو څخه يو دے چې شيعه يې د عصمت (معصوم والي) اعتقاد لري او هغه د محمد منتظَر د سرداب د خاوند پلار دے.[1]

داسې ښکاري چې دغه مورخ او محدث لکه چې له کلماتو يې معلومه ده د واقعې له بيانولو کرکه کراهت لري خو مجبوراً د حضرت مهدي (ع) په ولادت او په دې باندې چې حضرت عسکري (ع) فرزند دے اقرار او ګواهي ورکوي.

عبدالله بسمل د حضرت امام مهدي (ع) د ولادت به حقله وائي:

[1] - شذرات الذهب فی اخبار من قد ذهب ۲ ټوک ۱۴۱ مخ.

**اَلاِمامُ الْمَهْدِىُّ اِسْمُهُ مُحَمَّدٌ كُنْيَتُهُ اَبُوالْقاسِمِ، لَقَبُهُ الْحُجَّةُ وَالْمَهْدِىُّ وَالْخَلَفُ الصّالِحُ وَالْقائِمُ وَالْمُنْتَظَرُ وَصاحِبُ الزَّمانِ وَعُمْرُهُ عِنْدَ وَفاةِ اَبِيهِ خَمْسُ سِنِينَ لكِنْ آتاهُ اللّٰهُ فِيهَا الْحِكْمَةَ** يعني د امام مهدي نوم محمد، كنيت يې ابوالقاسم دے او لقبونه يې حجت، مهدي، خلف صالح، قائم، منتظَر او صاحب الزمان دي. هغه د خپل پلار د وفات په وخت پينځه کلن ؤ، خو په هم هغه کم عمرۍ کښې ورته خدا ے پاک حکمت عطا کړ.[1]

دغه وېنا د تېرو وېناګانو په شان ده. د کتاب د خاوند په نزد د هغه حضرت ولادت يقيني ؤ او له عبارت نه يې پوره معلومېږي چې هغه خپله هغه حضرت د امام حسن عسکري (ع) بلافصل فرزند بولي او د لكِنْ آتاهُ اللّٰهُ فِيهَا الْحِكْمَةَ جمله يعني خدا ے پاک ورته په هغه پينځه کلنۍ کښې حکمت عطا کړ د دې مبارک آيت چې فرمائي: «وَ آتَيناهُ الْحُكمَ صَبِيا»[2] په شان دے چې د حضرت يحيى (ع) په باره کښې دے.

دغه ستر عالم په دې بيان سره د هغه حضرت امامت قبول کړے دے. نو له دې نه بل کوم اوچت بيان شته.

---

[1] - ارجح المطالب چاپ هند ۴۷۱ مخ (په اردو ژبه) د «اتفاق در مهدي موعود» نومې کتاب ۷۱ مخ په حوالې سره.
[2] - سورۀ مريم ۱۲ آيت.

زرکلي هغه حضرت له اعلامو څخه بللے او د هغه ولادت او د پلار تر وفات یې د عمر مودې ته اشاره کړې او وائي:

محمد بن حسن عسکري (خالص) بن علي هادي ابوالقاسم د امامیه په نزد د دولسو امامانو آخري امام دے. هغه د امامیه په نزد په مهدي، صاحب الزمان، منتظَر او حجت مشهور دے او په سامرا کښې دنیا ته راغلے دے او کله چې یې پلار وفات شو نو هغه پینځه کلن ؤ. ځینو یې د ولادت نېټه د **۲۵۵** هـ کال د شعبان (شوقدر) د میاشتې د نیمائي شپه بللې ده.[1]

دغه نوراني عبارتونه د هغه انسان په باره کښې دي چې له پینځو کلونو یې زیات عمر نه لرۀ او له اعلامو څخه دے؛ د هغه په امامت او مهدي موعود والي باندې له دلیل نه بغېر بل څه لري؟

دیار بکري، حسین بن محمد بن حسن مالکي (وفات ۹۸۲ هـ په مکه معظمه کښې) د هغه حضرت د ولادت او نسب په باره کښې وائي:

دولسم امام م ح م د بن حسن بن علي بن محمد بن علي الرضا دے کنیت یې ابوالقاسم دے. شیعه ؤ هغه ته حجت، قائم،

---

[1] - قاموس الاعلام ۲ ټوک ۸۰ مخ (د محمد لفظ)

مهدي، منتظَر او صاحب الزمان لقبونه ورکړي دي. د شیعهؤ له نظره هغه د دولسو امامانو خاتم او تمامونکے دے. مور يې کنيزه ده چې نوم يې صيقل او د بل يو قول له مخې سوسن او د بل قول له مخې نرجس ده او له دې نه علاوه هم يې نومونه اخېستل شوي دي. هغه حضرت د ۲۵۸ کال د رمضان د مبارکې مياشتې په درويشتمه نېټه په سامرا کښې وزېږېد.[۱]

همدغه مورخ د امام حسن عسکري (ع) د رحلت د ذکر تر څنګه بيا د حضرت امام مهدي (ع) ولادت ته اشاره کوي او وائي:

وَفِی سَنَةِ سِتِّینَ وَ مأَتَیْنِ ماتَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِیِّ بْنِ الْجَوادِ بْنِ الرِّضا الْعَلَوِیِّ اَحَدُ اْلأَئِمَّةِ الاِثْنَیْ عَشَرَ الَّذِینَ تَعْتَقِدُ اْلاِمامِیَّةُ الرّافِضیَّةُ عِصْمَتَهُمْ وَ هُوَ والِدُ مُنْتَظَرِهِمْ مُحَمَّدِ بْنِ الْحَسَنِ په ۲۶۰ کال کښې له دولسو امامانو څخه چې شيعه د هغوي په عصمت عقيده لري يو امام حسن بن علي عسکري له دنيا لاړ او هغه د محمد بن حسن پلار دے چې شيعه يې د راتلو په انتظار کښې دي.[۲]

## سرداب

---

۱ - تاريخ الخمسين ۲ ټوک باب ذکر الائمه الاثنى عشر ۲۸۸ مخ.

۲ - تاريخ الخمسين ۲ ټوک باب ذکر الائمه الاثنى عشر ۳۴۲ مخ.

یو شمیر هغو علماو چې د هغه حضرت د ولادت په اړه مو د هغوي اقوال نقل کړل د سرداب مسئله وړاندې کړې ده او شیعه ؤ ته یې نسبت ورکړے دے چې امام مهدي (ع) په سامرا کښې په یو سرداب کښې پټ شوے او یوه ورځ به له هغه ځاے څخه ظهور وکړي. په داسې حال کښې چې دا له یو تهمت ته زیات څه نه دي.

پکار دي وضاحت وکړوو چې د حضرت امام علي نقي (ع) په کور کښې یو سرداب ؤ چې هغه حضرت او امام حسن عسکري (ع) به پکښې عبادت کوۀ. اوس هم هغه سرداب د عسکرینو په انګڼ کښې موجود دے او شیعه مسلمانان یې زیارت ته ځي. دغه ځاے په دې وجه چې د امامانو د عبادت ځاے دے سپېځلتیا لري. شیعه عقیده لري چې امام نه هلته کښې غېب شوے دے او نه به له هغه ځایه ظهور کوي.

آیت الله سید صدرالدین صدر په المهدي کتاب کښې وائي:

له صواعق محرقه کتاب څخه داسې معلومیږي چې امامیه شیعه یا د هغوي یوه ډله داسې ګمان کوي چې مهدي منتظَر په سرداب کښې پټ شوے دے او هغوي د هغۀ بهر ته د راوتلو په انتظار

کښې دي. هغوي له خپلو اسونو سره د سرداب غاړې ته ولاړ دي او د هغه د بهر راتلو دعا کوي.

کاش چې ليکوال په دې حقله څه ثبوب او مدرک وړاندې کړې وې. زما په ګمان دغه ليکوال هيڅکله له حجازه بهر نه دے راوتلے او عراق يې له نزدې څخه نه دے ليدلے او بې له شکه چې د سامرا زيارت يې هم نه دے کړے، ګنې په دې به ښه پوه شوے ؤ چې دا دعوا هيڅکله صحت او حقيقت نه لري....[۱]

آيت الله لطف الله صافي ګلپائګاني ليکي:

د شيعه ؤ او اهلبېتو د دښمنانو او معترضينو يو بهتان دا دے چې وائي شيعه عقيده لري چې امام په سرداب کښې غېب شوے دے او په سرداب کښې موجود دے او له سرداب څخه به بهر راووځي. هغوي هره شپه د ماښام له نمانځه وروسته د سرداب په ور کښې اودريږي چې نېک ستوري راڅرګند شي نو له بيا تر راتلونکې شپې پورې خوارۀ وارۀ کيږي....

[۱] - المهدي ۷ باب ۱۲۵ مخ.

دغه ليکوالان او هغه کسان چې له دوي وروسته زمونږ تر وخته پورې راغلل په ځانګړې د دې چې د شيعه عقائد او رائې خپله له هغوي او د هغوي له کتابونو څخه ترلاسه کړې وې په جعلسازۍ او بهتان لګونو يې شروع کړې ده او يا د تېرو کسانو جعليات او بهتانونه د شيعه عقائدو او د هغوي د رايود معرفت معيار ګرځوي او ځانونه او نور خلق ګمراه کوي...

له شيعه ؤ څخه يو کس هم نه دي ويلي چې امام د سامرا په سرداب کښې پټ شوے دے بلکه شيعه کتابونه او روايتونه دغه ټول نسبتونه تکذيبوي...[1]

آيت الله اميني په دې باره کښې ليکي:

دغه نسبت خالص دروغ او د کينې او دښمنۍ له رويه ورکړے شوے دے او شيعه هيڅکله داسې څه عقيده نه لري. په هيڅ يو روايت کښې نه دي ويل شوي چې دولسم امام په سرداب کښې ژوند کوي او له هغه ځايه به ظهور کوي. هيڅ يو شيعه عالم داسې څه خبره نه ده کړې....[2]

[1] - نويد امن و امان، لطف الله صافي ۲۰۴ او ۲۰۵ مخونه.
[2] - دادګستر جهان ، آيت الله اميني ۲۰۴ مخ.

دغه دي د ځینو شیعه عالمانو نظرونه او که یوه ډله دا خوښوي چې د حقیقت په خلاف شیعه ؤ ته د ځینو خبرو نسبتونه ورکړي نو مونږ هغوي ته په سمه لاره د تګ کولو دعوت ورکوو.[١]

## د هغه حضرت اوږد عمر

د امام مهدي (ع) په اړه له مطرح شویو پوښتنو څخه یوه پوښتنه دا ده چې که امام مهدي (ع) یو ژوندے انسان دے نو څه ډول یې

[١] - په شیعه ؤ پورې د سرداب د خبرې تړل دومره مشهور شوي دي چې ستر پښتو مشر او د تورې او قلم خاوند خوشحال بابا هم چې کله د وخت د ظالمو حاکمانو له ظلم او ستم نه تنګ راځي نو له غاره د هغه حضرت د راوتلو خبره کوي او وائي:

مهدي له غاره ووزه
کېږده پښه په پلنګونه
نه دین شته نه آئین شته
شرم لاړ په فرسنګونه
مختورن ظالمان ډېر دي
چې اخلي قلنګونه
د عدل توره واخله
ملک اسلام کړه په جنګونه
بېداره او سه زرکي
شهند ګرځي په ځنګونه
خوشحاله فکر وکړه
چې پریوزي خرسنګونه

له يولسو پېړيو نه زيات عمر کړے دے او له بې شمېره نسلونو سره يې ژوند کړے دے او څه ډول د بوډاوالي له حتمي دوران سره مخامخ شوے نه دے او لنډه دا چې آيا يو انسان ګڼ شمېر پېړۍ په دې دنيا کښې ژوند وکړي؟

د داسې ښکارندې د رامنځته کېدو د امام په اړه په ځواب کښې بايد ووايو چې داسې چاره درې حالته لري:

1- عقلي او منطقي امکان (يعنې داسې چاره چې د عقل له نظره يې رامنځته کېدل ممکن وي)

2- علمي امکان (يعنې داسې چاره چې رامنځته کېدل يې له علمي او سائنسي لحاظه محال او ناممکن نه وي)

3- عملي امکان (يعني داسې چاره چې رامنځته کېدل يې ممکن وي او په خارج کښې رامنځته شوې وي.)

د عقلي امکان په باره کښې بايد ووايو چې د انسانانو د طبيعي او معمولي عمر څو برابره ژوند کول محال او غېر ممکن نه دي که څه هم استثنائي او د ګوتې شمېر وي.

د علمي او سائسني لحاظه هم بايد ووايوو چې سائېنس که څه هم تراوسه نه دي کړې شوي چې داسې څه کار وکړي يا يوه فارمولا ترلاسه کړي چې د انسانانو عمر څو برابره کړي خو هيڅ يو سائنسدان د داسې څيز له رامنځته کېدو سره اړوند چاره له سائنسي نظره محال نه ده ګڼلې.

د عملي نظره هم بايد ووايوو چې مونږ د بشر د ژوند په تاريخ کښې داسې نمونې لروو چې ثابتوي چې انسان د خپل طبيعي عمر څو برابره ژوند کړے دے. البته دا د خالق په اختيار کښې چاره ده چې چا ته اوږد ژوند ورکوي.

اوس به له قرآن مجيد څخه څو نمونې وړاندې کړوو.

خدا ے پاک د حضرت نوح (ع) په باره کښې فرمائي:

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَى قَوْمِهِ فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا [1] يعنې مونږ نوح د هغه د قوم لوري ته ولېږۀ او هغه د هغوي ترمېنځ نهۀ نيم سوه کاله ژوند وکړ.

[1] - سورۀ عنکبوت ۱۴ آيت.

د حضرت عیسي (ع) په باره کښې هم قرآن مجید فرمائي:
وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيحَ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ اللَّهِ وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَكِن شُبِّهَ لَهُمْ ۚ وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِيهِ لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ ۚ مَا لَهُم بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ ۚ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا بَل رَّفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْهِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا[1] یعنې او د هغوي دا خبره چې مونږ د خدا ے پېغمبر مسیح عیسی بن مریم ووژۀ، په داسې حال چې هغه يې نه وژلے دے او نه يې پانسي کړے دے بلکه هغوي تېروتل او هغه کسان چې د هغه (د قتل) په اړه يې اختلاف وکړ، له هغه څخه په شک کښې دي او وربانديې پوهه نه لري او يوازې له ګمانه پېروي کوي. په قطعي توګه يې هغه ونه وژۀ.
نو په دې بنياد حضرت عیسي (ع) تر ننه ژوندے دے او د امام مهدي (ع) تر ظهوره پورې به ژوندے او له هغه حضرت سره به یوځا ے ظهور کوي او زمکې ته به راځي.
خدا ے پاک د حضرت یونس (ع) په باره کښې فرمائي:
فَالْتَقَمَهُ الْحُوتُ وَهُوَ مُلِيمٌ * فَلَوْلَا أَنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِينَ * لَلَبِثَ فِي بَطْنِهِ إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ[2] (یعنې او هغه يې سمندر ته وغورزۀ) او يو لو ے کب هغه تېر کړ په داسې حال کښې چې د ملامتيا وړ ؤ

[1] - سورۀ نساء ۱۵۲ او ۱۵۷ آیتونه.
[2] - سورۀ الصافات ۴۲، ۴۳، ۴۴ آیتونه

او که له تسبيج کونکو څخه نه وې نو تر قيامته به د کب په خېټه کښې پاتې ؤ.
د قيامت تر ورځې پورې د حضرت يونس (ع) ساتلو کښې د خدا ے پاک قدرت يو قرآني وضاحت د ے او همدغه قدرت بې له شکه د داسې کس د حفاظت او ساتنې توان لري چې په آخره زمانه کښې به د نړۍ مصلح وي.
نو څکه په دې کښې هيڅ شک نشته چې خدا ے پاک دولسم خليفه امام مهدي (ع) ته اوږد ژوند ورکړي چې په آخره زمانه کښې ظهور وکړي او د اسلام مبين دين ته په نورو دينونو باندې غلبه ورکړي.

## د صفاتو، القابو او کنيت په حقله احاديث

ابوداؤد په خپل صحيح کښې له ابوسعيد څخه نقلوي چې پېغمبراکرم (ص) وفرمايل:
المهدی منی، اجلی الجبهه، افنی الانف، يعنې مهدي له ما څخه د ے، پراخه څېره، نوراني تند ے او ښکلې پوزه يې ده.[١]
ابن حجر په الصواعق کښې له ابونعيم څخه نقلوي چې د خدا ے ګران رسول (ص) فرمائي:

[١] - سنن ابی داؤد ٢ ټوک ٢٠٨ مخ.

يبعث الله رجلاً من عترتي افرق الثنايا، اجلى الجبة، خدا ے پاک به زما له عترت څخه يو سړے وليږي چې ښکلي مرتب او فاصله لرونکي غاښونه او پراخه تندے به يې وي.[1]

محمد صبان په اصعاف الراغبين كتاب كښې له روياني او طبراني وغيره څخه نقلوي چې پېغمبر اکرم (ص) فرمائي:

المهدي من ولدی و جهه کالکواکب الدری اللون لون عربی، و الجسم جسم اسرائيلي، مهدي زما له اولاد څخه دے، مخ يې د ځلانده ستوري په شان، رنګ د عربو د رنګ په شان او بدن يې د يعقوب (ع) په شان دے.[2]

همدارنګ په اصعاف الراغبين کښې په حلية الاولياء کښې د ابونعيم اصفهاني په نقل سره راغلي دي چې:

المهدي شاب اكحل العينين، ازج الحاجبين، اقنى لانف كث اللحية على خده الايمن خال، و على يده اليمني، مهدي د تورو سترګو يو ځوان، روځې يې د ليندۍ په شان، په مخ ګڼه ږيره او ښے لاس يې خالي دے.[3]

په عقد الدرر کښې له امام محمد باقر (ع) څخه نقل شوي دي چې وې فرمايل:

---

[1] - الصواعق المحرقه ۱۲۲ مخ.
[2] - الصعاف الراغبين ۱۴۲ مخ.
[3] - الصعاف الراغبين ۱۴۹ مخ

سُئلَ اميرالمؤمنين علي بن ابي طالب (ع) عن صفة المهدي فقال: هو شاب مربوع، حسن الوجه، يسيل شعره على منكبه،يعلو نور وجهه سواد شعرء و لحيته و راسه، له اميرالمومنين على بن ابي طالب (ع) څخه د مهدي په باره کښې پوښتنه وشوه. هغه حضرت وفرمايل: هغه متوسط القامه او د ښکلي صورت ځوان دے وښتنه يې په اوږو زوړنده دي، نوراني شکل، تور وښتنه او ږيره يې ده.[1]

په ينابيع المودة کښې د مناقب خوارزمي په نقل سره له جابر بن عبدالله انصاري څخه راغلي دي چې د خدا ے ګران رسول (ص) وفرمايل:

المهدي من ولدى اسمه اسمي، كنيته كنيتي، اشبه الناس بى خلقاً و خُلقاً ، مهدي زما له فرزندانو څخه دے د هغهٔ نوم زما د نوم په شاندےاو کنيت يې زما کنيت په شان دے، هغه په صورت او سيرت کښې ترټولو زيات زما په شان دے.[2]

ابن عربي په الفتوحات کښې وائي:

مهدي يوازې په خَلق (صورت) کښې د پېغمبراكرم (ص) په شان دے خو په خُلق (سيرت) کښې يې درجه له پېغبراكرم (ص) څخه لاندې ده. ځکه چې هيڅوک په اخلاقو کښې د پېغمبراكرم (ص)

---

[1] - الصعاف الراغبين ۱۴۹ مخ

[2] - ينابيع المودة

په شان نشته. خدا ے پاک فرمائي: وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ[1] ته ته عظيم او اوچت اخلاق لرې.[2]

د ابن عربي په جواب کښې بايد ووايو:

وړومبې دا چې په روايت کښې راغلي دي چې امام مهدي (ع) په خَلق او خُلق (صورت او سيرت) کښې د پېغمبراکرم (ص) په شان دے او شبهات يوازې په خَلق (صورت) کښې منحصر کول د نص په مقابل کښې اجتهاد دے.

دويم دا چې خپله له اشبه يا يشبه لفظ څخه دا معلوميږي چې عېنيت ترې مراد نه دے بلکه نزدېکت او قربت ترې مراد دے.

دريم دا چې په تشبيه کښې ټول اړخونه په نظر کښې نه نيول کيږي د دې په غېر صورت کښې عينيت لازمي کيږي، بلکه مراد ترې دا دے چې دوه کسان په صفاتو کښې د يو بل په شان دي.

په عقدالدرر کښې د ابونعيم اصفهاني د صفة المهدي کتاب په نقل سره له حذيفة بن اليمان څخه راغلي دي چې د خدا ے ګران رسول (ص) وفرمايل:

لولم يبق عن الدنيا الا يوم واحد لبعث الله فيه رجلاً اسمه اسمي و خُلقه خُلقي يكنّى ابو عبدالله، که د دنيا له ژوند څخه يوازې يوه ورځ باقي پاتې شي نو خدا ے به ارو مرو په هغه ورځ يو

---

[1] - سورۀ القلم ۴ آيت

[2] - الفتوحات المکية ۳ ټوک ۳۲۷ مخ.

سړے راولیږي چې نوم به یې زما د نوم په شان وي او خُلق به یې زما د خُلق په شان وي او د هغه کنیت به ابا عبدالله وي.[۱]

په تذکرة الخواص کښې راغلي دي:

کنیته ابو عبدالله، ابوالقاسم، و هو الخلف الحجة صاحب الزمان القائم المنتظر والتالي، د هغه کنیت ابو عبدالله او القاسم دے او هغه دے الخلف او حجت، صاحب الزمان، قائم منتظر او آخرین (اوصیا)[۲]

په الصواعق کښې راغلي دي:

..... و یسمّی القائم المنتظر، هغه قائم منتظر نومولے کیږي.[۳]

په نورالابصار کښې د مهدي منتظر د حالاتو په باره کښې راغلي دي:

اسمه محمد و کنیته ابولقاسم ولقبه الامامیة بالحجة والمهدي والخلف الصالح و القائم المنتظر صاحب الزمان والشهرها المهدي ، د هغه نوم محمد ، کنیت یې ابوالقاسم او امامیه ورته لقبونه حجت، مهدي ، الخلف صالح، قائم ، منتظر او صاحب الزمان ورکړي دي چې تر ټولو مشهور یې مهدي دے.[۴]

*****

---

۱ - عقدلدرر ۵۲ مخ.

۲ - تذکرة الخواص ۳۲۳ مخ.

۳ -الصواعق المحرقه ۲۰۲ مخ.

۴ - نورالابصار ۱۸۵ مخ.

دلته به بده نه وي که د امام مهدي (ع) د راتلو او انتظار په اړه د ستر پښتون عارف ، اديب او شاعر حمزه بابا کلام وړاندې کړو:

بې رنګه بهار دی وچ د زړۀ ګلزار دی
ای د رسالت امامه! تا ته انتظار دی

راشه راشه راشه اوس ځرګند په کليت کې شه
ای د رسالت روحــه قــالب د امامــت کې شه

بې رنګه بهار دی وچ د زړۀ ګلزار دی
ای د رسالت امامه! تا ته انتظار دی

اوس بغېر لــه تا نه چرته خوند د پېمانې نشته
اوس هغه رونق د دې دنيــا د مېخانـــې نشته

بې رنګه بهار دی وچ د زړۀ ګلزار دی
ای د رسالت امامه! تا ته انتظار دی

ستا چې د راتګ وې هغه ټولې شوې وعدې پوره

تهٔ رابنکاره نهٔ شوې کــه شوې واړه نښــانې پوره

بې رنګه بهار دی وچ د زړهٔ ګلزار دی
ای د رسالت امامه! تا ته انتظار دی

شمع ستا د مخ چې په محفل کې د دنیا نشته
واړه پتنګـان په انتظـار ســوزی رڼا نشته

بې رنګه بهار دی وچ د زړهٔ ګلزار دی
ای د رسالت امامه! تا ته انتظار دی

راغلهٔ ستړی زړونه په ککو یې قرار ونیــوهٔ
ستا د دیدن شوق د ګریوان ځینې ځمبار ونیوهٔ

بې رنګه بهار دی وچ د زړهٔ ګلزار دی
ای د رسالت امامه! تا ته انتظار دی

ګرد چې د سپوږمۍ په مخ د ستورو پوګنښدل وینم
ستــا د مخ په نمر پسې د واړو پسخښـــدل وینم

بې رنګه بهار دی وچ د زړۀ ګلزار دی
ای د رسالت امامه! تا ته انتظار دی

مسک شه د حمزه د زړۀ په ګل کې د چتیا په رنګ
یا خــو په لېمــۀ د بــې نــوا کې د خندا په رنګ

بې رنګه بهار دی وچ د زړۀ ګلزار دی
ای د رسالت امامه! تا ته انتظار دی

همدا رنګ حمزه بابا (رح) په یو بل ځای کې وایې :

راځي راځي پرتو دې د رحمــن راځــي
راغلی خو لا پوهې ته څه ګـران راځي
حمزه د محبت بــه معــرفت شي هـله
جامه کې د مهدی چې هغه ځوان راځی

# کتابنامه

۱- ابرازالوهم المکنون من کلام ابن خلدون، احمد بن محمد بن صديق، مکتبه امام اميرالمومنين اصفهان/ ۱۴۰۲.
۲- اخبارالدول و آثارالاول احمد بن يوسف قرماني، تحقيق فهمي سعد، عالم الکتب بيروت/ ۱۴۱۲.
۳- ارشاد لاساری، احمد بن محمد قسطلاني، دار احياء التراث العربي، بي تا.
۴- اشراط الساعة، بديع الزمان سعيد نورسي، ترجمه احسان قاسم الصالحی، مکتبة الحوادث، بغداد/ ۱۳۱۲.
۵- الاتحاف بجب الاشراف، عبدالله بن عامر، ثبسراوي، منشورات شريف رضي قم/ ۱۳۶۳ ش.

۶- الاذاعة لما كان و ما يكون بين يدي الساعة، محمد صديق حسن قنوجي، تحقيق الارنا ؤوط، عبدالقادر،دار ابن كثير، دمشق/ ۱۴۲۰.
۷- الاشاعة لا شراط الساعة محمد بن عبدالرسول البرزنجي، دارالهجرة، بيروت/ ۱۴۱۴.
۸- الاعتقاد والهداية الى سبيل الرشاد، احمد بن الحسين ابوبكر بيهقي، تحقيق احمد بن الحسين، عالم الكتب/ **۱۴۰۵**.
۹- الاعلام قاموس تراجم لاشهر الرجال و لنساء من العرب....، خيرالدين زركلي، دارالعلم للملايين، بيروت/۱۹۸۴.
۱۰- البرهان في علامات مهدي آخرالزمانو على بن حسام (متقى هندي) تحقيق جاسم بن محمد/۱۴۰۸.
۱۱- التاج الجامع للصول فى احاديث الرسول (همراه غاية المامول شرج التاج الجامع للاصول) داراحياء التراث العربي/ ۱۴۰۶.
۱۲- التذكره، محمد بن احمد قرطبي، تحقيق على ابراهيم نجاشي، دارالفكر العربي، بيروت.
۱۳- الجامع الصحيح ابو عيسى الترمذي، دار احياء التراث العربي، بي تا.
۱۴- الجامع الصغير فى احاد البشير النذير، جلال الدين السيوطي، دارالفكر، بيروت/۸۴۹.

۱۵- الجامع الاحكام القرآن، محمد بن احمد انصاري قرطبي، داراحياء التراث العربي، بيروت/ ۱۴۰۵.
۱۶- الحاوي للفتاوى‌بش، عبدالرحمان بن ابى بكر السيوطى دارالكتب العربى بيروت، بي تا.
۱۷- الصواعق المحرقه، احمد بن حجر هيثمى مكى، كتبة القاهرة على يوسف سليمان/ ۱۳۸۵.
۱۸- الضعفاء الكبير، محمد بن عمرو عقيلي مكي، تحقيق عبدالمعطي امين قلعجي، دارالكتب العملية/ ۱۴۱۸.
۱۹- الفتن والملاحم الواقعة فى آخرالزمان، اسماعيل بن عمر ابن كثير، تحقيق بديوي، يوسف علي، دارابن كثير بيروت/ ۱۴۱۴.
۲۰- الفتوحات المكية، محمد بن عبدالله ابوبكر ابن عربي، تحقيق عثمان يحيى، المكتبة العربية مصر/ ۱۴۰۵.
۲۱- الفصول المهمة فى معرفة لائمة، علي بن محمد المالكي بن صباغ، دار الاضواء/ ۱۴۰۹.
۲۲- الكشاف، محمد بن عمر جارالله، دارالفكر/ ۱۳۹۷.
۲۳- الئالى المضوعة، عبدالرحمان بن ابى بكر السيوطي، دارالمعرفة، بيروت/ ۱۴۰۴.
۲۴- المختصر في اخباالبشر، عمادالدين اسماعيل ابوالفدء، مكتبة المتنبى، قاهره بي تا.

۲۵- المستدرک على الصحيحين، الحاکم، تحقيق عبد القادر عطاء دار الكتب العلمية/ ۱۴۱۱.
۲۶- المستدرک على الصحيحين، الحاکم. (همراه با تلخيص ذهبي)، دارالفكر، بي تا.
۲۷- المصنف فى الاحاديث والآثار، عبدالله بن محمد مكتبة الدراسات والبحوث، دارالفكر، بى تا.
۲۸- المنار المنيف فى الصحيح والضعيف، محمد بن ابى بكر دمشقي ابن قيم، تحقيق عبد الشافي احمد، دارالكتب العلمية/ ۱۴۰۸.
۲۹- المهدي، آية الله السسيد صدرالدين صدر، مركز انتشارات دفتر تبليغات اسلامي، ۱۴۲۱.
۳۰- المهدي المنتظر، عبدالله بن محمد بن الصديق الحسيني، عالم الكتب/ ۱۴۰۵.
۳۱- النهاية في الفتن، اسماعيل بن عمر ابن كثير، تحقيق عبدالعزيز محمد امين، المكتبة الثقافي، قاهره، بي تا.
۳۲- النهاية فى غريب الحديث والاثر، المبارک بن محمد، منشورات محمد علي بيضون، دارالكتب العلمية/ ۱۴۱۸.
۳۳- اليواقيت والجواهر فى بيان عقائد الاكابر، عبدالوهاب بن احمد شعراني، دارالمعرفة، بى تا.

۳۴- احاديث المهدي من مسند احمد بن حنبل (همراه با كتاب البيان في اخبار صاحب الزمانو كُنجي شافعي). موسسه نشر اسلامي/ ۱۴۱۷.
۳۵- احكام القرآن، احمد بن علي الرازي الجصاص، دارالكتب العلمية، بيروت/ ۱۴۱۵.
۳۶- تاريخ الائمة، محمد بن احمد ابن ابي الثلج، مكتبه بصيرتي، قم/ ۱۴۰۶.
۳۷- تاريخ الخميس انفس نفيس، حسين بن محمد ديار بكري، موسسه شعبان، بيروت، بی تا.
۳۸- تاريخ بغداد، خطيب بغدادي، دارالكتب العلمية/ ۱۴۱۷.
۳۹- تاريخ كامل، المبارک بن محمد بن الاثير، انتشارات اساطير، تهران/ ۱۳۷۰ ش.
۴۰- تاريخ مدينه دمشق، علي بن الحسين معروف به ابن عساكر، تحقيق علي شيريو دارالفكر/ ۱۴۱۵.
۴۱- تذكرة الخواص، يوسف بن قزاوغلى سبط ابن الجوزي، موسسه اهل بيت، بيروت/ ۱۴۰۱.
۴۲- تفسير ابن جزي، محمد بن احمد حزي كلبي، دارالكتاب العربي/ ۱۴۰۳ هـ.
۴۳- تفسير ابن كثير، اسماعيل بن كثير، ابوالفدء عمادالدين، دارالمعرفة/ ۱۴۱۲.

۴۴- تفسیرالقرآن الحکیم (تفسیرالمنار) محمد رشید رضاء دارالمعرفة طبع (و) بی تا.
۴۵- تفسیر بغوي (معالم التنزیل) حسین بن مسعود بغوي شافعي، دارالمعرفة /۱۴۱۳.
۴۶- تفسیر طبري، محمد بن جریر الطبري، دارالفکر، بیروت/ ۱۴۱۵.
۴۷- تفسیر کبیر، فخر رازي، محمد الرازي، دارالفکر/ ۱۴۰۵.
۴۸- تلبیس ابلیس، جمال الدین ابن الجوزي بغدادي، مکتبة المتنبی، قاهره،بی تا.
۴۹- تهذیب التهذیب، احمد بن علي حجر عسقلاني، دارالفکر/ ۱۴۰۴.
۵۰- تهذیب التهذیب، احمد بن علي حجر عسقلاني، دارالکتب العلمة، تحقیق مصطفی عبدالقادر، عطاء/ ۱۴۱۵.
۵۱- تهذیب الکمال في آسماء الرجال، جمال الدین الی ابی الحجاج یوسف المزي، تحقیق بشار عواد معروف، مؤسسه رساله، بیروت/ ۱۴۰۶.
۵۲- حلیة الاولیاء و طبقات الاصفیاء، احمد بن عبدالله، ابونعیم اصفهاني، دارالکتب العلمیة، بیروت/ ۱۴۰۹.
۵۳- حول المهدي، الباني، مقاله چې په مجلة التمدن الاسلامي چاپ دمشق ، ۲۲ شمېره ذوالقعده/ ۱۳۷۱. کښې راغلې.

۵۴- دادگستر جهان، ابراهیم امیني، انتشارات شفق/ **۱۳۷۳** ش.
۵۵- درالمنثور، جلال الدین سیوطي، دارالفکر بیروت، بی تا.
۵۶- دفاع عن الکفافی، ثامر هاشم حبیب العمیدي، مرکز الغدیر للدراسات الاسلامیة/ **۱۴۱۵**.
۵۷- ذخائرالعقبی، احمد بن عبدالله الطبري، عن نسخة دارالکتب المصریة، مکتبة القدسي/ **۱۳۵۲**.
۵۸- روح المعاني، محمود آلوسي ابوالفضل، داراحیاء التراث العربي، بیروت، بي تا.
۵۹- زادالمسیر، جمال الدین عبدالرحمان الجوزي، تحقیق عبدالرحمان، دارالفکر، بیروت/۱۴۰۷.
۶۰- سنن ابن ماجه، محمد بن یزید قزویني، تحقیق محمد عبدالباقي، دارالفکر، بی تا.
۶۱- سنن ابي داؤد، سلیمان بن اشعث السجستاني، تحقیق سید محمد الحلام، دارالفکر/ ۱۴۱۰.
۶۲- شذرات الذهب في اخبار من ذهب، عبدالحی بن المعاد حنبلي، دارالفکر/ **۱۴۰۹**.
۶۳- شرح المقاصد، مسعود بن عمر بن عبدالله تفتازاني، تحقیق ډاکټر عبدالحمان عمیره، منشورات شریف/ **۱۴۰۹**.

۶۴- شرح صحيح مسلم، محى الدين يحيى بن شرف النووي، دارالكتاب/ ۱۴۰۷.
۶۵- شرح نهج البلاغه، ابن ابى الحديد، تحقيق محمد ابوالفضل ابراهيم، دار الجيل/ ۱۴۰۷.
۶۶- صحيح البخاري، محمد بن اسماعيل البخاري، تحقيق حاكم الشماعي الرفاعي، دارالقلم/۱۴۰۷.
۶۷- صفوة التفاسير، محمد علي الصابوريو دارالقرآن الكريم، بيروت، بي تا.
۶۸- صحى الاسلام، احمد اميني طبع عاسره، دارالكتاب العربي، بي تا.
۶۹- عقدالدرر فى اخبارالمنتظر، يوسف بن يحيى مقدسي شافعي، تحقيق ډاکټر عبدالفتاح محمد الحلو، انتشارات مسجد مقدس جمكران/ ۱۴۱۶.
۷۰- عمدة الطالب فى انساب آل ابى طالب، جمال الدين احمد بن علي، انتشارات رضي، قم/ ۱۳۸۰.
۷۱- عمدة القاري شرح صحيح البخاري،محمود بن احمد بدرالدين العينى، داراحياء التراث العربيو بي تا.
۷۲- فتح الباري شرح صحيح البخاري شهاب الدين ابن حجر عسقلاني، دارالمعرفة، بي تا.
۷۳- فتح القدير، محمد بن علي الشوكاني، عالم الكتب، بي تا.

۷۴- فرائد السمطين، ابراهيم بن محمد الجويني، تحقيق محمد باقر محمودي، موسسه محمودي، بيروت/ ۱۴۰۰.
۷۵- فرائد فوائدالفكر فی الامام المهدي المنتظر، مرعي بن يوسف المقدسي الحنبلي تحقيق شيخ سامي الغريري، موسسه معارف اسلامي/ ۱۴۲۱.
۷۶- فيض الباري، محمد انور كشميري، مكتبة حقانيه، پاكستانو بي تا.
۷۷- فيض ا لقدير شرح الجامع الصغير، دارالكتب العلمية/ **۱۴۱۵**.
۷۸- قرآن مجيد با ترجمه آيت الله مكارم شيرازي.
۷۹- كشف الظنون عن اسامى الكتب والفنون (همراه مقدمه ايت الله مرعشي نجفي) داراحياء التراث العربي. بی تا.
۸۰- كفاية الطالب في المناقب، محمد بن يوسف كنجي، تحقيق الاميني، محمد هادي، داراحياء تراث اهل بيت/ ۱۴۰۴.
۸۱- كنزالعمال، على المتقي علاء الدين، تصحيح بكري حياتيو الشيخ صفوة الصفا، مؤسسه رساله، بيروت/ ۱۴۰۹.
۸۲- لوائح الانوار البهية و سواطع الاسرار الاثرية شرح الدرة المضيئة، محمد بن احمد السفاريني الحنبلي، د معجم مهدي فقيه ايماني په نقل سره (الامام المهدي).

۸۳- مجمع الزوائد و منبع الفوائد، على بن ابى بكر هيثمي، دار الكتب العلمية / ۱۴۰۸.
۸۴- مرقاة المفاتيح، على بن سلطان ملا على قاري، تحقيق العطار صدقي محمد دارالفكر/ ۱۴۱۴.
۸۵- مروج الذهب و معادن الجوهر، على بن الحسين مسعودي، عبدالامير على مهنا، مؤسسة الاعلمي المطبوعات/ ۱۴۱۱.
۸۶- مصابيح السنة، حسين بن مسعود بغوي، دارالقلم، بى تا.
۸۷- مصلح جهاني و مهدي موعود از ديدگاه اهل سنت، سيد هادي خسروشاهي، مؤسسه اطلاعات/ ۱۳۷۴.
۸۸- معجم الكبير، سليمان بن احمد الطبراني، تحقيق حمدي عبدالمجيد السلفي، بي تا.
۸۹- مقتل الحسين، موفق بن احمد مكي خوارزمي، مطبعة الزهراء في النجف/ ۱۳۷۲ ق.
۹۰- منهاج السنة النبوية، احمد بن عبدالحليم ابن تيميه، تحقيق سالم محمد ارشاد، مكتبه ابن تيميه/ ۱۴۰۴.
۹۱- مهدي منتظر در انديشه اسلامي، سيد ثامر هاشم العميدي، انتشارات مسجد مقدس جمكران/ ۱۳۸۰.
۹۲- ميزان الاعتدال في نقد الرجال، محمد بن احمد الذهبي، تحقيق علي محمد البجاوي دار المعرفة، بي تا.

۹۳- نظم المتناثر من الحديث المتواتر، محمد بن جعفر الکتانیو دارالکتاب السلفیه، مصر ، بي تا.
۹۴- نورالابصار فی مناقب آل بیت النبي المختار، مؤمن بن حسن مؤمن شبلنجي، دارالحیل، بیروت/ ۱۴۰۹.
۹۵- نوید امن و امان، آیت الله لطف الله صافي، سپهر، قم/ ۱۳۷۵ ش.
۹۶- وفیات الاعیان، احمد بن محمد برمکي ابن خلکان، طبع مصر، بي تا.
۹۷- هدی الساری، احمد بن علي عسقلاني، دارالکتب العلمیة/ ۱۴۱۸.
۹۸- ینابیع المودة، سلیمان بن ابراهیم القندوزي، تحقیق سید جمال الدین اشرف، دارالاسوة/ ۱۴۱۲.

**************

Download from:aghalibrary.cm